# افغانستان
# د ۲۰۱۲ کال شپږ میاشتنی راپور
# په وسله واله جګړه کې د ملکی وګړو ساتنه



Photo: Hoshang Hashimi, Associated Press


د افغانستان لپاره
دملګرو
ملتونومرستندویه پلاوی

دبشري حقونو لپاره دملګرو
ملتونوعالي کميشنري دفتر



کابل،
افغانستان
۲۰۱۲ جولای

## AFGHANISTAN ADMINISTRATIVE DIVISION



# افغانستان
# د ۲۰۱۲ کال شپږ میاشتنی راپور
# په وسله واله جګړه کې د ملکی وګړو ساتنه


دبشري حقونو لپاره دمګرو
ملتونوعالي کمیشنري دفتر

د افغانستان لپاره
دملګرو
ملتونومرستندویه پلاوی



کابل،
افغانستان
۲۰۱۲ جولای

په لومړي مخ تصوير د ۲۰۱۲ کال د اپريل پر ۱۰ سمه نيټه د هرات ولايت په ګذره ولسوالی کي د ولسوالي په انګړ کي د ځان وژونکي برید ښخه وروسته اخستل شوي دي؛ د برید له امله ۱۳ ملکي کسان مړه او ۵۷ نور ټپيان شوه . برید د سهار په ۸:۳۰ بجو هغه مهال رامنځ ته شو چي خلک د هويت تذکرو د اخستلو لپاره په قطار کي ولاړ وو.

**صلاحيت/ واک**

دغه شپږ میاشتني راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو څانګې له خوا په وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه برابر شوي دي چې د ۲۰۱۲ د جنورۍ د لومړۍ ورځې څخه د جون تر دیرشمې نیټې پورې موده رانغاړي.
دغه راپور د یوناما د هغه صلاحیت له مخې تیار شوي دي چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ۲۰۴۱ (۲۰۱۲) پریکړه لیک په اساس ورته ورکړې شوي؛ څو د ملکي کسانو وضعیت وڅاري ، د دوي د ساتنې په موخه هڅې همغږې کړي، حساب ورکوونه تقویه کړي، او د اساسي ازادیو او بشري حقونو په بشپړ ډول تطبیق کې مرسته وکړي چې د افغانستان اساسي قانون او د نړیوالو تړونونو برخه دي چې افغانستان یې غړیتوب لري، په ځانګړي ډول د ښځو د دوي له ټولو بشري حقونو څخه د برخمن کیدلو په اړه هڅې وکړي.
یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواک او بې پلوه ډول د داسې پیښو څارنه چې د ملکي خلکو د وژنې یا ژوبلې لامل ګرځي، د وسله والو ښکېلو ګوندونو سره لابي کول ترڅو په ملکي کسانو د ناوړه اغیزو مخه ونیسي ، د وسله والو ښکېلو ټولو لوریو څخه د اغیزمنو ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ملاتړ فعالیتونه او نور نوښتونه چې په ښکېلو خواوې د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون له احکامو سره مطابقت ته رابولي. دا راپور د بشري حقونو د عالي کمشنري د د فتر د تخنیکي مرستې ترلاسه کولو سره بیا کتل شوي .

## په راپور کې کارول شوي اصطلاح ګاني:

**هوايي برید:** له الوتکي څخه ویشتونکي مهمات چې په هغه کې نږدې هوايي ملاتړ (د الوتکي لخوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکي په مرسته ترسره کیږي راځي. همدارنګه په هوايي بریدونو کې هغه هوايي بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکې یا ډرون یې تر سره کوي.

ABP**:** افغان سرحدي پولیس
**ALP:** افغان سیمه ایز پولیس
**ANA:** افغان ملي اردو
**ANP:** افغان ملي پولیس
**ANSF:** افغان ملي امنیتي ځواکونه، یوه ټولیزه اصطلاح چې افغان سرحدي پولیس، ملي اردو، ملي پولیس او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.
**AXO**: پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي
**تلفات:**وژل شوي او ژوبل شوي ملکي کسان
په دوه ډوله ډله بندي شي:

- **مستقیم**: هغه تلفات دي چې په مستقیم ډول د وسله والي جګړې له امله راپیدا کیږي. لکه داسي تلفات چې د نظامي عملیاتو د تر سره کیدو په ترڅ کې رامنځ ته کیږي (افغان او نړیوال نظامي ځواکونه) د ځان ژغورلو عملیات، هوایي بریدونه، د نیولو او تلاشۍ عملیات، د یاغیتوب ضد یا ترهګرۍ ضد عملیات. دغه راز په دې کې هغه تلفات هم شاملیږي چې د نا دولتي وسلوالو ډلو دفعالیتونو له امله لکه په ښښه شوې وژنې، تعبیه شوي چاودیدونکي توکي او یا له حکومت پلوه ځواکونو سره د مستقیمي ښکلتیا په پایله کې رامنځته کیږي.
- **غیرمستقیم / نور تلفات:** هغه تلفات چې په غیر مستقیم ډول له وسله والي جګړې څخه راپیدا کیږي لکه د جنګې پاتې شویو توکو له چاودنې، په محبسونو کې مړینه، د کافي طبي شرایطو د نشتوالي له امله مړیني چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې پیښیږي او په داسې ځایونو کې چې طبي پاملرنې ته د لاس رسي مخنیوي شوي وي او یا موجود نه وي. په دې تلفاتو کې هغه مړینه هم شامل ده چې د مرګانیو پیښو مسوولیت په پوره اطمینان سره نه شي په ګوته کیداي لکه هغه مرګ ژوبله چې د ډزو د تبادلې په پایله کې رامنځ ته کیږي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم داسې یوه شخص په حیث تعریف شوي چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن هم ماشوم دي). د دې تر څنګ د روم د نړیوالي جزایي محکمې اساسنامې له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړې، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکو کې او یا غیر دولتي ډلو کې شاملول ا و ګمارل، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي د ۸ مادي (۲) (ب)(xxvi ) او ۸ مادي (۲) (ت) (vii).
**ملکي/ خوندي جنګیالي :**د بشرپالني د نړیوال قانون له مخې "ملکي کسان" هغه افراد دي چې په جنګ کې شامل نه وي (نظامي/نیمه نظامي قوتونه نه وي) یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب ونه لري یا هغه کسان دي چې د (عمومي پاڅون)[۱] غړي نه وي. ملکي کسان کیداي شي چې د بریدونو په وړاندې د خوندیتوب تضمین له لاسه ورکړي که چېرې دوي په نښتو کې کې نیغ په نیغه برخه واخلي. د ملکي کسانو په څېر، یو جنګي فرد چې hors de combat وي (ژوبل شوي، ناروغ، د ویجاړ شوي کښتۍ عمله، توقیف شوي یا اوهم تسلیم شوي) یا هغه څوک چې د وسله والو قوتونو په طبي یا مذهبي پرسونل پورې اړه ولري، هم دبرید څخه د خوندیتوب حق لري.

---

۱ عمومي پاڅون ته د ژنیو په دریم تړون کې اشاره شوې '' د یوې ازادې خاورې اوسیدونکي، چې د دښمن په نږدې کېدو سره په یو ناڅاپي ډول وسلې ته لاس کوي چې د تیري کوونکو مخنیوې وکړي، بې له دې چې ددې لپاره وخت ولري چې په منظمو نظامي واحدونو کې تنظیم شي، په دې شرط چې خپلې وسلې په ښکاره وګرځوي او د جنګ قانون او دودونه مراعات کړي." (۴ماده (۱)(۶)".

COMISAF: افغانستان کې د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواکونو قوماندان.

**د EOF پېښې:** د عکس العمل ښودلو پېښې ، چې د ځواک د ساتني پېښي ورته هم وايي. په دې کې داسي حالات شامل دي چي کله ملکي کسان نظامي قطارونو ته د نږدې کیدو یا له هغو څخه د مخکې کیدو په وخت کې د نظامي پرسونل اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي او یا د تلاشي په پوستو کي لاربنوونو ته توجه و نه کړي او تر برید لاندي راشي.

**ERW:** له جګړي څخه چاودیدونکي پاتي شوني په دي مانا ،چي ناچاودل شوي توکي ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي وي.

**ICRC:** د سره صلیب نړیوال کمیټه

**IDP:** داخلي بې ځایه شوي کسان

**IED:** ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي. یو بم چي د دودیزې نظامي طریقي په خلاف په نورو طریقو جوړېږي او کارول کېږي. نوموړي چاودېدونکي توکي کیداي شي د ځانمرګي بم په شکل استعمال شي لکه په ځان پوري تړلي ځاي پر ځاي شوي چاویدونکي توکي (BBIEDs)، دغه راز له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (RCIEDs)، په موټر کي ځاي په ځاي شوي او تعبیه شوي چاودیدونکي توکي (VBIEDs) او د فشار په ذریعه چاودېدونکي وسیلي (PPIEDs) هم په دې ډله کي راځي.

**د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو استثمار:** د ځاي پر ځاي شویو چاودېدنکو توکو استحصال د هغو معلوماتو او موادو د تشخیص، راټولولو، پروسس او خپرولو پروسه ده چي د ځاي پر ځاي شویو چاویدنکو توکو د پیښي له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځاي پرځاي شویو چاودېدنکو ضد پروسیجرونه او میتودنه غښتلیي او د اړوکو منابع کمزوري او د دوي د عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دي کي د ځاي پر ځاي شویو چاودېدنکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخیصونه د تخنیکي، عدلي طب او بایومتریک ازمویني او تحلیل راځي چي د واک لرونکي کارپوهانو له لوري تر سره کېږي. د چاودیدنکو توکو په کار اچونه د د دغو توکو ضد اقداماتو یوه اساسي برخه ده .

**پېښې:** هغه پیښي دي چي په وسله والو جګړو کي ملکي کسانو ته تلفات اړوي. د یوناما په راپوررونو کي هغه تلفات نه دي شامل چي د جنایي پېښو په پایله کې پېښېږي.

**IHL:** د بشر پالني نړیوال قانون

**نړیوال نظامي ځواکونه:** په دي ځواکونو کي ټول بهرني عسکر شاملیږي چي د ایساف او په افغانستان کي د امریکا د ځواکونو (د ازادۍ د پایښت د عملیاتو په شمول) یوه برخه وي او د ایساف د قوماندان COMISAF تر امر لاندي کار کوي. دغه اصطلاح دغه راز په هغو ځواکونو باندې هم د تطبیق وړ ده چي د ایساف د قوماندان تر امر لاندي نه دي، لکه ځیني ځانګړي ځواکونه.

**ټپونه:** د جسماني سختو ژوبلو یا ټپي کیدنو مختلف ډولونه په کي شامليږي. د یوناما په ډیټابیس کي د جسماني ژوبلي درجه نه ده شامله. اروايي یا روحي صدمه یا دماغي جرک پیښي په ژوبلو کي نه دي شاملې.

**آیساف:** په افغانستان کي مرستندویه امنیتي سوله ساتي ځواکونه : ایساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII فصل له مخي د سولي د پیاده کولو ماموریت یا دنده لري. ایساف د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا په امر او صلاحیت ځاي په ځاي کېږي. د ۲۰۰۳ کال په اګست کي د ملګرو ملتونو او د افغانستان د حکومت په غوښتنه د ناتو سازمان د ایساف مشرتابه په غاړه واخیسته. د ایساف قواوي اوس مهال د ۸ دسامبر،۲۰۱۱ پوري (۱۳۰،۳۱۳) تنه سرتیري لري، چي له ۴۹ هیوادونو څخه راغلي او په شپږو سیمه ییزو برخو کي تنظیم شوي، سر بیره پر دي چي مرکز یې په کابل کي دي . د ۲۰۰۸ د نوومبر څخه د ایساف قوماندان په افغانستان کي د امریکایي ځواکونو قوماندان هم دي، که څه هم د مراتبو سلسله بېله پاتي شوي. د امنیت د شورا ۲۰۱۱ (۲۰۱۱) شمیره

پریکړه لیک د ایساف په اړه مخکیني پریکړه لیکونه تصدیق کوي او د ۲۰۱۲ د اکتوبر تر ۳۱ نېټې پورې د نورو ۱۲ میاشتو لپاره د ایساف ماموریت غزوي.

**MOI:** د کورنیو چارو وزارت

**NATO ناټو:** د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان. د ناټو د سازمان غړي هیوادونه د ایساف اساسي مرستندویه هیوادونه دي. ایساف وګورئ.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست. د افغانستان د دولتي استخباراتو اداره

**NGO:** نادولتي سازمان/اداره.

**نا دولتي وسله والي ډلې/دولت ضد عناصر (AGEs):** دولت ضد عناصر. په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو په ضد په وسله واله جګړه کې همدا اوس ښکیل دي. په دې عناصرو کې هغه کسان راځي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او دغه راز اشخاص او ډلې چې بیلا بیل هدفونه لري او تر مختلفو نومونو لاندې راځي لکه د حقاني شبکه، حزب اسلامي او د القاعده متحدین لکه د ازبکستان اسلامي حرکت، د اسلامي جهاد اتحاد، لشکر طیبه او جیش محمد.

**دولت پلوه ځواکونه**

**افغان دولتي ځواکونه:** ټول هغه ځواکونه دي چې په نظامي او نیمه نظامي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر ولکې او اداري لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو، افغان ملي پولیس، افغان سرحدي پولیس، ملي امنیت په شمول نور سیمه ییز امنیتي ځواکونه هم شامل دي.

**نړیوال نظامي ځواکونه (IM Forces)** او نور دولتي ارګانونه

**SOP:** معیاري عملیاتي کړنلاره

**په نښه شوي وژنې** : هغه وژنې دي چې په ارادي ، د مخه سنجول شوي او قصدي ډول د دولت او یا د دولت کارکونکو چې د قانون په چوکاټ کې دنده لري، او یا په وسلواله شخړه کې د منظمو وسلوالو ډلو، لخوا د یو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکي ځواک وکاروي، او هغه شخص د مرتکبینو د فزیکي ساتنې او نظارت لاندې نه وي. سربیره پردې چې په ډیر وختونو کې په نښه شوي وژنه د ژوند د حق څخه سرغړونه ده خو په استثنایي ډول په وسلواله شخړه کې ځینې وخت کیدای شي مشروعیت ولري. د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې، د بشري حقونو شورا څوارلسمي ناستې د آجنډا دریم ټکي، او د محکمې څخه بهر په خپل سر اعدامونو لپاره د ځانګړي راپورټر رپورټ، او د فلیپ آلستون مکمل رپورټ د "د هدفمنو وژنو څیړنه" تر عنوان لاندې وګورئ. A/HRC/14/24/Add.6 د ۲۰۱۰ کال د مې میاشت.

**UNDSS**: د ملګرو ملیتونو د مصؤنیت او امنیت څانګه

**UNAMA:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي

**UNHCR:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنري

**USSOF**: د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه

**UXO:** نا چاودل شوي توکي

# فهرست


میتودولوژي ........ ۸

په نښته کې د ښکیلو خواوو قانوني مسوولیتونه ........ ۸

لنډیز ........ ۱

سپارښتني ........ ۱۰

د دولت ضد عناصر او د ملکي وګړو ساتنه ........ ۱۲

ځاي پر ځاي شوي چاویدونکي توکي ........ ۱۳

ځانمرګي او پیچلي بریدونه ........ ۱۵

د ملکیانو هدفي وژني ........ ۱۶

د یوناما د ۲۰۱۱ کال د ملکیانو د ساتني د راپور په اړه د طالبانو غبرګون ........ ۱۷

بشري حقونو په هغو سیمو کي چې د دولت ضد عناصرو له لوري کنټرولیږي ........ ۱۸

د افغانستان د حکومت کنترول ........ ۱۹

د دولت ضد عناصرو کنترول او نفوذ ........ ۲۰

د بشري حقونو څخه تیري په هغو سیمو کي چې د طالبانو تر ولکي لاندي دي ........ ۲۱

د موازي قضایي جوړښتونه تشکیلونکي عناصر ........ ۲۲

سزاګاني ........ ۲۴

د خوځښت آزادي ........ ۲۵

غیري قانوني مالیات ........ ۲۶

د ملکي کسانو په ساتنه باندي ددولت ضد عناصرو د ګرځنده ځاي پر ځاي کیدو اغیزي ........ ۲۶

د بیان آزادي ........ ۲۶

د اخلاقي لایحي د تطبیق لپاره ګواښونه او حملي ........ ۲۷

روغتیایي اسانتیاوو ته لاسرسي ........ ۲۸

تعلیم ته لاسرسي ........ ۳۰

په معارف کي مداخلي او په معارف باندي حملي ........ ۳۰

تأیید شوي بریدونه ........ ۳۰

هدفي وژني او معارف ........ ۳۱

په جګړي کي د ښکیلو خواو له لوري پر ښوونځیوقبضه ........ ۳۱

په معارف کي نفوذ ........ ۳۲

دولت پلوه ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه ........ ۳٤

د آیساف اعلامیي او تاکتیکي لارښود ........ ۳٤

هوایي بریدونه ........ ۳۵

د تلاشئ عملیات ........ ۳۷

د زیات ځواک کارول ........ ۳۸

افغان ملي امنیتي ځواکونه او د ملکي خلکو ساتنه ........ ۳۹

د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په کار اچونه،لیري کونه، خنثي کونه او پر وړاندي یي مبارزه ........ ٤۰

افغان سیمه ایز پولیس او د ملکي خلکو ساتنه ........ ٤۲

ځغلنده نظر ........ ٤۲

د سیمه ایزو پولیسو له لوري د بشري حقونو څخه تیري؛ او معافیت ........ ٤٤

په سیمه ایزو پولیسو باندي د دولت ضد عناصرو بریدونه ........ ٤۵

افغان سیمه ایز پولیس او هغه کسان چي ځانونه سیمه ایز پولیس بولي ........ ٤۵

هغه نور اقدمات چي د سیمه ایزو پولیسو د کړنو د ښه والي لپاره ترسره شوي دي ........ ٤٦

په زیانمنونکو کسانو د وسلوالي جګړي اغیزي ........ ٤۷

د جګړي له کبله د ملکیانو بي ځایه کیدنه ........ ٤۷

په جګړه پوري اړونده نوري پیښني ........ ٤۷

لومړۍ ضمیمه ........................................................................................................ ٤٩
د طالبانو د ۲۰۱۲ کال د فبروري د پنځمي نیتي له اعلامي څخه د ملکي کسانو د ساتني پیښي او د دغو پیښو مقایسه د یوناما د ډاټابیس او ارقامو سره.......................................................................... ٤٩

## میتودولوژي

یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلي په سیمه کې څیړي ؛له ډېرو سرچېنو سره سلا مشوره کوي او د معلوماتو بیلا بیل ډولونه راغونډوي چې د اعتبار او رښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. د هرې پیښې په څیړنه او تحلیل کې، یوناما زیاته هڅه کوي چې د امکان تر حده پورې له مختلفو منابعو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنترول کړي. په دې لړ کې د عیني شاهدانو او په مستقیم ډول د زیانمن شویو کسانو بیانونو ،نظامي برخه والو (د افغانستان د حکومت او نړیوال نظامي ځواکونو په ګډون) محلي کلي/د ولسوالۍ او ولایت چارواکو، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او هغه معلومات شامل دي چې په مستقیم ډول د ساحې له کتنې څخه او د پیښې له ځای څخه لاس ته راغلي اجناس/مدارک او شواهد او د هغوی فزیکي ازمایښت، له روغتونونو او روغتیایي اسانتیاوو څخه کتنه، ویډیوګانې او تصویرونه، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصوونیت د څانګې او د دې سازمان د نورو ادارو راپورونه، د دویم لاس سرچېنو بیانونه، د خبري رسینو راپورنه او له نا دولتي موسسو او دریم ګړي له خوا راټول شوي معلومات په کې شاملیږي.

تر هغه ځایه چې ممکن وي، تحقیقات د قربانیانو او/ یا د حادثې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځای په پلټنو ولاړ وي. په ځینو وختونو کې، د امنیتي ستونزو و له امله لاس رسي محدود وي، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي، په داسې وختونو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې د امکان تر بریده د پراخه معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي او د اعتبار اوباور له مخې یې کره کړي.

کله چې یوناما د یوې پیښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي، د هغې پیښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي څو اونۍ وخت ونیسي، مخکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږي. دا پدې معنی ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې نوي معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورڅخه کار اخستل کیږي . په کوم ځای کې چې معلومات ښه څرګند نه وي، نتیجه ګیري نه کیږي څو چې نور اعتباري او قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي او له دې څخه پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شامیلیږي.

د ځینو پېښو په راپور کې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابتیدلای او یا لانجه من ټکي وي، په داسې قضیو کې، یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګڼي چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګي یا ملکي کس دي. بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو پر بنیاد ارزول کیږي. که چیرې د یوه یا څو قربانیانو هویت څرګند نه وي، د وژنې دغه ډول پیښې د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې په عمومي شمیر کې نه شاملیږي.

په وسله والو شخړوکې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د راپور ورکولو او تحلیل لپاره یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایي ډیټابیس پرانیست. ډیټابیس داسې طرح شوي دي چې د معلوماتو سیستماتیکه، یوشان او اغیزمنه ټولونه او تحلیل اسانه کوي؛ چې د جنس، عمر، مرتکب، تاکتیک، او نورو اړخونو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

یوناما تر ممکنه بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلي پیښې کره او مسؤل لوري په مشخصه توګه په ګوته کړي. د عملیاتو په ډګر کې د ستونزو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت، او د لومړنیو سرچېنو ناتوانې چې په ډیرو قضیو کې نه شي کولای د بیلا بیلو نظامي برخه والو/ دولت ضد وسلوالو په منځ کې توپیر وکړي، او کله چې هیڅ یوه خوا د یوې پیښې مسوولیت نه وي منلي، یوناما د یوې خاصې پیښې مسوولیت یا خو دولت پلوه او یا دولت ضد عناصرو ته منسوبوي. یوناما ادعا نکوي چې په دغه راپور کې شمیري بشپړي دي؛ د کار په چاپیریال کې د محدویت په نظر کې نیولو سره کیدایشي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پوره راپور نه وي ورکړی.

### په نښته کې د ښکیلو خواوو قانوني مسوولیتونه

یوناما په دې باور ده چې په افغانستان کې وسله واله جګړه یوه غیري نړیواله وسله واله جګړه ده چې د افغانستان د دولت، او د هغه د وسله وال فوځ چې د نړیوالو نظامي ځواکونو ملاتړ ورسره دي (په دې راپور کې او په

افغانستان کې "دولت پلوه" ځواکونه بلل شوي دي) او د غیر دولتي وسله والو ډلو (په دې راپور او په افغانستان کې "د دولت ضد عناصر" ګڼل شوي چې طالبان ، حقاني شبکه ،حزب اسلامي او داسي نور پکښې شامل دي) ترمنځ روانه ده.

لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شوراي د دي شوراي ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک کې تاکید کړي دي چې دا د ټولو دولتونو لپاره بنیادي او اساسي اړتیاده چې باید د ښځو او نجونو په برخه کې ټول مربوط نورمونه او د بشر پالني نړیوال قانون او بشري حقونو قوانین تطبیق کړي، او ځانګړي اقدمات ترسره کړي ترڅو په وسله واله جګړه کې د جنسیت پر بنسټ تاو تریخوالي څخه د ښځو او نجونو ساتنه وکړي.[۲]

د نړیوال قانون له مخې په وسله واله شخړه کې ټولي ښکیلي خواوي (افغان وسله وال ځواکونه، نړیوال نظامي ځواکونه، او نا دولتي وسله والي ډلي) ښکاره مکلفیتونه لري چې د ملکي کسان ساتنه وکړي.

---

[۲]. S/RES1960 (2010)؛ او همدا شان S/RES1820 (2008)، S/RES1888 (2009)، S/RES1889 (2009)، او S/RES1960 (2010) ته دي مراجعه وشي.

## (i) د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د څلور ګونو تړونونو ګډه دریمه ماده حد اقل معیارونه ټاکي چې دولتي او غیر دولتي وسله والې ډلې یې باید په داخلي وسله واله نښته کې مراعات کړي.

افغانستان د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو تړونونو او د ۱۹۷۷ کال[3] د ژنیو د مل دویم پروتوکول غړي هیواد دي، دغه تړونونه او دوهم پروتوکول په غیري نړیواله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه کوي. دغه پروتوکول د ملکي کسانو په وړاندې او د هغو اجناسو په ضد حملې منع کوي، چې د ملکي کسانو د بقاء لپاره ضروري ګڼل کیږي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنیو د څلورګونو تړونونو او د مل پروتوکولونو څو اصول د نړیوال دودیز قانون[4] برخه ګرځیدلې ده او تر ټولو زیات اړونده اصول چې افغان نظامي ځواکونه ، نړیوال نظامي ځواکونو او غیر دولتي وسله والې ډلې یې د داخلي وسله والې نښتې د ښکیلو خواوو په څیر باید مراعات کړي دا دي:

- تشخیص: ملکي وګړي په عمومي ډول او ملکي انفرادي اشخاص باید تر برید لاندې رانه شي.[5] "[ښکیلې خواوې] باید په هر وخت کې د ملکي خلکو او جنګیالیو او د ملکي او نظامي هدفونو ترمنځ توپیر وکړي."[6]

- تناسب: "هغه برید منع دي چې کیدایشي په تصادفي ډول د ملکي کسانو د وژنې، ژوبلې، د دې دواړو سبب وګرځي او ښایي د هغو مشخصو او مستقیمو نظامي بریاوو په پرتله ډیرې زیاتې وي چې له برید څخه یې تمه کیږي."[7]

- په برید کې احتیاط: "ملکي کسان باید په عمومي ډول د نښتې له خطرونو څخه په امن کې وساتل شي."[8] په نظامي عملیاتو کې په پرلپسې ډول باید دې ته پاملرنه وشي چې ملکي خلک تلف نه شي او ملکي شیانوته زیان ونه رسیږي. او په پوره ډول ممکن احتیاط وشي چې " د ملکي کسانو د تصادفي تلف کیدلو، ملکي شیانو ته د زیان رسیدلو او د ملکي وګړو د ژوبل کیدلو څخه مخنیوي کیږي."[9]

ټول هیوادونه چې اوس مهال په افغانستان کې له نړیوالو نظامي ځواکونو سره مرسته کوي، لکه په افغانستان کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ایساف) د امریکا ځانګړې قواوې، د ازادی د پاینت د عملیاتو غړي ځواکونه یا هغه ځانګړي ځواکونه چې د قوماندې د دغو جوړښتونو له حدودو څخه بهر فعالیت کوي د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو تړونونو غړي هیوادونه دي. که څه هم ټول هغه هیوادونه چې افغانستان ته یې نظامي ځواکونه استولي دي د ۱۹۷۷ کال مل لومړي اودوهم پروتوکولونو غړي نه دي، خو د دې سره د هغو اصولو په مراعت کولو مکلف دي چې د نړیوال دودیز قانون برخه ده.

## (ii) د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه

د بشري حقونو نړیوال قانون هم د وسله والې نښتې او هم د سولې په وخت کې د تطبیق وړ ګڼل کیږي. د بشري حقونو نړیوال قانون د بشر پالنې د نړیوال قانون سره یو ځای په تکمیلوونکي او یو د بل پیاوړي کوونکي توګه د تطبیق وړ دي.

---

۳ افغانستان د ۲۰۰۹ د نوومبر په ۱۰ د ۱۹۷۷ کال دویم اضافي پروتوکول تصویب کړ چې د همدې کال د ډسمر په ۲۴ نافذ شو.
٤ دغه مسله د نړیوال سره صلیب د کمیټې له خوا هم تایید شوې چې وییل شوي چې د ژنیو د څلورو تړونونو او لومړي اضافي پروتوکول څو قاعدې د بین المللي عرفي قانون په څیر منل شوي او د دغو اصولو ډیري په نړیواله او داخلي وسله واله نښتو کې مراعات کیږي. (د نړیوال سره صلیب کمیټه، د بشرپالنې نړیوال عرفي قانون، ایډیټ: جان ماري - هینکارټس او لوییز دوسوالد بیک (سي یو-پي/آي سي آر سي- ګامبریج- ۲۰۰۵
٥ اضافي دویم پروتوکول، ۱۳ (۲) ماده.
٦ اضافي لومړي پروتوکول ۴۸ ماده. وګورئ ۵۱ (۲) ماده چېرې چې ملکي کسان باید د برید هدف ونه وګرځي او ۵۲ (۲) ماده چېرې چې "بریدونه باید یوازې په نظامي هدفونو پورې محدود پاتې شي."
۷ اضافي لومړي پروتوکول ۵۱ ماده (۵) (ب) وګورئ په بریدونو کې د احتیاط په اړه ۵۷ ماده.
۸ دویم اضفاي پروتوکول ۱۳ ماده (۱)
۹ لومړي اضافي پروتوکول ۵۷ ماده (۱) او ۲ (الف) ii

افغانستان د بشري حقونو څو نړیوال تړونونه لاسلیک کړي دي،[۱۰] چې په هغو کې د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون (آي سي سي پي آر) شامل دي او د افغانستان دولت په دې مکلف کوي چې په خپل قلمرو یا د دولت د حاکمیت په ساحه کې ټولو اوسیدونکو د بنسټیزو بشري حقونو ساتنه وکړي.

سره لدې چې په افغانستان کې نا دولتي فعالي ډلې، د غیر دولتي وسله والو ډلو په ګډون، نه شي کولای په رسمي ډول د بشري حقونو دنړیوالو تړونونو غړي شي؛ خو د بشري حقونو نړیوال قوانین په زیاتیدونکي توګه دا حکم کوي چې په هغو سیمو کې چې طالبان عملاً کنټرول لري، دوي د نړیوالو بشري حقونو د مراعات کولو مکلفیت په غاړه لري.[۱۱]

## (iii) د نړیوال جنایي قانون په وړاندې مکلفیتونه

افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې د روم نړیوالي جنایي محکمې اساسنامه تصویب او له هغې سره یو ځای شو. له دې امله افغانستان لومړنی مسوولیت لري چې د نړیوالو جرمونو په اړه تحقیق وکړي؛ لکه جنګي جرمونه، د بشریت ضد جرمونه او نسل وژنه، او د خپلو محاکمو په صلاحیت کې هغه تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي. که افغانستان ونه شي کولای او یا و نه غواړي چې دغه کار وکړي، نړیواله جنایي محکمه کولای شي په افغانستان کې خپل صلاحیتونه عملي کړي.

هغه دولتونه چې نظامي ځواکونه یې په افغانستان [۱۲]کې د نړیوالو نظامي ځواکونو په لیکه کې شامل دي او د افغانستان د شخړې یوه خوا ده او د بین المللي جنایي محکمې اساسنامه یې لاسلیک کړې ده، مسوولیت لري چې هغه جرمونه تحقیق او تعقیب کړي چې د جنایي محکمې د قضاوت په ساحه کې وي او د دوي اتباع په افغانستان کې ددغو جرمونو په ارتکاب تورن وي. په ځانګړي توګه دولتونه مکلف دي چې د نړیوالي جنایي محکمې د اساسنامې ۸ (۲) (اي) (آي) مادې څخه سرغړونه تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي. دغه ماده وایي "په قصدي ډول په عام ولس یا انفرادي اشخاصو باندې چې په مستقیم ډول په شخړو کې بنکیل نه وي مخامخ برید کول" په داخلي وسله والو شخړو کې جنګي جرم ګڼل کیږي."

## IV. د ملي قوانینو په وړاندې مکلفیتونه

دولت ضد عناصرو غړي د افغانستان د جنایي قوانینو له مخې د عدلي تعقیب وړ دي. د افغانستان حکومت د نظامي ځواکونو او د نړیوال نظامي ځواکونو غړي د دوي د خپلو دولتونو د ملي قوانینو د نقض له امله پر حساب ورکولو مسؤل دي.

## د ملکیانو/محفوظو جګړه مارو تعریف

یوناما د ملکي وګړو لپاره یو تعریف کاروي او تطبیقوي چې د نړیوال قانون سره سمون خوري. په افغانستان کې د وسله والي شخړې نورې خواوې او فعالان د ملکي وګړو لپاره خپل خپل تعریفونه جوړوي چې په لاندې برخه کې به توضیح شي.

### یوناما

---

۱۰ افغانستان د بشري حقونو د بین المللي لاندنیو تړونو او معاهدو یو غړي هیواد دي: د مدني او سیاسي حقونو نړیوال تړون په ۲۴ اپریل ۱۹۸۳؛ د اقتصادي اجتماعي او کلتوري حقونو تړون ۲۴ اپریل ۱۹۸۳؛ د نژادي تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو بین امللي تړون، ۵ اګست ۱۹۸۳؛ د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو تړون، ۵ مارچ ۱۹۸۳؛ د شکنجې او نورو توهینوونکو او غیر انساني جزا او چلند د منع کولو تړون، ۲۶ جون ۱۹۸۷؛ د ماشوم د حقونو تړون، ۲۷ اپریل، ۱۹۹۴؛ او دماشومانو د حقونو ، دماشومانو د پلورلو، د ماشومانو د فحاشۍ او د پورنوګرافۍ د منع دکنوانسیونو اختیاري بروتوکول، ۱۹ اکتوبر کال ۲۰۰۲؛ او په وسله واله جګړه کې د ماشوم ګډون په باب د تړون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴ تصویب شوي دي. منبع :
http://www.aihrc.org.af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party.html

۱۱ د ملګرو ملتونو عمومي سر منشي، په سریلانکا کې د حساب ورکونې په اړه د عمومي منشي د کارپوهانو د پلاوي راپور ۲۰۱۱، ۳۱ مارچ پاراګراف ۱۸۸. دغه راز وګورئ د لیبیا په عربي جمهوریت کې د بشرپالنې د بین المللي قانون د نقض په اړه د څیړنو د بین المللي کمیسیون د تحقیقاتو راپور A/HRC/17/44 ۱ جون ۲۰۱۱.

[۱۲]بې د دې په نظر کې نیول سره چې دولتونه د نړیوالي جنایي محکمې غړي دي او که نه دي، دوي بیا هم مکلفیت لري چې د بشري حقونو او دبشر پالنې نړیوال قانون څخه سختې سرغړونې تحقیق وکړي.

یوناما د ملکي کسانو لپاره هغه تعریف کاروي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون په معیارونه برابر دي. د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي" هغه څوک دي چې جګړه مار نه وي، (د نظامي/ نیمه نظامي ځواکونو غړي) یا د منظمو وسله والو ډلو غړي چې د شخړې بوه خوا دي، او هغه کسان چې د عمومي قیام[13] برخه نه وي. یو ملکي کس هغه وخت او دهغې مودې په ترڅ کې خپل موقف له لاسه ورکوي چې په وسلواله شخړه کې په مستقیم ډول برخه واخلي.

د بشرپالنې نړیوال قانون په شخړه کې له ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کوي چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې تل د ملکي کسانو او جګړه مارو ترمنځ تشخیص وکړي. هغه کسان چې په شخړه کې برخه نه اخلي یا له دې وروسته په شخړه کې برخه نه اخلي خوندي دي او باید برید ور باندې ونه شي. لکه د ملکي کسانو په څیر، هغه جګړه مار چې (ژوبل شوي، ناروغه ، ویجاړه شوي کښتۍ عمله، توقیف شوي یا تسلیم شوي وي) یا هغه کسان چې د وسله والو ځواکونو د روغتیایي یا مذهبي پرسونل برخه وي د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې له بریدونو څخه خوندي دي.

د افغانستان په وسلواله شخړه کې دغه راپور د خلکو د بیلا بیلو کټګوریو په وړاندې بریدونه مستند کوي چې په جګړو کې په مستقیم ډول برخه نه اخلي لکه د عامه خدمتونو کارمندان، ښوونکي، د روغتیایي کلنیکونو کارمندان او په عامه خدمتونو کې شامل کسان، سیاسي مشران او د دفترونو خاوندان، د نا دولتي موسسو کارمندان او د ملکي پولیسو پرسونل چې د جګړه مارو په څیر وظیفې نه تر سره کوي او دولت ضد عناصرو پر ضد عملیاتو کې برخه نه اخلي.[14]

## د دولت ضد عناصر /طالبان

طالبانو په عمومي ډول په خپلو اعلامیو کې ویلي دي چې ځینې داسې کسان چې په قانوني ډول د "ملکي" اشخاصو په جمله کې راځي تر برید لاندې راولي؛ دغه عمل د بشرپالنې نړیوال قانون سره مغایرت کې دي.

په ۲۰۱۱ کال کې طالبانو د ګڼ شمیرملکي کسانو په نښه شویو وژنو ادعا وکړه چې په دې ډله کې دولتي مامورین ، قومي مشران، دولتي کارمندان، قراردادیان، چلوونکي، ژباړونکي او نور داسې ملکي کسان چې د دوي په عمومي لستونوکي شامل دي او باید وژل اویا ونیول شي[15]. طالبانو د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په میاشت کې د دولت د لوي جرګې د راغوښتلو په غبرګون کې هغه ملکي کسان چې په لویه جرګه کې ونډه اخستله او یا د دولت سره یې تړاو درلود د مشروع هدف په توګه وپیژندل.

*اسلامي امارت هرهغه چاته چې غواړي په دغه تش په نامه لویه جرګه کې برخه واخلي خبرداري ورکوي چې دغه وطن پلورونکي ځیرې به دهیواد په ګوټ ګوټ کې داسلامي امارت دمجاهدینو لخواتعقیب اوله سخت غبرګون سره مخ شي. په دې اړه دهیواد پیاوړو علماؤ خپله فیصله کړې ده او هرځاي چې ددې غونډې ګډون کونکي د مجاهدینو لاسته ورشي دملي خاینینو په توګه به چلند ورسره وشي .اسلامي امارت خپلوبهادرو او سرښندونکو مجاهدینوته هم سپارښتنه کوي چې دهیواد په هرځاي کې ددغې غونډې دامنیت ساتونکي ، تابیا کونکي ، ګډون کونکي ، اودعوت چلونکي ترخپلوکارنده بریدونو لاندې راولي[16].*

13 د ۵۰ مادي لومړي پاراګراف د لومړي پروتوکول د ژنیو د کنوانسونونو لومړي پراګراف سره مقایسه کړئ. وګورئ: نایلز میلځر، "د بشرپالنې د بین المللي قانون لاندې په دښمنیو کې د مستقیمي برخې اخیستنې په اړه لارښوونې." ۲۰۰۹، ا جولای.

14 یوناما هغه پولیس افسران جنګي افراد ګڼي چې په مستقیم ډول په نښتو کې برخه اخلي. په دې کې د افغانستان ملي پولیس، محلي پولیس، سرحدي پولیس شامل دي چې په معمول ډول د یاغیانو ضد فعالیتونو کې برخه اخلي، خو که داسې شواهد پیدا شي چې د هغې په خلاف وي. یوناما د افغانستان ترافیک پولیسو او نور پولیس افسران، چې یوازې د ملکي پولیس وظیفې اجراء کوي د جنګي افرادو په توګه نه پیژني.

15 د یوناما ملکي کسانو د ساتنې د ۲۰۱۱ کال شپږمیاشتني راپور وګوري.پاراګراف iv-iv د طالبانو د ۲۰۱۰ کال لایحه او د ۲۰۱۱ کال د اپریل د ۳۰ نیټې د پسرلي عملیات چې د ملکي اهدافو لست یې د افغانستان د کابینې ، پارلمان او سولې شورا تر غړو پراخه کړه.

16 د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر د ۲۶ نیټې د راتلونکي لوي جرګې په اړه د اسلامي امارت د ویاند وینا

په قصدي ډول د دغو ملکي کسانو په نښه کول او وژل د بشرپالني د نړیوال قانون نه سرغړونه ده. د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې یوازې نظامي هدفونه د برید لپاره مشروع هدفونه دي. ملکي کسان مشروع نظامي هدفونه نه دي تر هغو چې دوي په مستقیم ډول په جګړه کې برخه نه وي اخستې.

**ایساف**

د یوناما د غوښتني پر اساس ایساف د ملکي کسانو تعریف لاندي برابر کړي ده چې د معیاري عملیاتو د ۳۰۷ اي ډي ۳ شمیري پروسیجر لخوا منل شوې ده.

*د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي" کسان هغه څوک دي چې جګړه مار نه وي؛ (د نظامي/ نیمه نظامي ځواکونو غړي) یا د منظمو وسله والو ډلو غړي چې د شخړې یوه خوا او هغه کسان چې د عمومي قیام برخه نه وي. یو ملکي شخص کولاي شي چې خپل موقف له لاسه ورکړي که چېرې دا په وسلواله شخړه کې مستقیمه برخه واخلي خو د ملکي خلکو هویت بیا ځل هغه وخت لاس ته راوړي چې* hors de combat *شي (لکه ژوبل شوي، ناروغه ، ویجاړه شوې کښتی عمله، توقیف شوي یا تسلیمیدونکي کسان وي) او نور په جګړه کې فعاله ونډه نه اخلي. ملکي خلک د دوي د تړاو له امله د نور تحلیل په موخه د ملکي مرګ ژوبلي د کمښت ټیم لخوا نور هم تفکیک کیږي*[17].

[17] د آیساف د ملکي افرادو د مخ نیونکي ټیم سره د ۲۰۱۲ کال د جنوري په نهمه نیټه د بریښنالیک

## لنډيز

*زما مېرمنه، زموږ ځلور ماشومان، زما د ورور مېرمنه او د هغې دوه ماشومان د ولسوالی د دفتر مخته په تمه وو ترڅو د تابعیت تذکره واخلو. له خپلې مېرمنې څخه مې وغوښتل چې دروازې ته لنډه پاته شي او زه دفتر ته د ننه لاړم چې وګورم د احصایې مامورين کار ته راغلي دي. د يوې زوروری چاودنې غږ مې واورېد او بېرته مې د دروازې خواته منډه کړه. خلک مې ولیدل چې په وينو کې پر ځمکه پراته وو. ما ولیدل چې زما يوه لور وژل شوې او زما دوه نورې لوڼې او مور يې ټپیانې دي. پوليسو مرسته وکړه چې زما لوڼې او مېرمنه په موټر کې واچوم او روغتون ته يې ورسوم.*

(يوناما ورسته تأيد کړه چې د شاهد بله لور ورسته په روغتون کې د خپلو ټپونو له کبله مړه شوه.)[18]

- د دوو نجونو پلار د ځای پر ځاي شويو چاودېدونکو توکو په چاودنه کې چې د کنړ ولسوالی د ولسوال په دفتر کې رامنځته شوه ووژل شو. په دغه چاودنه کې ټول ۱۳ ملکیان ووژل شول او ۵۷ نور ټپيان شول. د هرات ولايت، ۱۰ اپريل ۲۰۱۲.

د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې وسله والي جګړې په افغانستان کې د ملکي وګړو په ژوند زياتي غمجني اغيزې پرې ايښې دي. د ۲۰۱۲ کال د جنوري له اولي بيا د جون تر ۳۰ پورې وسله والي تاوتريخوالي ۱۱۴۵ ملکيان وژلي او ۱۹۵۴ نور يې ټپيان کړي دي چې د ۲۰۱۱ کال د همدې مودې په پرتله ۱۵ سلنه کموالي څرګندوي. د ۲۰۱۱ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې يوناما ۳۶۵۴ (۱۵۱۰ ملکيان وژل شوي او ۲۱۴۴ نور ټپيان شوي) ملکي مرګ ژوبله ثبت کړي وه .[19] د ملکي وګړود مرګ ژوبلې دغه کمښت د پنځو کلونو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې تدريجي ډيرښت په معکوس ډول ښيي. په هر حال، يوناما انديښنه څرګندوي چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله د ۲۰۱۰ کال په پرتله اوس هم په لوړه کچه ده. په ۲۰۱۰ کال کې يوناما ۳۲۶۸ (۱۲۷۱ملکي کسان وژل شوي او ۱۹۹۷ملکي کسان ټپيان شوي وو) ملکي مرګ ژوبله ثبت کړي وه.

يوناما د ۲۰۱۲ کال د جنوري له لومړۍ بيا د جون تر ديرشمي پوري ټولټال د ۹۲۵ ښځو او ماشومانو وژنه او ټپي کيدنه ثبت کړې ده، چې د ټولي ملکي مرګ ژوبلي ۳۰ سلنه تشکيلوي.[20] د ښځو او ماشومانو مرګ ژوبله د ۲۰۱۱ کال د لومړۍ نيمايي به نسبت يو سلنه زياتوالي موندلي دي.[21] ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي د ځمکنيو عملياتو تر څنګ په جګړه کې د ښځو او ماشومانو د مرګ لومړنی سبب بلل شوي دي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کميشنري د ۲۰۱۲ کال د جون تر ديرشمي پوري د جګړې له کبله ټولټال د نږدي ۱۱۴۹۰۰ کسانو بې ځايه کيدل په افغانستان کې ثبت کړي دي چې د دې جملې څخه ۱۷۰۷۹ کسان په ۲۰۱۲ کال کې بې ځايه شوي دي. د تېر کال د همدې مودې په نسبت په ۲۰۱۲ کال کې د جګړې له کبله د بې ځايه شويو کسانو شمېر ۱۴ سلنه زيات شوي دي.

د ملکي مرګ ژوبلې ۸۰ سلنه د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي، ۱۰ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوبيږي او يوناما ونشواې کولاې چې د پاتې ۱۰ سلنه مرګ ژوبلي پيښنو مسؤليت په جګړه کې کوم لوري ته منسوب کړي.

---

[18] د يوناما سره مرکه، د هرات روغتون، د هرات ولايت، ۱۱ اپريل ۲۰۱۲

[19] د ۲۰۱۱ کال د لومړيو شپږو مياشتو د مړيني شمره (۱۴۶۲) د غازي اباد د پيښي ۴۸ تنه مړي نه رانغاړي چې د ۲۰۱۱کال د فبروري په ۱۷ د کنړ ولايت په غازي اباد ولسولي کې د هوايي بمباري له امله رامنځته شوه. د هوايي بمباري برخه وګوري.

[20] يوناما د ۵۷۸ ملکي مرګ ژوبله ثبت کړي ده چې ماشومان وو (۲۳۱ ماشومانو وژني او ۳۴۷ نورو ټپي کيدنه) او ۳۴۷ ښځو مرګ ژوبله ثبت کړې ده (۱۱۸ ښځو وژني او ۲۲۹ نورو ټپي کيدنه).

[21] د ۲۰۱۱ کال د جولاي او ډيسمبر په منځ کې د ۱۱۳۹ ښځو او ماشومانو مرګ ژوبله په دغه موده کې د ټولټال ملکي مرګ ژوبلي ۲۹ سلنه تشکيلوي.

**له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پورې (له جنورۍ څخه بیا تر جون پورې ــ د کال لومړی شپږ میاشتې) د ملکي خلکو وژنې د کلونو په اساس**




یوناما د جګړې په ښکیلو خواو غړ کوي چې په پوره توګه خپل حقوقي تعهدات پرځای کړي تر څو ملکي مرګ ژوبله کمه او ملکي ټولني له زیان څخه خوندي شي. یوناما د دولت ضد عناصرو له لوري د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو کارونه محکوموي او غوښتنه کوي چې بې تبعیضه تاکتیکنو لکه د ځاي پر ځاي شوي چاودیدنکو توکو ــ د فشار له امله چاودنه کوي ــ کارونه ژر تر ژره ودرول شي. همدارنګه یوناما د دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چې ژر تر ژره هدفي وژني ودروي.

سره لدې چې نړیوالي ټولني په پراخه توګه تعهد ښکاره کړي او په تیره لسیزه کې زیات پرمختګ شوي خو د افغانستان خوځښت د سولې او ثبات په لوري نا مکمل دي. یوناما د افغانستان په دولت غړ کوي چې د ناټو/ایساف او نړیوالي ټولني په مرسته هڅه وکړي ترڅو افغان ملي ځواکونه په موثره توګه ورزل شي، تجهیز او ملاتړ یې وشي تر څو په موثره توګه د جګړې له زیانونو څخه د ملکیانو ساتنه وکړي. او همدارنګه دا توان ولري چې په موثره توګه له تاوتریخوالي څخه مخنیوي وکړي او د وسلوالي جګړې پوري تړلو ګواښونو په وړاندي ټولنه وساتي. نور لازم تدابیر باید ترسره شي تر څو له ملکي خلکو، ټولنو او اساسي بشري حقونوڅخه ساتنه وشي. دغه ریپوټ تر نشر مخته د افغانستان له حکومت سره شریک شو او هغوي خپله ژمنه تکرار کړه چې د جګړې له زیانونو څخه به د ملکیانو ساتنه کوي.




## د دولت ضد عناصر او د ملکي خلکو ساتنه

د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې ۸۰ سلنه ملکي مرګ ژوبله د دولت ضد عناصرته منسوب شوې چې ۸۸۲ ملکي کسان یې وژلي او ۱۵۹۳ نور یې ټپیان کړي دي. دا د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله د دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ملکي مرګ ژوبلې ۱۵ سلنه کمښت ښیي.[22] د ۲۰۱۱ کال په همدغه موده کې یوناما د ۱۱۶۷ ملکي خلکو وژنه او ۱۷۶۰ نورو ټپي کیدنه ثبت کړي وو. یوناما یو ځل بیا د بې تبعیضه تاکتیکونو په اړه خپله اندیښنه په ډاګه کوي چې د دولت ضد عناصر کار ترې اخلي.

ځاي پر ځاي شوي چاودیدنکي توکي د ملکي کسانو لپاره د یو ستر ګواښ په توګه پاته شوي دي . د دولت ضد عناصر د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو بې تبعیضه او غیري قانوني کارونې ته ادامه ورکوي. د ۲۰۱۲ کال د جنوري د میاشتې د لومړي نیټې څخه بیا د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې ځاي پر ځاي شوو چاودیدنکو توکو د ۳۳ سلنه ملکي وګړو مرګ ژوبله پیښه کړې ده چې ۳۲۷ تنه ملکیان یې وژلي او ۶۸۹ نور یې ټپیان کړي دي. د هغو تاکتیکونو په پام کې لرلو سره چې ځاي پر ځاي شوي چاودیدنکي توکي پکښې کاریږي لکه ځانمرګي او پیچلي بریدونه،[23] د ځاي پر ځاي شوي چاودیدنکو توکو تاکتیکونو ټولټال ۵۳ سلنه ملکي مرګ ژوبله د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې رامنځته کړې ده. ملکي مرګ ژوبله په اکثره مواردو کې چې د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو له امله رامنځته شوې یوناما مشاهده کړې چې ځاي پر ځاي شوي چاودیدنکي توکي د کوم خاص نظامي هدف لپاره ندي کارول شوي. د بیلګې په ډول د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو ځاي پر ځاي کول په هغو سړکونو باندې چې په منظم ډول د ملکیانو لخوا کاریږي دا په ډاګه کوي چې د چاودیدنکو توکو تاثیرت کیدایشي محدود پاته نشي او یا هم هدف په هغه شان په نښه نشي چې د بشر پالنې نړیوال قانون یې غوښتنه کوي. د افغانستان د قوانینو په روڼا کې د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو کارونه د دولت ضد عناصرو له لوري همیشه یو جرمي عمل دي او د ۲۰۱۲ کال کې د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو زیاتې پیښې چې ملکي مرګ ژوبله یې رامنځته کړې دي جنګي جرمونه بلل کیدایشي.

د دولت ضد عناصرو له لوري د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي کسانو په هدفي وژنو کې چې د دولت ضد عناصرو لخوا ترسره کېږي ۵۳ سلنه زیات والې راغلی دي. د ۲۰۱۲ کال د جنوري د لومړی نیټې

[22] څلورویشت سلنه کمښت د ملکي خلکو په مړینه کې او نهه سلنه کمښت د ملکي خلکو په ژوبله کې

[23] یوناما پیچلي حملې داسې تعریفوي- هغه حملې دي په قصدي او همغږي توګه ترسره کیږي چې په هغه کې په ځان پورې تړلي ځاي پر ځاي شوې چاودیدنکي توکي او په موټر کې ځاي پر ځاي شوې چاودیدنکو توکي شامل وي او تر یو نه ډیر حمله کوونکي او تر یو نه ډیر چاودیدونکي توکي پکې کاریږي. دغه دري عناصر باید وجود ولري ترڅو یو حمله پیچلي حمله وبولو.

ځخه بیا د جون د میاشتي تر ۳۰ نیټي پوري د ۲۳۷ هدفي پیښو په نتیجه کې ۲۵۵ ملکیان وژل شوي او ۱۰۱ نور ژوبل شوي دي. د ۲۰۱۱ کال په همدي موده کې ۱۹۰ ملکي کسان وژل شوي وو او ۴۳ نور یې ژوبل شوي وو. د دولت ضد عناصر و قومي مشران، حکومتي چارواکي او ملکي کسان چې د نړیوالو سره ملاتړي دي او یا هم ورباندي د ملاتړ ګومان شوي ده په دوامداره توګه په نښه کړي دي. دغه عملونه د بشر پالني د نړیوالو دودیزو قواعدو ځخه تیرې بلل کیږي چې په هغه کې په سریح ډول راغلي چې په ملکیانو باندي باید په نیغه توګه بریدونه ونشي.[۲٤]




## د تولني له نظره: بشري حقونه په هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصرو لخوا کنترولیږي

په امنیتي حالت کې تغیرات چې پدې راپور کې ذکر شوي دي او د نړیوالو ځواکونو ځخه افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسولیتونو د سپارلو د پروسي په نظر کې نیولو سره د خلکو نظریات د امنیت، حکومتدارۍ او ساتني په اړه د دي راپور سره ډیر ارتباط لري؛ په ځانګړي توګه په هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصر نفوذ لري. دغه نظریات د خلکو په احساس پوري چې دوي ځنګه ځانونه خوندي احساس کوي او د خوځښت اذادي، سیاسي ګډون، تعلیم او روغتیا له حقونو ځخه کار اخلي.

یوناما په افغانستان کې د ۹۹ جنګ ځپلو او لیرو پرتو ولسوالیو[۲٥] له تولنو سره سلامشوري وکړي ترڅو د دوي نظرونه د دولت ضد عناصرو د نفوذ په اړه واخلي او تاثیرات یې د بشري حقونو د ساتني لپاره و ارزوي. یوناما یو لاس بیانونه ترلاسه کړل چې د حکومت محدود واک په دغو سیمو کې د دولت ضد عناصر پدې قادر کړي دي ترڅو له بشري حقونو ځخه تیري وکړي او له جزا ځخه په معافیت کې ژوند تیر کړي. د بشري حقونو په دغو تیریو کې وژنې، د وجود د یوه غړي پریکونه، تښتونه او وهل ټکول راځي چې د بشري حقونو لکه د بیان د اذادی، د خوزښت د اذادی، تعلیم ته لاسرسي او د موثره رجوع حق په لاره کې یې ممانعت رامنځته کړي دي. یوناما اندیښنه ځرګندوي چې د دولت ضد عناصر په دوامداره توګه تیریو ته له معافیت سره ادامه ورکوي او دا د افغانانو د بنسټیزو بشري حقونو او د افغانستان د جزایي قوانینو ځخه سرغړونه ده.

---

[۲٤] اوله قاعده: د جګړمارو او ملکیانو تر منځ جلاوالي. د بشر پالني نړیوال دودیز قواعد، اول ټوک، اوله قاعده. جان ماریا هینکرت او لویس ډوسواک بک، آي سي آر سي، کمبریج ۲۰۰۵.

[۲٥] د ۹۹ ولسوالیو له جملي ځخه چې د یوناما لخوا کتل شوي دي یولس ولسوالی د انتقال په اوله او دوهمه مرحله (په ترتیب سره جولای ۲۰۱۱ او نومبر ۲۰۱۱) کې افغان امنیتي ځواکونو ته سپارل شوي دي، چې د ټولو کتل شویو ولسوالیو ۱۱ سلنه بڼیي.

ډيرو ټولنو راپور ورکړې چې په صحي تاسيساتو او صحي مامورينو باندي د دولت ضد عناصرو له لورې په اکثره هغو سيمو کې چې د دوي له لوري په مکمل يا نسبي توګه کنټرولېږي بريدونه نکيږي.

## د دولت ضد عناصرو له لوري په معارف باندي بريدونه او مداخلي

يوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې ۳۴ پيښي مستندې کړې چې په هغو کې په تعليمي مرکزونو، مامورينو او ذده کونکو باندي بريدونه شوي دي. په دغو بريدونو کې د ښوونځيو سوځول، د معلمينو او ذده کونکو هدفي وژني، په تعليمي مرکزونو باندي وسلوال بريدونه، د ښوونځيو نيونه، ګواښونه او د ښوونځيو بندول، په ځانګړي توګه د نجونو ښوونځي راځي. دغه ۳۴ ثبت شوي پيښي د تير کال له همدي مودي سره په پرتله يو بنيادي ډيرښت ښيي. د تير کال به همدي موده کې يوناما ۱۰ دغه شان پيښي ثبت کړې وې. له دغو ۳۴ پيښو څخه يې ۶ پيښي د معلمينو، د ښوونځيو د ساتونکو او د معارف د رياست د کارکونکو هدفي وژني دي چې د دولت ضد عناصرو له لوري ترسره شوي دي.

د يوناما سلا مشوري په ټول افغانستان کې له ۹۹ اغيزمنو شويو ټولنو سره دا رابرسيره کړه چې طالبان په زياتيدونکي ډول د معارف په سيستم باندي اغيز لري. دا کيدايشي د ماشومانو په خاصه توګه نجونو لاسرسي تعليم ته اغيزمن کړي. د دولت ضد عناصر په څو سيمو کې خپل اغيز لري او دا نه تنها په تعليمي نصاب کې د خپلي عقيدې په اساس د تغيراتو راوړل دي بلکې د سيمه ايزو خلکو سره سياسي مذاکرات هم رانغاړي.

د ۲۰۱۲ کال د اپريل په شپږويشتمه طالبان په وسلواله جګړه کې د يوي ډلي [۲۶] په توګه چې د ماشومانو د حقوقو د سختو تېريو مسؤل دي؛ د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ۲۰۱۱ کال په نړيوال راپور [۲۷] کې چې په وسلوالو شخړو کې د ماشومان د ساتني په اړه خپور شو نوي ليست شول. [۲۸] دغه راپور هغه کسان يا ډلي ليست کوي چې په وسلوالو شخړوکې په منظم دول په ښوونځيو او روغتونونو بريدونه کوي. او يا هم په وسلوالو شخړو کې په ښوونځيو او روغتونونو پوري اړونده خوندي کسانو باندي بريدونه او يا د بريد ګواښونه کوي. [۲۹]

## دولت پلوه ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه

يوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږومياشتو کې د دولت پلوه ځواکونو د عملياتو په پايله کې د ۱۶۵ ملکي وګړو وژنه او ۱۳۱ نورو ټپي کيدنه ثبت کړې ده. دغه شميرې د۲۰۱۱ کال په ورته موده کې د ملکي مرګ ژوبلي د مجموعي شميرې په پرتله – چې يوناما د دولت پلوه ځواکونو د عملياتو په ترڅ کې د ۲۵۵ ملکيانو وژنه او ۱۳۸ نورو ټپي کيدنه ثبت کړې وه - ۲۵ سلنه کمښت ښيي.

د يوناما لخوا د ملکي وګړو د مرګ ژوبلي د ثبتولو د پيل راهيسي دا په ډاګه شوي، چې هوايي بريدونه د دولت پلوه ځواکونو لخوا هغه يوازني تاکتيک دي چې ترټولو د زياتي مرګ ژوبلي سبب ګرځي. يوناما د جنوري د مياشتي له لومړۍ نېټي څخه د جون تر ۳۰ مي پوري د نړيوالو نظامي ځواکونو په هوايي بريدونو کې د ۸۳ ملکيانو وژنه او د ۴۶ نورو ټپي کېدنه ثبت کړې ده. دغه شميرې ښيي چې د ۲۰۱۱ کال د ورته مودي په پرتله د ملکي مرګ ژوبلي شميره ۲۳ سلنه راټيټه شوې ده. يوناما د ۲۰۱۱ کال په ورته موده کې د هوايي بريدونو په پايله کې د ۱۲۷ ملکيانو وژنه او ۴۰ نورو ټپي کيدنه ثبت کړې وه. [۳۰] په ۲۰۱۲ کال کې د دولت پلو ځواکونو له

---

[۲۶] د امنيت د شوراي ۱۹۹۸ (۲۰۱۱) قطعنامه، S/RES/1998 (2011). دغه قطعنامه د ملګرو ملتونو له سر منشي څخه غواړي چې په وسلوالو شخړو کې د ماشومان د ساتني د راپور په ضميمه کې د وسلوالو شخړو هغه خواووي ليست کړي چې په منظم دول په ښوونځيو او روغتونونو بريدونه کوي. او يا هم په وسلوالو شخړو کې په ښوونځيو او روغتونونو پوري اړونده خوندي کسانو باندي بريدونه او يا د بريد ګواښونه کوي.

[۲۷] له ۷ څخه تر ۱۸ پراګراف پوري، په وسلوالو شخړو کې د ماشومانو د ساتني په اړه د ملګروملتونو د سرمنشي راپور چې له جنوري څخه بيا تر ډيسمبر ۲۰۱۱ پوري موده رانغاړي او د اپريل په ۲۶- ۲۰۱۲ کې خپور شو (A/66/782-S/2012/261)

[۲۸] په وسلوالو شخړو کې د ماشومانو د ساتني په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي راپور، (۲۰۰۵)، A/59695-S/2005/72 .

[۲۹] په دغه ليست کې د طالبانو په ګډون د توري بوړي جبهه، جمعيت السنت الدعواه سلفيه او د لطيف منظور ډلي راځي.

[۳۰] يوناما د ۲۰۱۱ کال د لومړيو شپږو مياشتو په راپور کې د هوايي بريدونو په پايله کې د ۱۱۹ ملکيانو مرګ ژوبله (۷۹ ملکيانو وژنه او ۴۰ نورو ټپي کيدنه) ثبت کړې ده. د ۲۰۱۱ کال د لومړي نمايي د ملکيانو د مرګ ژوبلي دغه نوي شميره (۱۶۷ ملکيانو مرګ ژوبله) د کنړ ولايت د غازي اباد ولسوالي د پيښي مرګ ژوبله هم رانغاړي چې په هغه کې ۴۸ ملکيان ووژل شول او ۹ نور ټپيان شول. د ۲۰۱۱ م کال په هوايي بريدونو کې د ملکي مرګ ژوبلو په اړه د يوناما لخوا خپرې شوې شميرې د کنړ ولايت د غازي آباد

لوري د دغه تاکتیک کارونه د نورو تاکتیکونو په پرتله نږدې څلور ځله زیات ملکیان وژلي دي . د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نیمایي کې د هوایي بریدونو په پایله کې د۱۲۹ ملکي مرګ ژوبلې څخه ۸۱ ښځې او ماشومان وو چې د هوایي بریدونو له کبله د ملکي مرګ ژوبلې دوه په دریمه برخه تشکیلوي.[31]
د ۲۰۱۲ په لومړۍ نیمایي کې د دولت پلوه ځواکونو د ځمکنیو ښتو په پایله کې ۲۱ ملکیان وژل شوي، چې د ۲۰۱۱ کال د لومړۍ نیمایي په پرتله – چې یوناما د ۶۶ ملکیانو وژنه ثبت کړې ده - د پام وړ کمښت ښیي.
یوناما د جنوري د میاشتې له لومړۍ نېټې څخه بیا د جون تر ۳۰ مې پورې د پلټنې او نیونې د عملیاتو په ترڅ کې چې د دولت پلوه ځواکونو له لوري تر سره شوي دي د ۲۰ ملکیانو وژنه او ۱۲ نورو ټپي کیدنه ثبت کړې ده، چې د ۲۰۱۱ کال د همدې مودې په پرتله ۲۷ سلنه کمښت ښیي، او د ۲۰۰۹، ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلونو د ورته مودو له ثبت شوي کمیدونکې بهیر سره ورته والې لري.

د افغان ملي ځواکونو او ایساف له لوري د قوې د تشدید د پیښو په نتیجه کې د ملکي خلکو مرګ ژوبله د ۲۰۱۲ کال کې هم کموالي موندلي دي. یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نیمایي کې د ۱۹ جلا جلا پیښو په ترڅ کې د ۲۵ ملکیانو مرګ ژوبله ( ۹ ملکیانو وژنه او ۱۶ نورو ټپي کیدنه) ثبت کړې ده، چې د ۲۰۱۱ کال د همدې مودې په پرتله د قوې د تشدید په پیښو کې د ملکیانو د مرګ ژوبلې ۴۳ سلنه کمښت په ګوته کوي.

که څه هم د هوایي بریدونو په نتیجه کې د ملکیانو مرګ ژوبله کمه شوې ده خو یوناما د هوایي عملیاتو په اړه چې د ملکیانو وژنه یا ټپي کیدنه رامنځته کوي خپله اندیښنه بیا په ډاګه کوي. که څه هم په ډیرو پیښو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله د لویو نظامي عملیاتو په بهیر کې چې د اړیکو په ضد ترسره کیږي رامنځته کیږي. خو ځیني هوایي بریدونه چې د ملکیانو مرګ ژوبله رامنځته کوي نسبت اصلي نظامي سوبې چې د دغو بریدونو په پایله کې ترلاسه کیږي تر اندازې زیات ښکاري.
د بیلګې په ډول د ۲۰۱۲ کال د جون د میاشتې په شپږمه نیټه د لوګر ولایت د برکي برک په ولسوالۍ کې د یوه هوایي برید په پایله کې چې د طالب قومندانانو یو ګروپ یې په نښه کړې وو ۱۸ ملکیان ووژل شول او دوه ښځې ټپیاني شوې. په دغه برید کې اوه ښځې او نهه ماشومان د یو لس میاشتني ماشوم او پنځه پیغلو نجونو په ګډوون ووژل شول. دا یوه ځمکنۍ نښته وه او کله چې د دولت ضد عناصر له نظامي ځواکونو سره ونښتل نو هوایې برید غوښتنه وشوه. که څه هم هوایې برید د قوې د تشدید له اقداماتو ورسته ترسره شو خو د هوایې برید د تاثیراتو وړاندوینه باید شوې واي. یو تاکتیکي هوایې برید چې د اوسیدني کور په نښه کوي په بالقوه توګه کیدایشي د ملکیانو غیري اختیاري وژنه او زیامن کیدل را منځته کړي چې له اصلي نظامي سوبې څخه زیات وي.

د بشرپالنې نړیوال دودیز قواعد په صراحت سره بیانوي، چې په جګړه کې ښکېلې خواوې باید په برید کې ملکیانو ته د مرګ ژوبلې، مالي زیان یا دواړو د اووښتلو د احتمال د ارزونې لپاره – چې د ټاکل شویو نظامي اهدافو د لاسته راوړنو په نسبت زیات وي – ټول ممکنه کوښښونه په کار واچوي.[32]

ایساف د هوایې بریدونو په پایله کې د ملکي مرګ ژوبلې د بیا رامنځته کیدو د مخنیوي په خاطر کلک اقدامات تر سره کړي دي. د افغانستان د اوضاع په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي په وروستي ریپوټ کې له افغان دولت او ایساف څخه ستاینه سوې، چې د هوایي عملیاتو په شمول، په نښتو کې د ملکي مرګ ژوبلو د مخنیوي په موخه یې په دوامداره توګه له کړنلارو څخه کتنې ترسره کړي دي.[33] د لوګر د پیښې ورسته ایساف د ملکي مرګ ژوبلو د کچې د راټیټولو لپاره نور اقدامات ترسره کړي دي. د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې یوه نوې متممه کړنلاره (فرګو) رسمي شوه، چې د هوایي عملیاتو تاکتیکي لارښود یې تعدیل کړ. یوناما د ټولو ملکي مرګ ژوبلو د چټکې پلټنې او د جبران لپاره د مناسب اقدام ترسره کولو او د څېړنو د پایلو او ترسره شویو اقداماتو د خپرولو لپاره پر

---

ولسوالۍ په هوایي برید کې ملکي وژنې د ضد او نقیصو معلوماتو له امله – چې د پر وخت تایید د مخنیوي سبب شوي - په بر کې نه نیسي (خو نهه ټپیان پکې شمېرل شوي دي).
[31] د نړیوالو نظامي ځواکونو له لوري د ۲۰۱۲ کال له جنوري څخه بیا تر جون پورې هوایي بریدونو د ۳۰ ښځو (۱۶ وژل شوي او ۱۴ نوري ټپیاني شوي دي)، او ۵۱ ماشومانو مرګ ژوبله (۳۹ ماشومان وژل شوي او ۱۲ نوري ټپیان شوي دي) رامنځته کړي ده.
[32] ۱۴ قاعده، تناسب په برید کې تناسب او ۱۸ قاعده په برید کې احتیاط. د بشر پالنې نړیوال دودیز قواعد، اول ټوک، اوله قاعده. جان ماریا هینکرت او لویس ډوسواک بک، آي سي آر سي، کمبریج ۲۰۰۵.
[33] د ملګروملتونو د سرمنشي راپور د افغانستان د حالت او د هغه اغیزې په نړیوالې سولې او امن باندې. عمومي اسمبله، شپږشپیتمه غونډه، د امنیت شوارې، اوشپیتم کال، د اجنډا ۳۸ فقره.A/66/855-S/2012/462, 20 June 2012

خپلو سپارښتنو تاکید کوي. یوناما له افغان ملي امنیتي ځواکونو څخه غواړي چې د ایساف په شان تاکتیکي لاربنود، چې د عملیاتو په ټولو برخو کې د ملکي مرګ ژوبلو د کچې د را ټیټولو او مخنیوي پر مهمې اړتیا تاکید کوي، تعقیب کړي.

## سیمه ایز (محلي) پولیس

یوناما د جنوري د میاشتې څخه بیا د جون تر میاشتې پورې د ۵۱ ولسوالیو له حکومتي چارواکو، پولیسو، قومي مشرانو او نورو اړونده کسانو سره سلاه مشورې وکړې تر څو د دوی نظرونه د سیمه ایزو پولیسو د پروګرام د تطبیق په اړه واخلي. یوناما ګڼ بیلابیل نظرونه ترلاسه کړي دي چې څنګه سیمه ایز پولیسو بشري حقونو ته درناوي او ساتنې یې کوي. ټولنو راپور ورکړی په هغو سیمو کې چې سیمه ایز پولیس شتون لري امنیتي حالت ښه شوی او د دولت ضد عناصرو شتون کم شوي دي. که څه هم اړونده اداري دغه امنیتي لاسته راوړنو ته ښه راغلاست وایې خو ځیني نور بیا په هغو مواردو چې د یوناما د تېر کال په راپور کې ذکر شوي دي تاکید کوي.[٣٤] یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړی نیمایي کې د سیمه ېزو پولیسو په وړاندې په اوو ولایتونو کې اته شکایتونه ثبت کړي دي. یوناما په دوامداره توګه د سیمه ایزو پولیسو په ګمارنه او چاڼ کونه کې د نا همغږۍ، د دوی په لیکو کې د دولت ضد عناصرو نفوذ، ضعیفه او موقتي نظارت او د سیمه ایزو پولیسو د بشري حقونو د تیرو په وړاندې د حساب ورکونې د نشتون راپورنه ترلاسه کړي دي.

د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې یوناما د نورو سیمه ایزو دفاعي نوښتونو لکه د اساسي تاسیساتو د ساتنې پروګرام (سي آي پي) چې د افغانستان په شمال او شمال ختیځو سیمو قرار لري دوام مشاهده کړي دي.




### *په جګړه پورې اړونده نورې پېښې*

## د پولي هغې غاړې پاکستان څخه توغندیز بریدونه

یوناما د ۲۰۱۱ کال په څیر د پولي هغې غاړي پاکستان څخه د توغندیزو بریدونو راپورنه ترلاسه کړي دي چې د افغانستان په لویدیځ کې د کنړ د ولایت په سرحدي سیمو لګېدلي دي. یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د پولي هغې غاړې توغندیزو بریدونو په پایله کې ۱۶د افغان ملکیانو مرګ ژوبله (یو ملکي وژل

[٣٤]، چې د ۲۰۱۲ کال په فبرورۍ کې خپور شوي ده وګورئ په افغانستان کې د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۱ کال کلنې راپور

شوي او ۱۵ نور ټپيان شوي دي) ثبت کړي ده. د جون په مياشت کې د دغو بريدونو په پايله کې تر پنځوسو ډيري کورنۍ له کونړ ولايت څخه او په کونړ ولايت کې بې ځايه شويدي. له بلي خوا د دغو بريدونو په وړاندي مظاهره کې درې ښوونځي تړل شوي دي.

### د ۲۰۱۲ کال د جنوري څخه بيا تر جون پوري د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي کمښت: د پام وړ فکتورنه

د ملکي کسانو په مرګ ژوبله کې کمښت کيدايشي بيلابيلو فکتورنو له کبله وي. ځيني فکتورنه په امنيتي حالت کې ښه والي منعکس کوي خو ځيني نور بيا دا په ګوته کوي چې د دولت ضد عناصر کيدايشي خپلي هڅي منسجم کوي او يا په ځينو سيمو کې کيدايشي کنترول ترلاسه کوي.

د ملګروملتونو د امنيت څانګه (يو ان ډي ايس ايس) شننه دا په ډاګه کوي چې د دولت پلوه ځواکونو له لوري نظامي عمليات چې د دولت ضد عناصرو د قومندانانو، وسلو او تداروکاتو، مرسته کوونکو او مالي سرچينو په وړاندي ترسره کيږي د اړيکو ډلي کمزوري کړي دي. د ځينو کليدي قومندانانو وژل چې د اړيکو د قومندي او کنترول جوړښت يې مات کړي ده د دې سبب شوي دي چې د دولت پلوه ځواکونو په وړاندي حملي کمي شي. دا د دې لامل شوي ده چې په ټوله کې د ملکي کسانو مرګ ژوبله — په ځانګړي توګه د نظامي ځواکونو په وړاندي د اړيکو له لوري په پيل شوي بريدونو— کمه شي، او همدارنګه د اړيکو او ملي اردو او ايساف تر منځ ځمکنۍ شخړي کمي شي. په دې اړه يوناما د ملکي خلکو د وژني نږدې ۴۲ سلنه کمښت ثبت کړي دي، چې دغه کمښت د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنيو جګړوله کبله رامنځته شوي ده. سربيره پر دې د ځمکنيو عملياتو څخه د ملکي خلکو هدفي وژنو ته تاکتيکي بدلون کيدايشي د ضعيفه تاوتريخوالي نښه وي.

د کال په لومړيو درېو مياشتو کې بې سارې سخت ژمي کيدايشي د اړيکو د خوځښت او عملياتي قدرت مخه نيولي وي چې احتمالاً د جګړيزو تاوتريخوالو د کميدو سبب شوي دي. بل ممکن فکتور چې د اړيکو له لوري د تاوتريخوالي د کمزوري کيدو لامل شوي دي د مسلحو ګروپونو خپلمنځي شخړي دي. دغه فکتورنه د ۲۰۱۲ کال په لومړيو څلورو مياشتو کې – په ځانګړي توګه د جګړې د پيل د موسم را هيسې ـ د بريدونو د کميدو لامل شوي دي. سره لدې چې طالبانو د ۲۰۱۲ کال د مي د مياشتي په دوهمه په عامه دپسرلنيو عملياتو د پيل کيدو خبر ورکړ او د بريدونو د ډېريدو ژمنه يې وکړه خو طالبانو دغه خوځښت چې د دوي د رهبر له لوري يې کيدايشي توقع شوي وي (په ځانګړي ډول د کابل د بريدونو په اړه) ترلاسه نکړ. د بريدونو کچه د ۲۰۱۰ کال د جون او مي له مياشتو سره د مقايسي وړ ده.

داسي ښکاري چې د دولت ضد عناصر خپل بريدونه په افغان ملي امنيتي ځواکونو په ځانګړي توګه افغان ملي پوليسو باندي متمرکز کړي دي. د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږ ومياشتو کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو په وړاندي د بريدونو شمير ( په ۲۰۱۲ کال کې ۲۳۱۱ بريدونه، او په ۲۰۱۱ کال کې ۲۳۳۵ بريدونه وو)د تير کال د همدې مودې په پرتله نږدې يو شان پاتي شوي دي[35]. د ۲۰۱۱ کال د همدې مودي سره په پرتله د دولت ضد عناصرو بريدونه په نړيوالو نظامي ځواکونو باندي ۱۰ سلنه کم شوي دي.[36]

يوناما ملاحظه کړي دي چې د دولت ضد عناصر په هغو ليرو پرتو سيمو کې چې د حکومت شتون کم دي د ځان کلکولو قوت تر لاسه کوي، چې د پام وړ اغيزې يې په دغو ټولنو کې د بشري حقونو په ساتنه پرېښي دي.

سربيره پر دې چې د نړيوالو نظامي ځواکونو په وړاندي په بريدونو کې کمښت پخپله د ملکي وګړو د مرګ ژوبلي د کميدو لامل شوي دي؛ يوناما يادونه کوي چې د ملکي وګړو د مر ګ ژوبلي کميدل همدارنګه د دولت پلوه ځواکونو په عملياتي کړنو کې، د مشخص هدف په نښه کولو په ګډون، د باثباته ښه والي نتجه ده. په عمومي ډول، افغان ملي امنيتي ځواکونه او نړيوال نظامي ځواکونه په دوامداره توګه کار کوي تر څو ملکي مرګ ژبله کمه کړي. دغه کموالي په ځانګړي توګه د شپې مهال عملياتو څخه د رامنځته شوي ملکي مرګ ژوبلي او د قوي د تشديد د

[35] ارقام په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د امنيت د څانګي لخوا برابر شوي دي، ۱۰ جولاي ۲۰۱۲ کال

[36] کال په کال بدلون (دوهمه پانه). د ۲۰۱۲ کال د مي په دويشتمه خپور شوې.د ايساف مياشتنې معلومات، د اپريل ۲۰۱۲ کال پوري ارقام. د هيواد په کچه د دښمن لخوا پيل شوې بريدونه.

پیښو په کمیدو کې جوتیږي. ډېرو هڅو ته اړتیا ده ترڅو د هوایي بریدونو په ترڅ کې د ملکي خلکو مرګ ژوبلې څخه مخنیوی وشي.

## سپاربښتني

يوناما د ټولو ښکيلو خواوو څخه غواړي چې خپلو قانوني مکلفيتونه سره سم خپلې کړنې تنظيم کړي چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې او ټولنې ته زيان اړوني کچه راټيټه شي. يوناما غوښتنه کوي چې د دولت ضد عناصرو له لوري بې تفکيکه تاکتيکونه ،لکه د فشار په واسطې چاودیدونکي توکي او ځان وژونکي بمونه کارونه دې سملاسي ودرول شي. يوناما د افغانستان په دولت غږ کوي چې د نړيوالې ټولنې د کمک په مټ نوري ډېرې وسيلې په کار واچوي چې د شخړې سره تړلې تاوتريخوالي اغيزو څخه ملکي ټولنه وژغوري .

*يوناما د ملکي خلکو د ښه خونديتوب په موخه لاندې سپاربښتني وړاندې کوي .*

### دولت ضد عناصرو ته

- د بشرپالني د نړيوال قانون د اوصولو سره سم د تفکيک ، تناسب او احتياطي تدابير په پام کې ونيسي او د ملکي خلکو تعريف دې د بشرپالنې د نړيوال قانون سره په مطابقت کې پلي کړي .
- د نړيوالو قانون سره سم دې د ملکي خلکو هدفي وژنې ودروي او هغه فرمانونه چې د ملکي خلکو د وژنې جواز ورکوي د بيلګې په ډول ځان مرګې بريدونو کارونه دې ملغا اعلان کړي .
- د فشار په ذريعه چاودیدونکو توکو کارونه دې ژر تر ژره ودروي او د دې بې توپيره او غير قانوني وسلو پر کارونه دې په عمومي ډول د بنديز ژمنه وکړي.
- د هغو موازي قضايي جوړښتونو څخه ډډه کول چې غيري قانوني سزاګانې ټاکې لکه وژنې، د وجود د يوه غړي پريکونه، شل شوټ کول او وهل ډبلول.
- هغه طرزالعملونه، هدايات او لارښووني دې په عمل کې پلې کړي چې د ملکي خلکو د وژنې څخه مخنيوې کوي او هغه افراد چې ملکي کسان د مرګ ژوبلې په موخه هدف ګرزوي ورسره حساب وشي .
- د بشري مرستو مؤسسو ته او په ځانګړي ډول څوک چې روغتيايي خدمتونه ، کلينکونه او ډاکټران د ټولنې د معالجې لپاره وړاندې کوي د پوره لاس رسي اجازه ورکړي . د واکسناسيون کمپاين د ملاتړ په موخه دې څرګنده ژمنه وکړي ترڅو د واکسين ټيمونه وکړاې شي چې د واکسناسيون خوندي کمپاين په ټول افغانستان کې په بشپړ ډول تر سره کړي.

### د افغانستان دولت ته

- د قانون د واکمنۍ ادارو په ځانګړي توګه پوليس اوقضايه قوې د پياوړتيا لپاره دې نور کوټلي ګامونه واخلي چې له مخې يې جنايي کړنو سره د دولتي د ادارو لخوا د قانون سره سم چلند وشي. په دې کې څيړنې، عدلي تعقيب او د هغو کسانو په سزارسول دې چې د موازي قضايي جوړښتونو له لارې غير قانوني سزاګاني ټاکې په ځانګړي توګه وژنې او همدارنګه د بشري حقونو څخه سرغړونې او نور جنايي فعاليتونه چې د دولت ضد عناصر يې تر سره کوي.
- افغان ملي اردو دې د ايساف په څير د ملکي کسانو د تلفاتو د کميدو ټيم رامنځ ته کړي چې افغان امنيتي ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتو ټولې پيبنې پر وخت ، شفافه او سم ډول و پلټل او ثبت شي. ترڅو د ملکي خلکو خوندي ساتنه ، د خساري جبران او د حساب ورکړه وده ومومي.
- د ټولو ماشومانو او په ځانګړي ډول دې د نجونو حقونه خوندي شي چې زده کړې ته لاس رسي ولري . داسي لارې چارې دې اختيار شي چې د ښوونځيو وداني خوندي او پرانيستي وي او هم د ښوونځيو ملکي موقف خوندي وساتل شي او د نظامي فعاليتونو لپاره ونه کارول شي. د ښوونځي تدريسي نصاب کې دې د بشري حقونونواساسات منعکس شي کوم چې د افغانستان په قوانينو کې تضمين شوي او متن يې د پوهني وزارت تأيد کړي دي .

- د دې ډاډه کول چې افغان ملي امنیتي ځواکونه په پوره اندازې سره منابع به لاس کې لري، مجهز او روزل شوي دي تر څو په موثره توګه د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو ضد عملیات رهبري او کنترول کړي، او ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي خنثي او په کار واچوي.[۳۷]
- د دې لپاره چې د بشري حقونو له سرغړونو څخه مخنیوي وشي دا ډاډ باید ترلاسه شي چې د سیمه ایزو پولیسو د نورو کارونو ترڅنګ ګمارنه، ازموینه، نظارت او حساب ورکوني میکانیزم په موثره توګه ترسره کېږي. د نړیوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ باید د سیمه ایزو پولیسو هغو جنایتونه په وړاندي چې راپور یې ورکړل شوي قانوني کړني ترسره شي. او هرڅومره ژر چې کیدایشي د سیمه ایزي (محلي) دفاع نوري قواوي لغوه شي.

## نړیوال نظامي ځواکونه

- په دوامداره توګه د تاکتیکي لارښودنو او عملیاتي پروسیجرونو په ځانګړي توګه هغه تاکتیکي لارښودني چې هوایي بریدونه تنظمیوي بیا کتنه تر سره کړي ترڅو د ملکي خلکو له غېري اختیاري مرګ ژوبلي او ملکي شیانو ته د زیان اړولو نور مخنیوي وشي، او د جګړې ملکي قربانیانو ته تاوان ورکړي . د عملیاتو ورسته باید د افغان حکومت سره په همکارۍ د هغو عملیاتو چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي لامل شوي دي تحقیقاتو ته ادامه ورکړي.
- شفافیت او حساب ورکوني ته وده ورکول او د افغان حکومت او متاثره شویو ملکي خلکو او ټولنو سره د ښه روابطو جوړول، او په هغو پیښو کې چې د ملکي خلکو مرګ ژوبله یې را منځته کړي د ایساف د پلټنو د موندنو خپرول، انظباطي او حساب ورکوني اقدامات ترسره کول او په منظمه توګه د اوښتي زیان جبیره کول او اصلاح کول.
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره کار کول تر څو د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي د کمښت، راپور ورکولو او تحلیل کې د هغوي قابلیت لوړه شي، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو کې [د ملکي مرګ ژوبلي د کمولو ډله](Civilian Casualty Mitigation Team) د رامنځته کول ملاتړ کول.
- د دې ډاډه کول چې افغان ملي امنیتي ځواکونه په پوره اندازي سره منابع به لاس کې لري، مجهز او روزل شوي دي تر څو په موثره توګه د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو ضد عملیات رهبري او کنترول کړي، او ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي خنثي او په کار واچوي.
- د دې ډاډه کول چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د تاکتیکي لارښودنو په اړه پوره روزنه ورکول کېږي او تاکتیکي لارښودونه، پروسیجرونه او غوره کړنو بیلګې چې د ملکي مرګ ژوبلي په کمولو کې موثر بلل شوي افغان ملي امنیتي ځواکونو ته سپارل کېږي.

[۳۷] د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو په کار اچونه د هغو معلوماتو تشخیص، راټول، پروسس او خپرول دي چې د ځاي پر ځاي شویو چاویدنکو توکو د پیښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځاي پرځاي شویو چاودیدنکو ضد پروسیجرونه او میتودنه غښتلي او د اړیکو منابع کمزوري او د دوي عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخیصونه د تخنیکي، عدلي طب او بایومتریک ازمویني او تحیلي لپاره راځي چې د متخصیصانو له لوري تر سره کیږي. د چاودیدنکو توکو په کار اچونه د د دغو توکو ضد اقداماتو یوه اساسي برخه ده.

## د دولت ضد عناصر او د ملکي وګړو ساتنه

*زه د سپوږمۍ هوټل په سرای کې له خپل کا کا سره وم. نږدي د شپې یولس بجې وې. هغه له مانه وغوښتل چې له موټر څخه کامره را وخلم او میلمستیا ثبت کړم. زه موټر ته ورغلم دا هغه وخت وو چې ما ډزي واوریدې. ما یو وسلوال ولید چې په خلکو یې بې هدفه ډزي کولې؛ ما هغه ولید چې د ځوانانو په یو ډله چې سندري یې ویلي او خوښي یې کوله ډزي کوي. د دوي نه ځیني ځاي په ځاي ونه وژل شول؛ ټپیانو د مرستي لپاره چغې وهلې. وسلوال کس بیرته راغې او هر یو یې په سر سر و ویشتل. هغه ټول ووژل. ما ولیدل چې دوي څنګه زما کاکا ووژل؛ دوي هغه په سر وویشتل او د هغه د سر ماغذه بهر را ووتل. تاسي پوهیږئ؛ هغه کمه موده مخکې له ایران څخه راستون شوې وو تر څو خپله زړه مور ووینې. دوي هغه ووژل. دوي د هوټل شاخوا سراي ته لاړل او ودانۍ ته ننوتل تر څو خلک ولټوي او ویې وژنې.*[38]

—— د کابل په قرغه کې په سپوږمۍ هوټل باندي د جون د ۱۵ نیټي کمپلیکس یا پیچلي حمله څخه ژوندي پاته شوې کس

## عمومي کتنه

یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۲۴۷۵ ملکي خلکو مرګ ژوبله (۸۸۲ تنه وژل شوي او ۱۵۳۹ نور ټپیان شوي دي) ثبت کړې ده. د ملکي خلکو دغه مرګ ژوبله د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې ده. د ۲۰۱۱ کال د همدي مودي په پرتله سره یوناما د ۲۹۲۷ ملکي خلکو مرګ ژوبله (۱۱۶۷ تنه وژل شوي او ۱۷۶۰ نور ټپیان شوي دي) ثبت کړې وه. که څه هم د دوي د عملیاتو په نتجه کې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلي مجموعي شمیر کې لږوالي راغلي ده ، خو د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نمایي کې د دولت ضد عناصر د ۸۰ سلنه ملکي مرګ ژوبلي مسؤلیت لري. په عمومي ډول، د دولت ضد عناصرو له لوري د ملکیانو په وژنه کې د ۲۰۱۲ کال د جنوري څخه بیا تر جون پوري چې ۷۷ سلنه دي کمښت راغلي ده چې په ۲۰۱۱ کال کې ۸۰ سلنه وو.

**له ۲۰۱۰ کال څخه تر ۲۰۱۲ کال پوری (له جنوری څخه بیا تر جون پوری-د کال لومړی شپږ میاشتی) د ملکي خلکو مرګ ژوبله د دولت ضد عناصرو له لوري**




---

[38] د یوناما مرکه د برید څخه له ژوندي پاته شوي کس سره، ۲۸ جون ۲۰۱۲، کابل

## ځاي پر ځاي شوي چاويدونكي توكي

*په دغه بريد كه ما د خپلي كورنۍ دري كسان له لاسه وركړل؛ زما ۲۰ كلن ځوي، زما ۱۸ كلن وراره او زما ۶۳ كلن ورور. زما ځوي سږ كال د پوهنتون لپاره د كانكور ازموينه وركړه او هيله يي درلوده چي انجنيري ولولي. هغه يواځي د ۲۰ كلو وو ډيري هيلي يي درلودې چي ورته ورسيږي. څنګ چي هغه ډير ځوان وو نو هيڅكله يي د مرګ په اړه فكر نه وو كړی. د ورستي ځل لپاره ما هغه يوه ورځ مخكي تر وژل كيدو وليدل. هغه له كلي څخه راغي وو چي شپه له موږ سره تيره كړي. هغه د سهار په ۱۰ بجو لاړ او په ۱۲:۳۰ بجو ووژل شو. زه هيڅ نشم كولاي چي خپل ځوي، وراره او وورو بيرته راولم.*[39]
*د ځاي پر ځاي شويو چاويدونكو توكو د يوه قرباني پلار، د قيصار ولسوالي، د فارياب ولايت، ۱ مارچ ۲۰۱۲*

د دولت ضد عناصرو له لوري د ځاي پر ځاي شويو چاويدنكو توكو غير قانوني او بي تبعيضه كارونه د ملكي خلكو د وژني يو ستر لامل دي او د ملكيانو اكثريت مرګ ژوبله يي را منځته كړي ده. يوناما د ۲۰۱۲ كال د جنوري د لومړی نيتي څخه بيا د جون تر ۳۰ نيتي پوري د ۱۰۱۶ ملكيانو مرګ ژوبله (۳۲۷ تنه وژل شوي او ۶۸۹ نور ټپيان شوي دي) ثبت كړي ده چي د كال په لومړی نيمايي كي د ټولټال ملكي مرګ ژوبلي ۳۳ سلنه تشكيلوي. كه څه هم د ملكي خلكو مرګ ژوبله د ځاي پر ځاي شويو چاويدونكو توكو له كبله د ۲۰۱۱ كال د لومړی نيمايي په پرتله ۱۹ سلنه كمه شوي ده خو د ۲۰۱۰ كال له همدي مودي سره د پرتله كيدو وړ ده.

ملكي مرګ ژوبله په اكثره مواردو كي چي د ځاي پر ځاي شويو چاويدنكو توكو له امله رامنځته شوي يوناما مشاهده كړي چي ځاي پر ځاي شوي چاويدنكي توكي د كوم خاص نظامي هدف لپاره ندي كارول شوي او يا هم داسي كارول شوي چي د چاويدنكو توكو تاثيرت كيدايشي محدود پاته نشي او يا هم هدف په هغه شان په نښه نشي چي د بشر پالني نړيوال قانون يي غوښتنه كوي. د بيلګي په ډول، يوناما د ملكي خلكو د مرګ ژوبلي بي شمېره پيښي ثبت كړي چي د فشار پواسطه ځاي پر ځاي شويو چاويدنكو توكو له امله رامنځته شوي دي. دغه ځاي پر ځاي شوي چاويدنكي توكي په هغو سړكونو ښاندي چي په منظم ډول د ملكيانو لخوا كاريږي ځاي پر ځاي شوي دي.

كه څه هم د ۲۰۱۱ كال د همدي مودي په پرتله د ملكي خلكو مرګ ژوبله د ځاي پر ځاي شويو چاويدونكو توكه له امله كمه شوي، مګر د دي بي تبعيضه تاكتيك دوامداره كارونه د اندېښني وړ ده. د دولت ضد عناصرو له لوري اكثره ځاي پر ځاي شوي چاويدونكي توكي د قرباني له لوري فعاله شوي توكي (وي او آي اي ډي) دي چي د فشارو پواسطه چاويدونكي توكي (پي پي آي اي ډي) يي ډير عام دي. د قرباني له لوري فعاله شوي چاويدونكي توكي په كندهار، ارزګان، زابل، هلمند او نمروز ولايتونو كي په زيات كچه دي چي د كارول شويو ځاي پر ځاي شويو چاويدونكو توكو اكثريت تشكيلوي.
يوناما په دي نظرده چي ځاي پر ځاي شوي چاويدونكي توكي په موثره توګه د پرسونل ضد ځمكنيو ماينونو په توګه كار وركوي. دوي بي تبعيضه دي او نشي كولاي د ملكي او نظامي اهدافو په منځ كي توپير وكړي نو د دي له امله كارونه يي د بشر پالني نړيوال قانون له مخي غيري قانوني ده.
په افغانستان كي د فشار پواسطه چاويدونكي توكي (PPIED) داسي برابرېږي چي هغه مهال چاودنه وكړي چي څوك قدم پري كيږدي او ياهم موټر پري وچلوي. په افغانستان كي اكثره د فشار په واسطه چاويديدونكي توكي نږدي ۲۵-۲۰ كيلو ګرامه چاويدونكي توكي لري چي د يوه ستندرد پرسونل ضد ماين دوه برابره نه ډير چاويدونكي توكي دي او د يوه پرسونل ضد ماين ماشه هم لري. دا پدي معني ده چي د فشار پواسطه چاويدونكي توكي يو ستر پرسونل ضد ځمكني ماين دي چي د يوه ټانګ د له منځه وړلو ظرفيت لري. هغه ملكيان چي په دغو چاويدونكو توكو وخېژي او يا هم موټر پري وچلوي د دغو توكو په وړاندي مقاومت نلري او د ژوندي پاته كيدو ډير لږ چانس شته. سربيره پر دي ، يو زيات شمېر دغه چاويدونكي توكي داسي طرحه شوي چي له ۴-۲ كيلو ګرامه وزن باندي چاودنه كوي چي د پليو كسانو د وژني او ټپي كيدني لپاره ډيزان شوي دي.
د ۲۰۱۲ كال په لومړيو شپږو مياشتو كي ځاي پر ځاي شوي چاويدونكي توكي په عامه ځايونو كي چي معمولاً د ملكي خلكو له لوري كارېږي لكه سړكونه، ماركيټونه، حكومتي دفترونه، د عامو خلكو د راټوليدلو ځايونه د بازارونو په ګډون، د ښوونځيو، دوكانونو او د بس تمځايونو شاوخوا چاودلي دي. د دولت ضد عناصرو ځاي پر

[39] د يوناما سره ټليفوني مركه، ۱۱ مارچ ۲۰۱۲

ځاي شوي چاوديدونکي توکي په ځانګړي توګه هغه توکي چي د فشار د ماشي په واسطه چاودنه کوي د ترانزيټ له پياده رو لارو نيولې بيا تر لويو لارو پوري ځاي په ځاي کړي دي چې پلي، بايسکل سپاره ، په بس يا ټکسي کي سپاره ملکيان يې وژلي او ټپيان کړي دي.
که څه هم د دولت ضد عناصرو د ريموټ کنټرول پواسطه چاودونکي توکي کاروي ترڅو دولت پلوه ځواکونه په نښه کړي ، مګر په ځينو پيښو کې دغه تاکتيک په دوامداره او بې تناسب ډول ملکيان زيانمن کړي دي. په ځانګړي توګه، کله چي د دولت ضد عناصرو نظامي اهداف دملکيانو د ګڼي ګوڼي په سيمو کې په نښه کړي دي. د بيلګي په ډول، د مارچ په اتمه نيټه د ننګرهار ولايت، جلال اباد ښار کې د افغان ملي امنيتي ځواکونه د پوستي مخته د ريموټ کنټرول پواسطه چاودنه وشوه چې يو ماشوم يې ووژل او يولس نور ملکيان يې د دريو ماشومانو او يو ه ترافيک پوليس په شمول ټپيان کړل.
همدارنګه يوناما د هغو ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو په اړه چې د ترور لپاره د يوه تاکتيک په ډول کارول کيږي انديښنه څرګندوي. سره لدي چې د ملکي خلکو په نښه شوې وژنه د بشر پالني نړيوال قانون له مخي په صريح ډول منع دي خو د ځاي پر ځاي شويو چاويدونکو توکو بې تبعيضه ماهيت چې د هغوي له بې تناسبه تاثيراتو سره يوځاي شي نو د دې تاکتيک شدت تشکيلوي. د بيلګي په ډول، د جون په څوارلسمه نيټه د جوزجان ولايت شبرغان په ښار کې د ټاکنو د خپلواک کميسون د ولايتي رئيس کور مخته د ريموټ کنټرول پواسطه چاودنه وشوه چي يولس ملکيان يې ژوبل کړل. په دغه چاودنه کې دوه ماشومان او يوه ښځه سخت ټپيان شول.

په ۲۰۱۲ کال کې د دغو پيښو نورې بيلګې:

- د ۲۰۱۲ کال د جون په ۱۸ نيټه د کاپيسا ولايت د تګاب ولسوالی په بازار کې د سيمه ييزو پوليسو قومندان د ريموټ کنټرول پواسطه چاوديدونکو توکو په ذريعه په نښه شو چې په پيښه کې څلور ملکيان ، څلورسيمه ييز پوليس و وژل شول او ۲۱ نور ملکيان ژوبل شول.
- د جون په دولسمه نيټه د بلخ ولايت چهار بلوک ولسوالی کې د ريموټ کنټرول پواسطه کنټروليدونکي ځاي پر ځاي شوې توکي چې په يوه بايسکل کې ځاي پر ځاي شوي وو وچول شول چې دري ملکيان يې د يوه دوه کلن ماشوم په ګډون ووژل او پنځه نور يې ټپيان کړل.
- د مي په څوارلسمه نيټه د غزني ولايت قرباغ ولسوالی کې د فشار پواسطه ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي په يو ملکي بس باندي وچاوديدل چي ۱۷ ملکيان يې ووژل او ۲۳ نور يې ټپيان کړل.
- د ۲۰۱۲ کال د اپريل په دولسمه نيټه د هلمند ولايت ګرمسير ولسوالی کې د فشار پواسطه ځاي پر ځاي شوي چاديدونکي توکي په يوه ملکي موټر باندي وچاوديدل چي دوه ماشومان يې ووژل او څلور نور ملکيان د دوو ماشومان په ګډون ټپيان شول.
- د مارچ په اومه نيټه د کندهار ولايت سپين بولدک ولسوالی کې ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي چي په يوه بايسکل کې ځاي پر ځاي شوي وو وچاوديدل چې د دوو ماشومانو او يوې ښځي په ګډون يې څلور ماشومان ووژل او لږترلږه يې اوه نور ملکيان يې ټپيان کړل.
- د مارچ په لومړۍ نيټه د فارياب ولايت قيصار ولسوالی کې يو بانفوذه قومي مشر د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو پواسطه په نښه شو چې پنځه ملکيان يې ووژل. د بريد موخه د قيصار د ولسوالی د شوراي يو فعاله غړي وو چې پخوا يې د ولسوال دنده درلوده. په دغه پيښه کې نوموړي او د کورنۍ غړي يې ووژل شول.

د ځاي پر ځاي شويو چاويدونکو توکو ترکيبات افغانستان ته د جنايتکارو ملاتړ شبکو او اړيکو لخوا ترانزيټ او ليږدول کيږي. د افغانستان حکومت د نړيوالي ټولني په مرسته بايد ټولي هڅي وکړي تر څو افغانستان ته د ځاي پر ځاي شويو چاديدونکو توکو غيري قانوني وړلو را وړلو مخنيوې وکړي.

## ځانمرګي او پیچلي بریدونه[40]

*کله چې پولیسو موټرسیکل چلوونکي ودراوه نو هغه خپل ځان ته چاودنه ورکړه. دا پېښه د چونۍ په بازار کې د یو ښوونځي مخته رامنځته شوه. چاودنې ډیر زیات کسان ټپیان کړل او ډیر مړي په ځمکه پراته وو. امبولانس راغي او ډیر مصروف او اندیښناک وو. هرچا ښوونځي خواته منډې وهلې ویریدل چې ګنې د دوي ماشومان په وژل شوي او ټپیان شوي وي. ډیرزیات خلک ټپیان شول. که چیرته خلک پوهیدلای چې داسې پیښه به کیږي نو د ښوونځي ماشومان به یې د باندي نه را پرینښودل. چاودنې خلک هري خواته غورځولي وو. هرځاي وینې وې. حتی هغه کسان چې ټپیان شوي هم نه وو ولې د ملګرو په وینو یې جامې رنګ وې. موږ خپل خپلوان د امبولانس پواسطه روغتون ته راوړل و به ګوره چې څه کیږي. مونږ خوشحاله یو چې دوي وژل شوي ندي. زما خپلوان او نور خلک بیلابیل ټپونه لري (د دوي په لیڅو، خیټه او وجود کې بمې ګولې ننوتلې وې).*[41]

- د جنوري د دریمي نیټي ځانمرګي برید قربانیانو خپلوان. دغه برید د کندهار ښار د ګنه ګوڼي نه ډک یوه بازار کې ترسره شو چې ۵ ملکیان یې ووژل او ۱۸ نور یې ټپیان کړل.

یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ځانمرګو او پیچلو بریدونو په پایله کې د ۶۳۷ ملکیانو مرګ ژوبله (۱۷۵ وژل شوي او ۴۶۲ نور ټپیان شوي دي) ثبت کړي ده؛ چې د تیر کال د همدي مودي په پرتله ۲۳ سلنه کمښت ښیي. یوناما د تیر کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ۸۳۱ ملکیانو مرګ ژوبله ثبت کړي وه. که څه هم د یو مثبت خوځښت دي چې د دغو بریدونو په پایله کې مرګ ژوبله کمه شوي ده خو د ملکیانو مرګ ژوبله د دغه تاکتیک له کبله اوس هم په لوړه کچه ده؛ کچیرته د ۲۰۱۰ کال له لومړیو شپږو میاشتو سره پرتله شي. یوناما د ۲۰۱۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ځانمرګو او پیچلو بریدونو په پایله کې د۶۶۳ ملکیانو مرګ ژوبله (۱۸۳ ملکیان وژل شوي او ۴۸۰ نور ټپیان شوي دي) ثبت کړي ده.

ځانمرګي بریدونو د یو کس لخوا چې د چاودیدونکو توکو واسکټ یې په ځان وي و یا هم د چاودیدونکو توکو ډک موټر چلوي تر سره شوي دي. او یا هم متعدد ځانمرګي پیچلي بریدونه ترسره کوي چې ډیر شمیر جګړه مار برخه پکښې لري.

د دولت ضد عناصر د بیلابیلو ځانمرګو بریدونو څخه کار اخلي چې د عامه ځایونو لپاره مطلقه بې اعتنایي څرګندوي. ملکي ځایونه چې نظامي اهداف ندي لکه د ګڼي ګوڼي مارکیټونه، د قومي مشرانو غونډي او د حکومت ملکي دفترونه په دوامداره توګه په نښه شوي دي. د بشر پالني د نړیوال قانون له مخې دغسې بریدونه منع دي او په لومړي نظر کې جنګي جرمونه بلل کیدایشي.

د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې نمونوي پېښې :

- د جون په شپږمه نیټه د کندهار ولایت د کندهار- سپین بولدک په لویه لاره د سوپریم کمپنۍ د ګدام مخته دوي پرلپسې ځانمرګي بریدونه ترسره شول چې ۲۲ ملکیان یې ووژل او ۵۰ نور یې ټپیان کړل.
- د جون په اتلسمه نیټه د کاپیسا ولایت تګاب په ولسوالۍ کې یوه ځانمرګي د سیمیزو پولیسو یو قومندان په نښه کړل چې شپږ ملکیان یې ووژل او ۲۶ نور یې ټپیان کړل.
- د اپریل په لسمه نیټه د هرات ولایت ګذاري ولسوالي د ولسوال دفتر ته څیرمه یو ځانمرګي برید ترسره شو چې ۱۳ ملکیان یې ووژل او ۵۷ نور یې ټپیان کړل.
- د مي په نولسمه نیټه د خوست ولایت د تبرځي په ولسوالۍ کې یوه ځانمرګي د پولیسو یوه پوسته په نښه کړه چې ۱۰ ملکیان یې ووژل او ۹ نور یې ټپیان کړل.

---

[40] د یوناما تعریف د پیچلو بریدونو لپاره پدي ډول دي؛ چې پیچلي بریدونه هغه قصدي همغږي بریدونه دي چې په هغه کې ځانمرګي الي (په ځان پوري تړلي چاودیدونکي توکي، په موټر کې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي)، تر یو نه ډیر بریدګر او له یو نه ډیري الي (په ځان پوري تړلي چاودیدونکي توکي + راکیټونه) شامل وي. د دي لپاره چې یو برید پیچلي و ګڼل شي باید دغه دري عناصر ولري.

[41] د ۲۰۱۲ کال د جنوري په دریمه له یوناما سره مرکه، د کندهار ولایت، د کندهار ښار




## د ملکیانو هدفي وژني

د دولت ضد عناصرو په زیاتیدونکي ډول هغه ملکیان په نښه او وژلي دي چې د افغانستان له دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو سره په تړاو درلودلو پیژندل شوي دي. د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نیمایي کې د ۲۳۸ هدفي وژنو د پیښو په نتیجه کې ۲۵۵ ملکیان وژل شوي او ۱۰۱ نور هم ټپیان شوي دي. د غه ارقام د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله چې یوناما ۱۹۰ ملکیانو وژنه او ۴۳ نورو ټپي کیدنه ثبت کړه و۵۳ سلنه زیاتوالی څرګندوي. د حکومت مامورین، ملکي او له وظیفې څخه رخصت شوي پولیس، قومي مشران او هغه ملکیان چې دولت پلوه نظامي ځواکونو ته د جاسوسي تور باندي پوري شوي دي د دولت ضد عناصرو له لوري په نښه شوي دي.

طالبانو د ۲۰۱۲ کال دمې په دوهمه نیټه اعلان وکړ چې د دوي پسرلنیو الفاروق عملیات به په مشخص ډول ملکي هدفونه په نښه کړي، چې په دې ډله کې د حکومت لوړپوړي چارواکي، د پارلمان غړي، د سولې د عالي شوراې غړي، قرار دادیان او" ټول هغه کسان چې د مجاهدینو په وړاندي کار کوي" راځي.[٤٢]
د بشرپالني نړیوال قوانین او د بشري حقونو موازین د ملکیانو سیستماتیک او قصدي په نښه کول منع کوي . دغه عمل د ژوند د حق څخه تېری دی او جنګي جرمونو بلل کیداېشي. دغه عملونه پدې معنی دي چې له یوې خوا حکومت د قابلیت لرونکي مامورینو د له منځه وړلو په خاطر کمزوري کړي او له بلې خوا عامه ټولنې تهدید کړي. په تیرو شپږو میاشتو کې ډیرې دغسې پیښې شوي دي چې دغه لاندې پیښې هم رانغاړي:

- د مي په ۱۵ نیټه د هرات ولایت د شنډن په ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو د قومي مشرانو په یوه ډله چې د خلکو یوې غونډې ته په لاره وو ډزي وکړي چې دري کسان یې ووژل او یوبل یې ټپي کړ. دغه قومي مشران د حکومت سره مرسته کوله.
- د مي په ۱۲ نیټه د لغمان ولایت په الیشنګ ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو یوې ډلې یو کس په ډزو سره ووژل. دغه کس طالبانو ته ګواښ کړي وو چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته به د طالبانو د ماینونو د ځای پر ځای کولو په اړه معلومات ورکړي.

---

[٤٢] د افغانستان د اسلامي امارت د رهبري شورا اعلامیه د الفاروق پسرلنیو عملیاتو د پیل په اړه، د افغانستان د اسلامي امارت د رهبري شوراې، ۲ مي ۲۰۱۲ کال.

- د مارچ په ۱۵ نیټه د هلمند ولایت په ګرمسیر ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو له وظیفې څخه رخصت شوي پولیس په کور کې په ډزو سره ووژل. قرباني له وظیفې رخصت اخستي وو او له خپلې کورنۍ سره وو.
- د جنوري په څلورمه نیټه د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې نامعلومه وسلوالو یو متنفذه قومي مشر او د ولسوالۍ د شوراي غړي چې مسجد خواته روان وو په ډزو سره ووژل.
- د مي په ۱۳ نیټه په کابل ښار کې نامعلومه وسلوالو د سولې د عالي شوراي یو وتلي غړي چې په خپل موټر کې یې سفر کاوه په ډزو سره ووژل.

## د یوناما د ۲۰۱۱ کال د ملکیانو د ساتنې د راپور په اړه د طالبانو غبرګون

طالبانو د فبرورې په پنځمه نیټه د یوناما د ۲۰۱۱ کال د ملکیانو د ساتنې کلنې ریپوټ په اړه ښکاره غبرګون وښود. دوی یوه اعلامیه نشر کړه او د شپې د عملیاتو یا چاپو په نتجه کې د ملکي مرګ ژوبلو په اړه د یوناما موندنې یې د پوښتنې وړ وبللې.[43]د دوی استدلال دا وو چې د دولت پلوه ځواکونو له لوري د شپې مهال عملیاتو یا چاپو په نتجه کې د ۶۳ ملکیانو وژنه چې یوناما یې راپور ورکړي وو ناسم دي. د طالبانو اعلامیه د ۳۱ جلا جلا پېښو یادونه کړي وه او ادعا یې کړې ده چې یوناما د ۲۰۱۱ کال په کلنې راپور کې دغه پېښې ندي ځاي کړي. په دغو لیست شویو پېښو کې هوایي بریدونه، ځمکنۍ شخړي، د ډزو پېښې او د شپې مهال عملیات یا چاپې راځي چې د دولت پلوه ځواکونو له لوري تر سره شوي دي.
یوناما د طالبانو په اعلامیه کې د ذکر شویو پېښو له دقیقې مطالعې ورسته خپل تفصیلي ځواب برابر کړ او د طالبانو له هغې منبع سره چې د دوی ښکاره غبرګون یې نشر کړي وه شریک کړي دي. له لیست شویو ۳۱ پېښو څخه ۲۳ پېښې یې یوناما تائید او شمیرلې دي چې هره یوه یې د یو شمیر ملکي کسانو د مرګ ژوبلې لامل شوې ده. د یوناما د ملکي کسانو د مرګ ژوبلې شمیرې له هغو شمیرو سره چې طالبانو ذکر کړي دي برابر وو؛ یا هم په ځینو مواردو کې کم او زیات د هغو ملکیانو د مرګ ژوبلې په اړه چې تصدیق یې شوي دي تفاوت درلود. په پاته ۸ پېښو کې چې د شپې مهال عملیات یا چاپې وي یوناما دغه پېښې ثبت کړي ندي او یا هم هغه کسان چې په دغو پېښو کې وژل شوي، ټپیان یا نیول شوي دي ملکیان نه وو.

یوناما یادونه کوي چې د طالبانو اعلامیه مختلف نظامي او پولیسي عملیات چې د دولت پلوه ځواکونو له لوري ترسره شوي دي د هوایي بریدونو په ګډون د شپې مهال عملیاتو یا چاپو سره ګډ کړي دي. دا کیدایشي لدې کبله وي چې د شپې مهال عملیاتو یا چاپو کې کیدایشي له هوایي بریدونو (د نژدې هوایي ملاتړ ماموریتونه) څخه کار واخستل شي. یوناما د شپې مهال عملیات یا چاپې، هوایي بریدونه او ځمکنۍ شخړې د جلا جلا تاکتیکونو په توګه شماري.

د نورو معلوماتو لپاره لومړۍ ضمیمه وګورئ.

---

[43] د ملکیانو د مرګ ژوبلې په اړه د یوناما د یوجانبه ریپوټ په اړه د افغانستان د اسلامي امارت اعلامیه، ۱۲۰۱۲/۰۲/۰۵ . انلین http://shahamat-english.com/index.php?option=com_content&view=article&id=14914:statement-of-islamic-emirate-regarding-the-recent-one-sided-unama-report-on-civilian-casualties&catid=4:statements&Itemid=4. Accessed 24 July 2012.

## د تولني نظرونه:
## بشري حقونو په هغو سيمو کې چې د دولت ضد عناصرو له لوري کنټرولیږي

*زمونږ د کليوالو لپاره کوم انتخاب نشته. حکومت ډير کم کنټرول لري، او لږ يا هم بيخي حضور نلري. دا د دي لامل شوي ده چي طالبان د يواځني ځواک په توګه عمل وکړي ترڅو بيا قوت ترلاسه کړي. د طالبانو د موازي حکومت مقامات ماليات را غونډ وي. دوي همدرانګه بزګران د ټوپک په خوله ديته اړ ايستلي چي د خپل حاصل ۱۰ سلنه طالبانو ته ورکړي. طالبان همدارنګه ځوانان باندي غږ کوي ترڅو د دوي له جنګړه مارو سره يوځاي شي؛ او هغه کسان چي نه غواړي د دوي د حرکت لپاره کار وکړي په مرګ ګواښي.*[44]

په بلخ ولايت کې د کلي يو ملک چې له يوناما سره يې د ۲۰۱۰ کال د مي په ۲۹ خبري کړي دي.

د تولني نظرونه د ملکيانو د ساتني په اړه د انتقال د پروسي او امنيتي بدلونونو په اوسني حالت کې ځانګړي ارتباط لري. د خلکو درک له امنيت او حکومتدارۍ څخه د خلکو په اعمالو باندي تاثير لري په ځانګړي توګه کله چي خلک د امن او اذادي احساس کوي او د خپلو اساسي بشري حقونو لکه د خوځښت اذادي، سياسي مشارکتونه، تعليم او روغتيايي اسانتياوو څخه ګټه اخلي. يو داسي چاپيريال چي په ناامني، ضعيفه حکومتدارۍ او د ساتني په نشتون باندي معرفت ولري کيداېشي پرمختيا، ساتنه، د خلکو مشارکت او روغتيا څخه مخنيوی وکړي. د بيلګي په ډول، کله چي يوه کورنۍ تصميم نيسي چي خپل ځامن او لوڼي ښوونځي ته واستوي دا د امن نه د دوي په درک پوري اړه لري چي ايا د دوي ماشومان په خوندي توګه ښوونځي ته تللاېشي.

د يوناما د ماموريت د يوي برخي په توګه په شخړو کې د ملکيانو حالت او د دوي بشري حقونو څخه ساتنه مانيتور کوي او راپور يې ورکوي. نو په همدي اساس يوناما په ټول هيواد کې له بيلا بيلو افغاني ټولنو سره سلاه مشوري وکړي تر څو د دوي نظرونه د دوي د بشري حقونو د ساتني په اړه په هغو سيمو کې چي حکومت محدود لاسرسي او شتون لري واخلي. دغه سلا مشوري له مرکو څخه تشکيل شوي دي چي د ۲۷ ولايتونو په ۹۹ ولسواليو کې چي د دولت ضد عناصر يکښي بشپړ يا محدود کنټرول لري د ټولني غړو، د ټولني له مشرانو، د مدني ټولني له غړو او د سيمېزو حکومتي مقاماتو سره ترسره شوي دي.[45]

له ۹۹ ولسواليو څخه په ۱۱ ولسواليو کې چي سلا مشوري تر سره شوي دي د انتقال پروسه په لومړي يا دوهمه مرحله کې بشپړه شوي ده (په ترتيب سره جولاي ۲۰۱۱ او نومبر ۲۰۱۱) چي تقريباً د ټولو مانيتور شويو ولسواليو ۱۱ سلنه تشکيلوي. ديرش نوري ولسوالی چي سلامشوري يکښي ترسره شوي دي د انتقال د دريمي مرحلي لاندي راځي چي د ۲۰۱۲ کال په جولاي کې به پيلېږي. يوناما همدارنګه د کنړ د ولايت په شپږو ولسواليو او د نورستان په ولايت کې له شپږو نورو ولسواليو له ټولنو سره سلاه مشوري ترسره کړي دي. که څه هم په رسمي توګه انتقال په دغو دوو ولايتونو کې نده ترسره شوې خو نړيوالو نظامي ځواکونو خپلي قرارګاوي د نورستان او کنړ له ولايتونو څخه په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کلنو کې ويستل.

که څه هم د افغانستان حکومت په عمومي ډول د هيواد اکثريت برخه کنټرولوي خو د يوناما او په کليوالو سيمو کې د افغانانو تصميمونه يو نظر منعکس کوي چي د دولت ضد عناصر د افغانستان په ځينو زونونو کې په غيري رسمي توګه په يوه سيمه يا ټوله ولسوالی کنټرول لري. ټولنو په يوه غږ دا په ډاګه کړي دي چي د دولت ضد عناصر خپل ځان خلکو ته د افغانستان د حکومت د يوه بديل په توګه وړاندي کوي. خلکو يوناما ته په يوه غږ ويلي دي چي د دلت ضد عناصرو دا توان درلود چي له معافيت سره له بشري حقونو څخه تيري وکړي . په دغو تيرويو کې وژني، د وجود د غړيو پريکونه، تښتونه او وهل ډبول راځي. د غو کړنو په هغو سيمو کې چي حکومت محدود واک لري د بشري حقونو څخه د ګټه اخستني لکه د خوزښت اذادي، تعليم ته لاسرسي، د بيان اذادي او د موثري رجوع حق په لاره کې ستونزي جوړي کړي دي.

---

[44] په بلخ ولايت کې د کلي يو ملک چې له يوناما سره يې د ۲۰۱۰ کال د مي په ۲۹ مرکه کړي ده؛ يوناما مزارشريف

[45] د ولسواليو او سيمو بشپړ ليست پدي ريپوټ کې د دي لپاره نه دي چمتو شوې ترڅو له هغو ټولنو څخه چې له يوناما سره يې خبري کړي ساتنه وشي.

په اکثریت هغو سیمو کې چې د طالبانو په ګډون دولت ضد عناصرو له لوري په نژدې تیرو کالونو[٤٦] کې په بشپړ یا نسبي توګه کنټرولېږي د بشري حقونو ساتنه او د حفاظت په موضوعاتو کې چې په دې برخه کې ځیرل کېږي کوم نوي بدلون ندي راغلي. کوم نظریات چې وړاندې شوي دي د هغو ټولنو حالت انځور وي په کوم کې چې دغه ټولنې (له هغو ټولنو سره چې یوناما مرکې کړې دي) د زیاتې مودې لپاره ژوند کوي.

لاندې کوم موارد چې ذکر شوي دي د هغو سیمو په هکله چې د دولت ضد عناصر هلته قوي کنټرول یا نفوذ لري د بشري حقونو د ساتنې په اړه د خلکو د نظریاتو او اندیښنو ارزونه ده.

## د افغانستان د حکومت کنټرول

ډیرو هغو ټولنو چې یوناما ورسره مرکې کړې دي ریپوټ ورکړې دی چې نا امنۍ د دوې په سیمو کې د حکومت له نشتون سره نیغه اړیکه لري. د ډیرو نارامو سیمو اوسیدونکو، په ځانګړې ډول هغه سیمې چې د دولت ضد عناصرو تر موثرې ولکې لاندې دي، ریپوټ ورکړې چې د دوې په کلیو کې دولت پلوه ځواکونه شتون نلري. په ډیرو ولسوالیو کې مرکه ورکوونکو دا یادونه کړې ده چې افغان ملي امنیتي ځواکونو د ولسوالۍ د مرکز په ساتلو تمرکز کړی دی. یوناما د ۲۰۱۲ کال د مې په ۲۸ د فاریاب په ولایت کې د یوه قومي مشر له ځوې سره بحث کړې چې نوموړې په لاندې ټکو تأکید کړې دی:

> حکومت تنها په لویه لاره باندې کنټرول لري مګر د لویې لارې دواړې غاړې نا امنه دي او طالبان هر هغه څه چې وغواړي هلته یې کولای شي. حکومت د ولسوالۍ په مرکز او هغو کلیو کې چېرته چې اربکیان د سیمه ایزو پولیسو په چوکاټ کې ګمارل شوي دي کنټرول لري.[٤٧]

څنګه چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او حکومت شتون په ډیرو ځایونو کې تنها د ولسوالیو تر مرکزونو پورې محدود دی، نو لدې امله د دولت ضد عناصر په سیمو کې په اذاده ډول ګټ او راټګ کوي تر څو د دغو ټولنو قوي واک خپل کړي یا هم سیمه ایز اوسیدونکي تحدید او ازار کړي ترڅو د دوې ملاتړ وکړي. د متاثره شویو ټولنو ډیرو غړیو په یوه غږ د حکومت څخه خپل نا خوښي څرګنده کړې ده او په ځینو سیمو کې یې د دولت ضد عناصرو له ډلو سره ایدولوژیکي ملاتړ څرګند کړی دی. د دوې نظر دادې چې دغه ډلې د حکومت (چې دوی یې په فساد کې ښکیل توصیف کوي) په ځای یو بدیل دی.

له هغو ټولنو سره چې مرکې شوي دي دا یادونه کړې ده چې ایساف او افغان ملي امنیتي ځواکونه په هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصر ښکاره کنټرول لري نظامي عملیات ترسره کړي دي خو بیرته په بیړه له دغو سیمو څخه د ولسوالیو مرکزونو ته په شا شوي دي؛ له همدې امله د دولت ضد عناصرو په دغو سیمو کې خپل شتون ډیر کړی دی. یوناما بې شمیره ریپوټونه ترلاسه کړي دي چې د شپې مهال د دولت ضد عناصر د کلیوالي سیمو په سړکونو باندې ګزمې کوي او خوځیدونکې(مبایل) پوستې جوړوي. یوناما همدارنګه ریپوټونه ترلاسه کړي دي چې په هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصرو کنټرول لري د دولت پلوه ځواکونو عملیات په تیرو شپږو میاشتو کې کم شوي دي لکه د بادغیس په ولایت د جون ولسوالۍ.

---

[٤٦] د دولت ضد عناصرد افغانستان په سهیل، سهیل ختیځ او ختیځو سیمو کې ټولې ولسوالۍ او په ځینو مواردو کې تقریبأ ټول ولایت (په مختلفو اندازو) کنټرولوي. سیمیزو خلکو یوناما ته ویلي چې د ولایتونو او ولسوالیو د مرکزونو په استثنأ په سهیل ختیځ کې د پکتیکا او خوست ولایتونو زیاتې برخې تقریبأ په بشپړډول د دولت ضد عناصرو تر ولکې لاندې دي. په شمالي ولایتونو بلخ، سرپل، فاریاب او جوزجان ولایتونو کې سیمیزو خلکو ځینې سیمې توصیف کړې دي چې د دولت ضد عناصرو تر ولکې لاندې دي. د مرکزي ولایتونو په مشخصو ولسوالیو کې لکه کابل (صرف د سروبي ولسوالي)، کاپیسا، پروان او زیاتې سیمې په لوګر او میدان ښار کې په یوشان حالت کې دي. په لویدیځو ولایتونو هرات، فراه، بادغیس او غور کې خلکو راپور ورکړې دی چې د دولت ضد عناصر د ولسوالیو د مرکزونو څخه د باندې په ځینو سیمو کې شتون لري. مربوطه ادارو ریپوټ ورکړې دی چې په شمال ختیځو ولایتونو بدخشان، بغلان، کندز او تخار کې د دولت ضد عناصر شتون لري. په مرکزي سیمو (دایکندي او بامیان) کې داسې ځای نشته چې د دولت ضد عناصرو له لوري کنټرولیږي؛ خو هغه خلک چې د نورو ولایتو سره په سرحدي سیمو کې ژوند کوي په دغو سرحدي سیمو کې د دولت ضد عناصرو له شتون څخه اغیزمند دي.

[٤٧] په فاریاب ولایت کې د یوه بانفوذه پښتون قومي مشر له ځوې سره د یوناما مرکه. دغه مرکه د ۲۰۱۲ کال د مې په ۲۸ د یوناما په دفتر چې د میمینه په ښارکې موقیعیت لري ترسره شوې ده.

## د دولت ضد عناصرو کنترول او نفوذ

په هغو سيمو يا ولسواليو کې چې طالبان يا د دولت ضد عناصرو نوري ډلي قوي کنترول لري دا تر ډيره بريده د دوي په توان پوري اړه لري چې څنګه کولاي شي د سيمه ايزو خلکو ملاتړ خپل کړي يا يې وساتي. په هغو سيمو کې چې د دولت ضد عناصرو د سيمه ايزو خلکو ملاتړ خپل کړي دي د طالبانو نومول شوي ولسوالان په اکثره مواردو کې د سيمي له خلکو څخه تړاکل شوي دي. خو دغه نومول شوي ولسوالان د طالبانو د رهبري شبکي ته په بل ځاي کې مسؤل دي. د بيلګي په ډول، تولنو ريپوټ ورکړي چې د غور ولايت په شارک ولسوالۍ کې د طالبانو نومول شوي ولسوال او نور نومول شوي چاروکي شتون لري. له يوناما سره په يوه مرکه کې چې د ۲۰۱۲ کال د مي په ۲۹ ترسره شوه د بلخ ولايت د يوي ولسوالۍ د کلي مشر يوناما ته وويل چې د طالبانو د قوي کنترول لپاره سيمه ايز ملاتړ ډير مهم دي:

> ځيني سيمه ايز خلک په ايدولوژيک ډول د طالبانو ملاتړ کوي او دوي له ديني لحاظه د طالبانو تر اغيز لاندي دي. دغه سيمه ايز خلک فکر کوي چې طالبان نسبت حکومت ته زيات د شريعت په اصولو عمل کوي. دغه محافظه کاره سيمه ايز خلک حتي علاقه لري چې د طالبانو له قيام سره يو ځاي شي او دوي د طالبانو حکومتدارۍ ته تر حکومت ترجيح ورکوي.[۴۸]

په هغو سيمو کې چې طالبان او د دولت ضد عناصرو نوري ډلي ندي توانيدلي چې د سيمه ايزو خلکو ملاتړ ترلاسه کړي دو د سيمه ايزو خلکو په ازار او اذيت او سزا ورکوله لاس پوري کړي دي. د بيلګي په ډول، د غزني ولايت د اندړو په ولسوالۍ کې د طالبانو په وړاندي د سيمه ايز خلکو د مخالفت ورسته د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۰ او ۲۳ نيټه د طالبانو جګړه مارو په سيمه کې څلور کورونه وسوځول.

[۴۸] د بلخ په ولايت کې د يوناما مرکه د کلي د يوه مشر سره. مرکه د ۲۰۱۲ کال د مي په ۲۹ په مزارشريف کې د يوناما په دفتر کې ترسره شوه.

## د بشري حقونو څخه تېري په هغو سيمو کې چې د طالبانو تر ولکي لاندي دي

*موازي قضايي جوړښتونه*[٤٩]

- *يوه هلک خپله مور د يوه نامعلوم مخالف له امله ووهله. کله چې طالبانو د دي موضوع په اړه وا وريدل نو سملاسي يې هلک له کور څخه ونيول او بوي غوندۍ ته يې و خېژول. طالبانو همدارنګه د سيمي خلک ور وغوښتل ترڅو د دوي سزا وګوري. کله چې خلک سره راټول شول نو طالبانو د هلک سترګي ور وتړلي ا بيا يې هغه په ډزو سره ووژل. په يو څو دقيقو کې طالبانو دوسيه او سزا يې اعلان کړه.*[٥٠]

- د بلخ په ولايت کې د کلي يو مشر چې د ۲۰۱۱ کال په ورستيو کې يې د طالبانو سزا ورکول په خپلو ستروګو ليدلي وو. دغه مشر د بلخ په ولايت کې د ۲۰۱۲ کال د مي په ۲۷ د يوناما سره مرکه کړي.

هغه سيمي چې د دولت ضد عناصرو تر قوي کنترول لاندي دي هلته د حکومت قضايي ميکانيزمونه او خدمات ډير محدود دي. د دولت ضد عناصر د دغي قضايي تشي څخه ګټه پورته کوي او په متاثره شويو سيمو کې خپل موازي قضايي جوړښتونه پلي کوي. دوي د جنايي قضيواو دعوو په اړه تصاميم نيسي او په ځينو مواردو کې خلک چې د دولت پلوه ځواکونو په ملاتړ تورن وي محاکمه او سزا ورکوي. د غه قضايي جوړښتونه غيري قانوني دي او د افغانستان د قوانينو له مخي مشروعيت نلري. کومي سختي سزاګاني چې د دغو جوړښتونو په اساس ترسره شوي دي د افغانستان د قوانينو له مخي جرمي عملونه دي او په ځيني حالاتونو کې جنګي جرمونه بلل کيداېشي. څنګه چې دغه ميکانيزمونه غيري قانوني دي؛ نو يوناما په دي نظر ده چې د دغو جوړښتونو موجوديت او له هغه څخه راوتلي سزاګاني د بشري حقونو څخه تېري دي. نو په دي اساس د يوناما تحليل د دغو طرزالعملونو عناصر چې خلکو د نړيوالو بشري حقونو د معيارونه سره په مطابقت کې راپور کړي دي نه ارزوي؛ لکه د عادلانه محاکمي معيارونه.
يوناما ډيري پېښي ثبت کړي دي چې د دولت ضد عناصر هغه خلک چې د دولت پلوه ځواکونو په ملاتړ تورن دي ورسته له علني محاکمي وژلي يا شل شوټ کړي دي؛[٥١] چې د قانوني، شفاف او کار ورکونکي قضايي محاکمي نشتون يې بدتر کړي دي. دا د دولت ضد عناصرو د موازي قضايي جوړښتونو په نتجه کې د بشري حقونو د قربانيانو لپاره د حکومت د جبران خساري د ميکانيزمونو د نشتون له کبله رامنځته شوي دي.

سيمه ايزو خلکو څرګنده کړي چې د ناامني له کبله هغه سيمي چې د طالبانو تر قوي کنترول لاندي دي هلته د حکومت لخوا ټاکل شوي قاضيان او څارنوالان په زياتو وختونو کې پاته کيدلاي نشي. د حکومت دغه چارواکي د دولت ضد عناصرو لخوا د ترور کيدلو تر ځانګړي خطري لاندي دي.[٥٢] د بيلګي په ډول يوناما د ننګرهار ولايت په بهسودو ولسوالی کې او د لغمان ولايت په قرغي ولسوالی کې د قاضيانو په نښه شوي وژني؛ او د کنړ ولايت په دره پيچ ولسوالی کې د قاضيانو د تښتوني پېښي ثبت کړي دي. د اورزګان ولايت په اکثره ولسواليو کې د ناامني او ګواښونو له امله رسمي ټاکل شوي قاضيان او څارنوالان حضور نلري.[٥٣] په نښه شوي وژني، تښتوني او ګواښونه د چارواکو لپاره د ډار يو محيط را منځته کړي دي؛ او هغوي لدي څخه منع کوي چې په دغو سيمو کې وظيفي واخلي او کار وکړي.

د قانون د حاکميت لويه تشه عدالت ته د لاسرسي نور هم مخنيوي کوي. د دولت ضد عناصر په دي قادر دي چې د ولسواليو په لېرو پرتو سيمو کې چېرته چې خلک نشي کولاي رسيمي عدلي ادارو ته لاس رسي وکړي خپل

---

[٤٩] د موازي قضايي جوړښتونو ترمينالوژي په دغه ريپوټ کې بايد په دي مفهوم درک نشي چې يوناما دغه موازي قضايي ادارو سيستمونه چې طالبانو يا دولت ضد عناصر تري کار اخلي قانوني بولي. دغه ترمينالوژي صرف د دي لپاره کارول کيږي چې د طالبانو لخوا د هغو ترسره شويو کړنو چې د عامه نظم د راوستلو لپاره (لکه د موازي قضايي جوړښتونو د محاکمي ورسته وژنه) او هغه کړني چې په جګړه پوره اړه لري لکه په نښه شوي وژني او بريدونه ترمنځ تو پير وشي. يوناما د موازي قضايي سيستم اصطلاح په ځاي [موازي قضايي جوړښتونو] اصطلاح کاروي ځکه چې دغه دواړه اصطلاګاني د قانوني سيستم برخه ندي.
[٥٠] د بلخ په ولايت د يوي ولسوالۍ د کلي د يوه مشرسره د يوناما مرکه. مرکه د ۲۰۱۲ کال د مي په ۲۷ په مزارشريف کې د يوناما په دفتر کې ترسره شوه.
[٥١] که څه هم دغه قضي چې يوناما ثبت کړي دي يو له بله سره په ځينو حالاتو کې کم توپير لري؛په علني محاکمو کې د ولت ضد عناصر يو يا زيات ملکيان په يوه مشخص جرم باندي په يوه عام ځاي کې تورن وي ، ا و بيا يې سزا او ملامتيا اعلانوي او له محاکمي ورسته سملاسي په ښکاره ډول سزا تطبيق وي.
[٥٢] د غور ولايت سيغا ولسوالۍ رسيمي ټاکل شوي قاضي د نا امني له کبله د ولايت مرکز ته ليږل شوي دي.
[٥٣] په ځيني مواردو کې د قضا مامورين د ټيټو تنخاګانو، د تګ او راتګ د وسيلو، دفتر او د اوسيدني د ځاي د نشتون له کبله د وظيفي په ځاي کې حضور نلري.

نفوذ ښکاره کړي.[٥٤] د ټولنو هغه غړي چې د یوناما له خوا مصاحبه ورسره شوي خپل ملاحظات د عدلي سیتم د قابلیت په اړه چې په شفافه او خپل وخت قضیې حل او فصل کړي په ډاګه کړي دي ؛ دوي اداري فساد او نا اهلیت د کلیدي فکتورنو په توګه ذکر کړي دي. سربېره پردې، ډیرو مصاحبه ورکونکو راپور ورکړي چې د دولت ضد عناصر په خلکو ډېر زیات فشار راوړي او تحدیدوي یې چې د طالبانو موازي قضایي جوړښتونو ته غاړه کېږدي.

موازي قضایي جوړښتونه غیر قانوني دي. د افغانستان د قانون له مخې د دغو جوړښتونو په اساس سزاګانو روکول لکه اعدام او شل او شوټ کول جرمي عملونه دي. د حکومت بې کفایتي چې مرتکبین د دغو سزاګانو له کبله حساب ورکولو ته اړ باسي کیدایشي جرمونو ته د قانوني لاسرسي د اصل له مخې د بشري حقونو سرغړنه وبلل شي. [٥٥] سربېره پردې، عملونه لکه اعدام، د وجود د یوه غړي پرېکونه او شل او شوټ کوونه د ژینو د قراردادونو سخت تیري بلل کیږي او جنګي جرمونه بلل کیدایشي. د ژینو د قراردادونو دریمه ګډه ماده په واضیح توګه سزاګاني چې د دغو قضایي سیستمونو په اساس ترسره کېږي منع کوي. دریمه ګډه ماده په ځانګړي توګه (الف) " ژوند او شخص ته تاوتریخوالي، په ځانګړي توګه هر ډول قتلول، شل او شوټ کول، ظالمانه چلند او شکنجه" منع کوي؛ (د) " د حکم کول او د قانوني منظمي محکمي د حکم پرته د اعدام ترسره کول د ټولو قضایي ضمانتونو چې د مدني خلکو لخوا حیاتي پیژندل شوي دي څخه تیري دي ."

## د موازي قضايي جوړښتونه تشکیلونکي عناصر

یوناما د څو محاکمو جریان څیړلي او ځیني عمومي فکتورونه یې ملاحظه کړي دي. که څه هم ځیني قضایي میکانیزمونو چې په غیري منظمه توګه په لاره اچول شوي دي په هغو کې طالبانو د محلي شوراي او جرګو په جریان کې مداخله کړي؛ مګر نور میکانیزمونه ډیر منظم او کار ورکونکي دي.[٥٦] حتي که چېرته ډیر منظم موازي قضایي جوړښت وجود ولري مګر هغه بیا هم ګرځنده وي. په ځینو سیمو کې خلکو راپور ورکړي چې د طالبانو محکمي په کویټه کې ډیر مهم جنایي قضیي تر کار لاندي نیسي. د بیلګي په ډول د ټولني غړو د غزني په ولایت کې راپور ورکړي چې د طالبانو سیمه ایز قضایي کمیسون له وړو جنایي موضوعاتوسره معامله کوي او جدي قضیي ( چې په هغه کې د مرګ سزا شامله وي) کویټي ته حواله کوي. همدارنګه د اروزګان په ولایت کې د ښاري محکمي قاضي او د ولایتي شوراي غړي راپور ورکړي چې د طالبانو قضایي جوړښت وجود لري چې له جنایي قضیو سره معامله کوي ؛ حال داچې جدي قضیي په کویټه کې د طالبانو محکمي ته حواله کوي.[٥٧]

په عمل کې موازي قضایي جوړښتونه ځیني وختونه له سیمه ایزو غیري قضایي میکانیزمونو سره چې د قومي مشرانو او سیمه ایزو شوراګانو له خوا رهبري کیږي په تکمیلونکي ډول عمل کوي. د جوزجان ولایت د ځینو سیمو اوسیدونکو راپور ورکړي چې طالبان سیمه ایزو غیري رسیمي قضایي میکانیزمونو ته اجازه ورکوي چې کورنی او اجتماعي ستونزي هواري کړي اما د جنایي پیښو حل او فصل کولو حق خپلو محکمو ته ورکوي. په نورو سیمو کې د دولت ضد عناصر خپل قاضیان او څارنوالان ټاکي تر څو له جنایي پیښو سره معامله وکړي. دغه ټاکل شوي مقامات منظم حضور لري او قضیي حل او فصل کوي او حکومونه صادروي. د بیګي په ډول د اروزګان ولایت د ترینکوټ په ولسوالۍ کې پولیسو او د ملي امنیت ریاست منابعو دا تأیید کړي چې د طالبانو ټاکل شوي قاضي په فعاله توګه قضیي حل او فصل کوي.

---

[٥٤] دا ستونزه د افغانستان په ټولو محیطي یا لیرو سیمو کې شتون لري او په هغو سیمو پوره محدود نده چې د دولت ضد عناصرو له لوري کنترولیږي. اما په هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصرو له لوري کنترولیږي دا ستونزه د دولت ضد عناصرور او ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو د شتون له کبله نوره هم جدي ده.

[٥٥] جرمونو ته د قانوني لاسرسي اصل داسي وايي: " که څه هم یو غیر قانوني عمل چې بشري حقونه نقض کوي او کوم چې له لویه سره حکومت ته منسوب نه وي ( د بیلګي په توګه دا د یو شخص عمل دي او مسؤل کس ندي پیژندل شوي) کیدایشي حکومت ته نړیوال مسؤلیت متوجه کړي؛ لدي کبله نه چې عمل ترسره شوي ده بلکې جرمونو ته د قانوني لاسرسي د نشتون له کبله چې ترڅو له تیرویو څخه مخنیوي وشي او یا یې ځواب وویل شي". د بشري حقونو امریکایي محکمه، په ۱۹۸۸ کال قضایي پریکړه چې د ویلیس کویزروډ ریکویز د قضیه په اړه وشوه (یو لړ د تری تم کیدو پیښې چې د غیري حکومتي کسانو له خوا ترسره شوي وي).

[٥٦] په ټول افغانستان کې د سیمي ملایانو او قومي مشرانو غیري رسیمي قضایي میکانیزمونه (جرګي) په کار اچوي چې په هغو کې مناقشي حل او فصل کوي او په جنایي موضوع ګانو فیصلي کوي. د دغو غیري رسمي قضایي میکانیزمونو او د طالبانو د موازي قضایي جوړښتونو تر منځ اصلي توپیر دادي چې طالبانو خپل قاضیان، کمیسونونه او محکمي د دي موخي لپاره ټا کلي دي او همدارنګه په قانون کې چې په دي جوړښتونو کې تري ګټه اخستله کیږي هم توپیر شته دي. یوناما ونشوکولاي چې هغه قانون چې په موازي قضایي جوړښتونونه کې تر ګټه اخستل کیږي تشخیص کړي ځکه په مختلفو سیمو او راز راز قومونو کې توپیر لري.

[٥٧] یوناما ونشوکولاي چې تصدیق کړي چې کوم ډول قانون څخه په دي محکو کې کار اخستل کیږي ( که چېرته داسي وي).

د ۲۰۱۲ کال د مارچ د میاشتي په اتمه نیټه د نړیوالو نظامي ځواکونو او افغان ملي امنیتي ځواکونو د ګډو عملیاتو په ترڅ کې د طالبانو یو شکمن قاضي ونیول شو چې یوناما د هغه د بیان په اساس په پکتیکا په ولایت کې د طالبانو د موازي قضایي جوړښت جریان ثبت کړي دي. د ملي امنیتي ځواکونو لخوا تحقیقات او د ملي امنیت د څارنوالي له لوري صورت دعوه دا څرګندوي چې شکمن کس د طالبانو لخوا ټاکل شوي وو ترڅو د طالبانو یو سیمه ایز قضایي کمیسون رهبري کړي.[۵۸] دغه کمیسون چې په یوه مدرسه کې موقیعت درلود له پنځو تنو څخه تشکیل شوي وو چې شکمن کس یې مشري کوله اومدني او جنایي پیښني به یې حل او فصل کولي. شکمن کس د څلورو کسانو په قتلولو تورن وو چې نوموړي د مرګ سزا ورکړي وه چې په هغه کې د غزني ولایت یو پخواني والي هم شامل وو.[۵۹]

[۵۸] په دغه قضیه کې موازي قضایي جوړښت د طالبانو قضایي کمیسون ته منسوب کیږي څنګه چې په صورت دعوه کې ذکر شوي او پخپله شکن کس د مصاحبي په ترڅ کې چې د ۲۰۱۲ کال د جون په شپږمه نیټه د پکتیکا په عمومي محبس کې ترسره شوي یوناما ته ویلي دي.

[۵۹] شکمن کس د خپلي محکمي د پریکړي په اساس د څلورو کسانو په قتلولو چې نوموړي یې د مرګ حکم کړي وو تورن دي. په دغو کسانو کې د غزني ولایت پخواني والي، د یوي ساختماني کمپني دووه کارکوونکي چې د امریکایانو د ملاتړ په تور وژل شوي دي، او د ملي اردو یو عسکر راځي چې دحکومت په ملاتړ تورون وو او لومړي د طالبانو لخوا برمته شو او ورسته بیا ووژل شو. شکمن کس د ابتدایه محکمي له خوا برأت اخستي مګر د ملي امنیت څارنوال استناف طلبي کړي او اوس دوسیه د استناف په محکمه کې ده.

## سزاګاني

*یوه ورځ یوه ساتونکي له خپل ملګري سره د مخابري له لارې اړیکه ونیوله. له غار څخه یې زه کرونډي ته بوتلم او تصمیم یې ونیول ترڅو له ما سره لوبې وکړي. ما ۵۰ یا ۶۰ وسلوال ولیدل. دوی بیرته زما سترګې را وتړلې. دوی غوښتل چې ما حلال کړي؛ یو چا زما په غاړه چاړه کېښودله. ورسته یوبل کس مداخله وکړه او دوی ته یې وویل چې دا کس زوړ دی او باید حلال نشي بلکې یولاس یې غوڅ شي. بیا دوی زه په زوره واخستم او یو کس ته یې وویل چې زما ښي لاس وتړي. هغه زما مړوندونه په دوو رسیږو را وتړل. ورسته هغوی په یوه چاړه زما لاس اول د بند له پاسه او بیا لاندې خوا څخه غوڅ کړ. بیا یې زما لاس د بند له هډوکي څخه په زوره جلا کړ. کله چې دوی زما د لاس لاندې خوا غوڅوله نو ډیر درد یې کاوه خو ما چیغې ندې وهلې؛ ځکه چې زه یو نارینه یم.*[٦٠]

- *یو قرباني چې لاس یې د طالبانو لخوا د ۲۰۱۲ کال د اپریل په میاشت کې غوڅ شو.*[٦١]

د موازي قضایي جوړښتونو په اساس چې کومې سزاګاني ترسره شوې او یا یې هم امر شوی دی په هغو کې اعدام، د بدن د اعضاوو پرې کول، شل او شوټ کول، وهل ټکول، په دورو وهل او بندي کول راځي.[٦٢] یوناما د ۲۰۱۲ کال کې څو پېښې ثبت کړې چې په هغو کې د طالبانو مقاماتو د افغانستان او د بشري حقونو د نړیوال قانون سره په مغایرت کې سزاګانې ترسره کړې دي.[٦٣] لاندې یې یو څو بېلګې دي:

- د ۲۰۱۲ کال د جون د میاشتې په ۲۲ نیټه په پروان ولایت کې د طالبانو ټاکل شوي والي د یوې ۳۷ کلنې ښځې چې په غیري اخلاقي رویه باندې تورنه وه د وژلو حکم صادر کړ. د ښځې میړه چې پخپله د طالبانو غړی وو د راپورنو په اساس ښځه په ډزو سره وژله. د مختلفو منابعو له لوري د دغې پېښې ویډیو په ډیره وسیع توګه خپره شوه. د افغان حکومت منابعو تخمین کړی چې تقریباً د سیمې ۵۰ تنو دغه پېښه په خپلو سترګو په هغه سیمه کې چې دغه پېښه رامنځته شوې وه لیدلې ده.
- د ۲۰۱۲ کال د مې د میاشتې په ۱۷ نیټه د بادغیس په ولایت کې طالبانو د یوه سړي او یوې ښځې چې په زنا باندې تورن وو محاکمه ترسره کړه او په عام محضر کې یې دواړه ووژل.
- د ۲۰۱۲ کال د فبروري د میاشتې په لومړي نیټې د بادغیس په ولایت کې د طالبانو یوې محکمې یو نوی ځوان ملي امنیتي ځواکونو ته د جاسوسي په تور محکوم و پیژندل او د هغه د یوه غوږ په غوڅولو یې هغه ته سزا ورکړه.
- د ۲۰۱۲ کال د فبروري په میاشت کې د غور په ولایت کې د طالبانو یوې محکمې یو کس د غلا په تور په سزا محکوم کړ او د ۱۵ ورځو بند سزا یې ورته واوروله. نوموړی کس د دولت ضد عناصرو د یوه غړي په شخصي کور کې (چې د غیري رسمي زندان په توګه کار ترې اخستل کیده) بندي کړای شو.
- د ۲۰۱۲ کال د فبروري په میاشت کې د غور په ولایت کې د طالبانو یوې محکمې یوه سړي او یوه ښځه د زنا په تور باندې محکوم کړل او دواړه یې په دورو ووهل.
- د ۲۰۱۲ کال د فبروري په میاشت کې په یوه ولایت[٦٤] کې طالبانو یو کس اختطاف کړ او د هغه ښي لاس یې له دې کبله غوڅ کړ چې د نوموړي د کورنۍ غړیو د افغان ملي امنیتي ځواکونو سره

---

[٦٠] د ۲۰۱۲ کال د اپریل په میاشت کې یوناما دغه مصاحبه د یوناما په دفتر کې ترسره کړه. د شخصي امنیت او د قرباني د هویت د افشاکیدو له کبله د دغې پېښې جزیات په دغه راپور کې نه ذکر کیږي.

[٦١] د ۲۰۱۲ کال د اپریل په میاشت کې دغه مصاحبه د یوناما لخوا ترسره شوه. د قرباني په غوښتنه د ولایت نوم دلته نه ذکر کیږي.

[٦٢] د موازي سزاګانو اصطلاح د دولت ضد عناصرو له لوري د یو شخص قصدي وژلو او یا سزا ورکول ته راجع کیږي چې د موازي قضایي محکمې د پریکړې (چې په هغه کې په یو جرم باندې شکمن کس په اعدام محکوم کیږي) ورسته صورت مومي. دغه سزا د جرم د حالت په اساس ترسره کیږي چې د طالبانو یا دولت ضد عناصرو له لوري تعریف کیږي او په هغه کې د افغانستان له دولت سره همکاري یا د دولت پلوه ځواکونو لپاره جاسوسي هم شامیلږي.

[٦٣] د ټولنو د غړیو سره د مصاحبو او د نورو معلوماتي منابعو او بشري حقونو د سازمانونو د معلوماتو په اساس یوناما دغه درک کړي چې د طالبانو د موازي قضایي جوړښتونو په اساس د سزاګانو نورې پېښې هم وجود لري چې راپور یې ندی ورکړل شوی.

[٦٤] د ولایت او سیمې نوم د قرباني د ساتنې په خاطر پټ ساتل کیږي.

کار کاوه. قرباني يوناما ته ويلي چې د سزا تر ورکولو مخته دطالبانو کومه محاکمه نده شوې. مګر نورو منابعو راپور ورکړي چې د طالبانو محکمې د لاس د غوڅ ولو پريکړه کړې وه.[٦٥]

- د ۲۰۱۱ کال د ډيسمبر په مياشت کې د کاپيسا په ولايت کې د طالبانو يوې محکمې يو کس نړيوالو ځواکونو ته د جاسوسي په تور اعدم کړ.
- د ۲۰۱۱ کال د سپټمبر په مياشت کې د ننګرهار په ولايت کې د دولت ضد عناصرو يو کس په دې خاطر اعدم کړ چې نوموړي دولت پلوه ځواکونو ته تيلو اکمالات کول. راپورونه وايي چې د قرباني سترګې تر وژلو مخته ايستل شوې وې.

يوناما يو ځل بيا خپله انديښنه په ډاګه کوي چې د حکومت محدود واک په دغو سيمو کې د دولت ضد عناصر پدې قادر کړي چې د بشري حقونو څخه تيري وکړي او په معافيت کې پاته شي. يوناما تنها له يوې پېښې څخه خبر لري چې مقاماتو د دولت ضد عناصرو هغه کس نيولي چې سزاګانې به يې اورولي کوم چې د افغانستان د قانون له مخې سخت جرمي اعمال دي.[٦٦]

## د خوځښت آزادي

د دولت ضد عناصرو په منظمه توګه د ملکي کسانو د خوځښت آزادي په هغو سيمو کې چې د دوي تر واک لاندې دي و يا دوي هلته حضور لري محدود وي. دوي په دغو سيمو کې ګرځنده يا دايمي پوستې جوړوي، ګرځبنديز لګوي او يا هم په لارويانو ماليه وضع کوي. سربيره په دې ډيرو سيمه ايزو خلکو څرګنده کړې ده چې دوي نشي کولای په اذاده توګه وګرځي ځکه چې کيدايشي د دولت ضد عناصرو له لوري چې عامو سړکونو ته راوځي په نښه شي او ياهم ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکو توکو ور برابر شي. کوم کسان چې د يوناما له خوا ورسره مرکې شوې دي په ډيرو سيمو کې شکايت کړي دي چې په ځينو پوستو کې د مسلحو ګروپونو له خوا په لارو د دوي موټرونه درول کيږي، مسافر څخه پوښتنې کيږي، د دوي اموال ضبط کيږي او په ځينو مواردو کې د دوي مبايل ټليفونونه[٦٧] کتل کيږي تر څو د دولت پلوه ځواکونو سره د اړيکو لرلو اسناد باندې تر لاسه شي.[٦٨]

څنګه چې په اکثره مواردو کې سړکونه د دولت ضد عناصرو له لوري کنټروليږي او دا دولسواليو مرکزونو ته لاسرسي يواځنى وسيله ده نو دايمي يا ګرځنده پوستې د خوځښت د آزادي د حق څخه تيري دي؛ او د ملکي کسانو ژوند په ځانګړي توګه د کار حق متاثره کوي. دا په ځانګړي توګه بزګران متاثره کوي کله چې هغوي نشي کولای د ولسواليو مرکزونو ته د خپلو توليداتو د خرڅلاو لپاره لاړ شي. د بيلګې په ډول د بلخ ولايت په يوه ولسوالۍ کې سيمه ايزو خلکو راپور ورکړي دي چې د طالبانو د پوستو او د ولسواليو مرکزونو ته په غزيدلي سړ ک باندې د ناامنۍ له کبله ډير بزګران مجبور شوي چې خپل محصولات په کليو او باندو کې و پلوري. دا د دې باعث شوي چې ګټه کمه شي او فقر په ځانګړي توګه په بزګرانو کې زيات شي. د ۲۰۱۲ کال د مي د مياشتې په ۲۹ نيټه د بلخ ولايت د شوراي يوه غړي يوناماسره په يوه بحث کې په دې ټينګار وکړ چې د خوځښت آزادي محدوديدل په ژوندانه باندې زيات اغيزي لري:

> - *ځمکنۍ ماينونه او د طالبانو له لوري د سړکونو بنديدل زمونږ دکليولو خوځښت محدودکړي دي. په نتيجه کې بزګران اړ شول چې خپل زراعتي پيداور په خپلو کليو او باندو کې وپلوري او د ولسوالي يا ولايت مارکيت ته يې صادر نکړاي شي. دغه بزګران اوس د فقيرو کورنيو څخه دي.*[٦٩]

---

[٦٥] کوم نقل قول چې د راپور د دغي برخي په سر کې ذکر شوي دي دغي پيښي ته راجع کيږي.

[٦٦] د دغي پيښي په اړه معلومات د (موازي قضايي جوړښتونه تشکيلونکي عناصر) تر عنوان لاندې برخه کې ذکر شوي دي.

[٦٧] په ختيځو سيمو کې سيمه ايزو خلکو راپور ورکړي چې د دوي کسيتونه ضبط شوي دي د مبايل ټليفونونو پيغامونه يې کتل شوي دي.

[٦٨] د کنړ په ولايت کې سيمه ايزو خلکو راپور ورکړي چې ګرځنده پوستې چې د پنځو څخه تر لسو کسانو څخه تشکيل شوي وي د ديرشو يا دوو ساعتونو(د د افغان ملي امنيتي ځواکونو په قابليت پوري اړه لري چې څومره ژر کولاي شي چې دغو پيښو ته ځواب ووايې) لپاره سړک بندوي. په دغه موده کې دوي ملکي کسان دروي د هغوي څخه پوښتنې کوي او د مبايل ټليفونونو پيغامونه يې ګوري.

[٦٩] د يوناما مصاحبه د بلخ ولايت د ولسواليو د يوې کليوالي شوراي له غړي سره. دغه مصاحبه د ۲۰۱۲ کال د مي په ۲۹ د مزارشريف په ښار کې د يوناما په دفتر کې ترسره شوې ده.

## غيري قانوني ماليات

يوناما راپورونه ترلاسه کړي دي چې د دولت ضد عناصرو تقريباً په ټولو هغوسيمو کې چې د دوي تر پوره يا نسبي کنټرول لاندي دي غيري قانوني ماليات وضع کړي دي. په عمومي توګه د دولت ضد عناصرو په لارو کې پوستي جوړوي او له لارويانو څخه پيسي اخلي. د هيواد په کچه ډيرو مرکه ورکوونکو يوناما ته ويلي چې د دولت ضد عناصرو د مالياتو اخستل توجيه کوي او وايي چې دا د دي لپاره ضروري دي چې له سيمي څخه بهر د سفر کولو اجازه ترلاسه شي. يوناما همدارنګه له ځينو سيمو څخه راپورنه ترلاسه کړي دي چې د دولت ضد عناصرو په سيمه ايزو ښوونځيو کې په معلمينو باندي هم ماليات وضع کړي دي.

د ختيځو سيمو په ځينو برخو کې د دولت ضد عناصرو له سيمه ايزو خلکو څخه عشر( د زراعتي پيداورو ۱۰ فيصده) او زکات (د مال دوه نيم فيصده) اخلي.[70] په ختيځو سيمو کې دغه ماليات په زياته کچه غونډشوي چې د کلي امام د طالبانو لپاره دغه کار ترسره کوي.

يوناما همدارنګه راپورنه ترلاسه کړي دي (په ځانګړي توګه له هغو سيمو څخه چيرته چې خلک د کوکنارو په کرلو ډيره تکيه کوي) چې د دولت ضد عناصر په هغو بزګرانو چې کوکنار کري ماليات وضع کوي. په ځينو مواردو کې د غه ماليات د کوکنارو د له منځه وړو د کمپاينونو څخه د کوکنارو د ساتني په خاطر اخستل کيږي. د هرات ولايت د شينډن ولسوالی او د افغانستان د ختيځو سيمو څخه د دغو پيښو راپورنه ترلاسه شوي دي.

د دولت ضد عناصرو ځواک چې کولايشي په آذادنه توګه له خلکو څخه ماليات را غونډ کړي دا منعکس کوي چې په دغو سيمو کې حکومتداری محدوده ده. دحکومت لخوا د مالياتو د راغونډولو د سيستم برعکس د دغو غيري قانوني  مالياتو له راغونډولو څخه موخه دا نده چې عامه خدماتو کې ولګول شي او يا هم د ټولني د خير ښيګڼي لپاره مصرف شي بلکي ډير امکان لري چې دولت ضد عناصر يې د خپل ځان د بقا او د خپلو تخريبي عملياتو لپاره  وکاروي.

## د ملکي کسانو په ساتنه باندي ددولت ضد عناصرو د ګرځنده ځاي پر ځاي کيدو اغيزي

ځينو سيمه ايزو خلکو چې مرکي ورسره شوي ويلي دي چې د دولت ضد عناصر  له دوي نه توقع لري چې جنګياليو ته په کور کې ځاي ورکړي او هغوي ته اجازه ورکړي چې د دوي له ملکيت څخه د خپلو عملياتو لپاره کار واخلي. د جنګياليو ساتل هغوي ته د ځو شپو لپاره د اوسيدني ځاي ورکول او يا د دولت پلوه ځواکونو د تصفيوي عملياتو څخه ساتل پدي کې راځي. دبغلان په ولايت کې هغه سيمي چې د دولت ضد عناصرو له لوري کنټروليږي سيمه ايزو خلکو ته شبنامي ويشل کيږي او دوي ته امر کوي چې د شپي مهال د خپلو کورونو دروازي خلاصي وساتي ترڅو طالبان هلته و وسيږي. د ننګرهار د ولايت په ځينو سيمو کې د دولت ضد عناصر دسيمي کروندي د دولت پلوه ځواکونو په وړاندي د عملياتو لپاره کاروي او هلته ځانونه پټوي. د فارياب په ولايت کې سيمه ايزو خلکو يوناما ته ويلي چې د دولت ضد عناصر د ورځې مهال د دوي موټرسيکلان ضبط کوي تر څو په سيمه کې ګزمي وکړي؛ او دافغان ځواکونو نه ځانونه د خلکو په کورنوکې پټوي.

د دولت ضد عناصرو له لوري د ملکي خلکو د کورونو او کروندو څخه  د حملو او ساتني لپاره ګټه اخستنه ملکي کسان زيانمنونکي کوي؛ او هغوي له ګواښ سره مخاخ کوي چې نړيوال نظامي ځواکونه او افغان ملي ځواکونه ګومان وکړي چې  ګويا ملکيان د دولت ضد عناصرو په فعاليتونو کې برخه لري. دغه عملونه ملکي کسان د انساني سپر په توګه  معرفي کوي او افغان ملي امنيتي ځواکونه او آيساف لپاره د جنګياليو او ملکي کسانو تر منځ تو پير ستونزمن کوي ؛ او د ملکي کسانو د لا زياتي مرګ ژوبلي باعث ګرځي. د بشر پالني دوديز نړيوال قانون په سريح ډول له ملکيانو څخه د سپر په توګه ګټه اخستنه منع کوي:

## د بيان آزادي

- *سيمه ايز خلک د طالبانو په ضد هيڅ هم نشي ويلای او نه هم د حکومت ګټې ويلايشي ځکه دوي ټل داريږي چې طالبان به يې د جاسوسي په تور و وژني.*[71]

---

[70] يوناما همدارنګه راپورونه ترلاسه کړي دي چې مليشي يا وسلوالي ډلي په زوره له خلکو څخه په ځينو سيمو کې ماليات را غونډوي؛ سربيره په دي په ځينو پيښو کې سيمه ايز پوليس هم لاس لري.

[71] د بغلان ولايت څخه د سيمي د يو کس سره د يوناما مصاحبه. د غه مرکه د ۲۰۱۲ کال د جون د مياشي په ځلورمه نيټه په پل خمري کې د يوناما په دفتر کې ترسره شوي ده.

- *د بغلان ولایت څخه یو سیمه ایز مشر چې د ۲۰۱۲ کال د جون په څلورمه نیټه یې له یوناما سره مرکه کړې ده.*

په ټولو هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصرو له لوري کنټرولیږي سیمه ایزو خلکو یوناما ته ویلي چې دوي نشي کولاي په اذاده توګه خپل نظریات ښکاره کړي ځکه چې ډاریږي د دولت ضد عناصر به له دوي څخه انتقام واخلي. د بیان د اذادي د نشتون له کبله د دولت ضد عناصر و له ښکاره غونډو، عکاسیو، او د اړیکو له نورو وسیلو څخه د خپلې اجنډا او تبلیغاتو لپاره د سیمه ایزو خلکو په وړاندې کار اخلي. په دې کې د مخالف لوري څخه د ماشومانو په شمول د جنګیالیو ګمارنه هم راځي. د بیلګې په توګه د جوزجان ولایت څخه یوې سرچینې راپور ورکړې چې طالبان زیات وختونه په مسجدونو او مدرسو کې ښکاره غونډې جوړوي او په دغو غونډو کې دوي واعظ کوي او د سیمې خلک په ځانګړې توګه ځوانان تشویق کوي چې د طالبانو سره یوځاي شي. یو ۱۵ کلن هلک څخه ویډیو شوې چې نوموړي د طالبانو لخوا د جوزجان په ولایت کې په یوه مسجد کې په جوړه شوې غونډه کې شهادت قبولوي:

- *موري ! زه جګړې ته ځم؛ هیله کوم ماته دعا وکړه چې زه په جګړه کې شهید شم. زه به ډیر خوښ شم چې د اسلام د ښمنانو په وړاندې په جګړه کې ووژل شم.*[72]

د دولت ضد عناصرو له ډیري اوږدې مودې را پدیخوا له شب نامو څخه ګټه اخلي ترڅو سیمه ایزو خلکو ته ازار ورکړي، ګواښنې او اخطار ورکړي چې د افغان حکومت او نړیوالو نظامي ځواکونو سره مرسته ونکړي. د افغانستان د ختیځو سیمو په ځینو سیمو کې سیمه ایزو خلکو راپور ورکړې چې د دولت ضد عناصر له محلي راډیو او شب نامو څخه ګټه اخلي ترڅو خلک و ګواښې چې د حکومت ملاتړ ونکړي. د لغمان ولایت په ځینو ولسوالیو کې سیمه ایزو خلکو یوناما ته ویلي چې د طالبانو د تحدیدونو له کبله یوه مخابراتي کمپنۍ مجبوره شوه چې د شپې مهال خپل انتنونه بند کړي.[73]

## د اخلاقي لایحې د تطبیق لپاره ګواښونه او حملې

څو منابعو راپور ورکړې دي چې د دولت ضد عناصرو هغه خلک چې ددوي د اخلاقي لایحې د منلو څخه یې تیري کول وژلي،ګواښلي او زورولي دي. د جون د میاشتې په اوومه نیټه د بلخ په ولایت کې د دولت ضد عناصرو یو ۱۱ کسیز ګروپ په یوه سیمه ایز کور باندې پدې خاطر حمله وکړه چې هلته د واده د مراسمو په خاطر موزیک غږول کیده او خلکو هوا ته ډزې کولې. په نتیجه کې دوه کسان ووژل شول او درې نور زخمیان شول. یوه سیمه ایز کس چې دغه پیښه یې په خپلو سترګو لیدلې د ۲۰۱۲ کال د مي په ۱۷ نیټه له یوناما سره پدې هکله خبرې کړې دي:

- *دا د یو کس د واده مراسم وو او ما لیدل چې خلک اتڼ کوي. ناڅاپه مې د ډزو آوزونه واوریدل ؛ داسې معلومیده چې داخل مسلح کسانو حمله وکړه او هغوي لومړي هوا ته ډزې وکړې. دوي په زوره د الله اکبر چیغه کړه او بیا یې ډزو ته ادامه ورکړه. دوي لومړي هغه دوه کسه چې اتڼ یې کاوه په ډزو سره ووژل. دوي درې نور کسان ټپیان کړل چې په هغو کې دوه تنه زما هم ټولګیوال ول چې یو یې ۱۵ کلن او بل یې ۱۶ کلن وو. حمله کوونکو و نه ویل چې دوي څوک ول خو مونږ پوهیږو چې دوي طالبان ول ځکه هغوي پواځنې خلک دي چې له موزیک څخه یې بد راځي.*[74]

د اخلاقي لایحې د تطبیق په خاطر په هغو سیمو کې چې د دولت ضد عناصرو له لوري نه کنټرولیږي هم حملې شوي دي . د جون په ۲۱ نیټه طالب جنګیالیو د کابل د قرغي په بند کې په سپوږمۍ رستورانت باندې حمله وکړه. راپورنه وایې چې حمله کوونکو په میلمنو او ملکیانو باندې له ډیرې لنډې فاصلې ډزې وکړې چې د درېو

---

[72] د یوناما مرکه چې د ۲۰۱۲ کال د مي د میاشتې په شلمه نیټه د پولیسو د قومنداني له یوه مقام سره ترسره شوې ده. مرکه د یوناما په دفتر کې د جوزجان په ولایت کې ترسره شوې ده. یوناما ته یوه ویډیو وښودل شوه چې په هغه کې طالبانو د جوزجان ولایت په یوه ولسوالۍ کې غونډه جوړه کړې وه.

[73] سیمه ایزو خلکو راپور ورکړې چې د تلیفوني اړیکو له بندولو څخه اصلي هدف داده ترڅو سیمه ایز خلک ونشي کولاي د دولت ضد عناصرو له فعالیتونو څخه (د شپې مهال د ماینونو د ځاي پرځاي کولو په شمول) دولت پلوه ځواکونو ته خبر ورکړي.

[74] د یوناما مرکه د یوه عیني شاهد سره. د ۲۰۱۲ کال د مي د میاشتې په ۱۷ نیټه د یوناما مزارشریف دفتر د عیني شاهد سره د تلیفون له لاري مرکه وکړه.

خصوصي ساتونکو او درې تنه پولیسو په شمول يې ټول ۲۱ ملکيان ووژل او د دوه ښځو په شمول يې اوه تنه ملکيان ټپيان کړل. طالبانو د دې پېښې مسوليت په غاړه واخست او و ويل چې دغه رستورانت د غيري اخلاقي کړنو لپاره چې د اسلامي اصولو او موازينو خلاف دي کاريده.

سيمه ايزو خلکو يوناما ته راپور ورکړي چې د دولت ضد عناصر سيمه ايزو خلکو ته د هغوي د کاليو او ظاهري بڼې په خاطرګواښونه کوي او هغوي ته ازار او اذيت ورکوي . د جون په لومړي نيټه د پکتيکا په ولايت کې طالبانو ليکونه وويشل او له خلکو څخه يې وغوښتل چې د سپورټ تنګې جامې په تن نکړي. د ننګرهار په يوه سيمه کې طالبانو هغه خلک چې د کرکيټ لوبې يې کولې ګواښلي چې بايد دغه لوبې ونکړي؛ ځکه چې دوي په نظر دا د شرعي اصولو خلاف دي.

## روغتيايي اسانتياوو ته لاسرسي

د ځينو سيمه ايزو اوسيدونکو د وينا په اساس د دولت ضد عناصر روغتيايي اسانتياوو او فعاليتونه باندې په مستقيم ډول حملې نکوي. د بشري روغتيايي کارکونکو د وينا په اساس د آزار او اذيت او يا هم د کار په وړاندې د خنډونه ډيري پيښې (په ځانګړي ډول کله چې له سيمو څخه ليدنه ترسره کيږي) لدې کبله وي چې په اړيکو کې له طالبانو سره ستونزې وي او يا هم له هغوي سره سم تفاهم نه وي شوې. معمولا د دولت ضد عناصرو په روغتيايي کارکونکو د حملو څخه ډډه کړي؛ مګر داسې پيښې را منځته شوي دي چې په هغو کې روغتيايي کاروکونکي نيول شوي، ګواښل شوي او يا هم په دغو پيښو کې په سطحې ډول ټپيان شوي دي. سيمه ايزو خلکو راپور ورکړي چې په څو پيښو کې په روغتيايي کارکونکو او روغتيايي اسانتياوو باندې حملې شوي دي؛ داسې معلوميږي چې دوي د يو عمومي هدف له مخې تحريک شوي دي چې سيمه ايز خلک بايد په دولتي ځايونو کې کار او د هغوي ملاتړ ونکړي .

په ختيځو سيمو کې د دولت ضد عناصرو دعامي روغتيا د وزارت لخوا ټاکل شويو ډاکترانو ته تر يوه حده اجازه ورکړي چې د طالبانو تر نفوذ لاندې سيمو ته ورشي. هغه سيمه ايز خلک چې د يوناما لخوا ورسره مرکې شوي دي ويلي چې دا لدې کبله وو چې په دغو سيمو کې د ډاکترانو شمير کم وو او نشواې يې کولاې چې د دغو سيمو د اوسيدونکو روغتيايي اړتياوې پوره کړي. که څه هم په ځينو سيمو کې د دولت ضد عناصر روغتيايي کارکونکو مخه ډب کوي مګر په ځينو ځايونو کې دوي متناقض پيغامونه ليږي. د بيلګې په ډول د ۲۰۱۲ کال په لومړيو کې د دولت ضد عناصرو د پکتيکا په ولايت کې شب نامې خپرې کړې او روغتيايي کارکونکي يې ګواښلي. مګر څو مياشتې مخته خلک د حکومت ادارو سره له کار کولو منع شول اما روغتيايي کارکونکي يې له دې ډلې مستثني کړل. يوناما راپورونه ترلاسه کړي دي چې د دولت ضد عناصرو د خوست په ولايت کې د يوه روغتون د جوړيدو ښکاره مخالفت لدې کبله وکړ چې د حکومت تر کنټرول لاندې سيمه کې جوړيدو او دوي ته يې لاسرسي ستونزمن کيده.[٧٥]

يوناما راپورنه ترلاسه کړي دي چې په ځينو سيمو کې د دولت ضد عناصرو هغه سازمانونه او اشخاص چې روغتيايي اسانتياوې وړاندې کوي له فعاليت څخه منع کړي دي. د ختيځو سيمو په يو ولايت کې د دولت ضد عناصرو تنها يوه نړيوال غير دولتي سازمان ته اجازه ورکړې چې د سيمې خلکو ته روغتيايي اسانتياوې برابرې کړي. په نورو سيمو کې طالبانو د ناواده شويو ښځو په کار ګمارنه باندې بنديز لګولی دی او تنها يې زړو ښځو ته اجازه ورکړي چې د قابلو په توګه کار وکړي. د دولت ضد عناصر د دوي لخوا په جوړوشويو پوستو کې د ډاکترانو او روغتيايي کارکونکو په اذار او اذيت کې هم ښکيل دي.

په عمومي توګه د دولت ضد عناصر د پوليو د واکسين ملاتړ کوي. دوي دغه پروسه د يوې ناپيلې پروسې په توګه ګوري ځکه چې رضا کاران او د خدماتو وړاندې کوونکي د ټولنې له منځ د پوليو د واکسين د تطبيق کوونکو ادارو لخوا ټاکل کيږي. د يونيسف او ډبليو ايچ آو د پوليو د واکسين د راپورونو په اساس د روغتيايي کارکونکو لپاره د هلمند او ارزګان په مختليو سيمو کې د واکسين په موخه لاسرسی ښه شوي دي؛ او دهغو پيښو شمير چې د واکسين ټيمونه متاثره کوي کمې شوي دي. د واکسين د ټيمونو لاسرسي د کندهار ولايت په ځينو ولسواليو کې د وسلوالي جګړې له کبله محدود شوي دي؛ په دغو ولسواليو کې شاه ولي کوټ، ميانيشن، ميوند/ زيړي او پنجوايي شاملې دي. سربيره پردې سيمه ايزو خلکو له دوو پيښو څخه راپور ورکړي چې په هغه کې د دولت ضد عناصرو د بشر پالنې په کارکونکو چې روغتيايي اسانتياوې يې وړاندې کولې حملې کړي دي. په ختيځو سيمو کې د کنړ ولايت په سرکانو،مروره، کوز کنړ او وټه پور ولسواليو او د نورستان ولايت په کامديش

[٧٥] د پوليو د واکسين د کمپاينونو د راپورونو له مخې چې د نړيوال روغتيايي سازمان او يونيسف له لوري برابر شوي دي په ځينو سيمو کې د واکسين ګروپونه نشي کولاې چې د ماينونو د شتون له کبله کور په کور وګرځيږي.

ولسوالۍ کې د دولت ضد عناصرو د کور په کور پوليو واکسين د تطبيق مخه نيولې ده. په نتجه کې تقريباً ۱۵۰۰۰ ماشومان ندي واکسين شوي.[۷۶]
په ځينو سيمو کې د دولت ضد عناصرو د واکسين ضد پيغامونه د راډيو له لارې خپرکړي دي چې په هغو کې يې واکسين د شنډتوب يو عامل بللي دي. يوناما راپورونه ترلاسه کړي دي چې په يوه سيمه کې طالبانو د راډيو له لارې سيمه ايز خلکو ته ويلي " واکسين د يهودانو يو تاکتيک دي چې لدې لارې غواړي په مسلمانانو کې شنډتوب رامنځته کړي". همدارنګه د کندهار په ځينو ولسواليو کې د راپورونو له مخې د پوليو د واکسيناسيون پروګرام د ناامنې او جګړې له کبله ځنډيدلي دي.

د فلج د واکسين نه تطبيق کيدل د ماشومانو د صحت لپاره ډير بد عواقب لري؛ او دا په مستقيم ډول د فلج د له منځه وړلو په افغانستان کې متاثره کوي.[۷۷] په ۲۰۱۱ کال کې د فلج پيښې په افغانستان کې درې برابره شوي دي چې دا د تيرو څو کالونو په موده کې د فلج د پيښو کميدل بيرته شاه ته کوي.[۷۸] د ۲۰۱۲ کال د جنورې په مياشت کې طالبانو سي ان ان ته په يوه اعلاميه کې د پوليو د واکسيناسيون څخه ملاتړ څرګند کړي دي؛ مګر يادونه يې کړې ده چې د واکسين په کمپاين کې بايد د افغان امنيتي ځواکونو[۷۹] څخه د ساتنې په شمول د حکومت له منابعو څخه ګټه وانخستل شي. له هغه ورسته د واکسين لپاره په لاس رسي کې ښه والې راغلي دي.[۸۰]
د پوليو لپاره په افغانستان کې له خطره ډکې سيمې هغه ولسوالې دي چې د دولت ضد عناصرو له لورې په نسبې او يا هم په کامله توګه کنټروليږي. په افغانستان کې د دغو زيانمنونکو ټولنو ته د لاسرسي خنډونه يا هم د دولت ضد عناصرو له لورې په تګ راتګ باندې د بنديز له کبله او يا هم د جګړې پورې تړلې ناامنې له خاطره دي؛ چې د پوليو له منځه وړل يې سخت متاثره کړي دي.[۸۱]

---

[۷۶] د سپټمبر ۲۰۱۱ څخه بيا تر اپريل ۲۰۱۲ پورې د ډبليو آيچ لخوا د واکسيناسيون راپورنه.
[۷۷] د پوليو د له منځه وړلو په نړيوال راپور کې افغانستان يو له شپږو هيوادونو څخه شميرل شوي چې په دوامداره توګه اغيزمن دي او يو له څلور هيوادونو څخه چې د زياتو پيښو راپور يې ورکړي دي. د ۲۰۱۱ کال په اخر کې د پوليو ۸۰ پيښو راپور ورکړل شوي دي؛ چې درې برابر زيات وو نسبت ۲۵ پيښو ته چې په ۲۰۱۱ کال کې يې راپور ورکړل شوي دي. په سهيل کې ډيرې پيښې د کندهار، هلمند او ارزوګان له ولايتونو څخه او په لويديځ کې د فراه ولايت څخه راپور شوي دي.د پوليو د له منځه وړلو نړيوال بورډ د نظارت خپلواک راپور؛ فبرور ۲۰۱۲ کال. http://www.polioeradication.org/portals/0/document/aboutus/governance/imb/5imbmeeting/imbreport_january2012.pdf
[۷۸] د افغانستان د عامې روغتيا وزارت خبر ورکړ چې د پوليو پيښې په تيرو څو کالونو کې کمې شوي دي او په ۲۰۱۰ کال کې تنها ۲۵ پيښې ثبت شوي دي. په ۲۰۱۱ کال کې دغه پيښې درې برابره(۸۰ ) شوي دي.نورډلنډ روډ، ورسته له څو کالو کمښت د فلج پيښې په يوه کال کې په افغانستان کې درې برابره شوي دي. نيويارک ټايمز، انلين په دې پته کتلايشي : http://www.nytimes.com/2012/01/18/world/asia/after-years-of-decline-polio-cases-in-afghanistan-rise.html, accessed 5 July 2012.
[۷۹] http://articles.cnn.com/2012-01-17/asia/world_asia_taliban-polio-vaccinations_1_polio-vaccination-vaccination-teams-nigeria-and-pakistan?_s=PM:ASIA

[۸۰] د دې بايد يادونه وشي چې د واکسيناسيون ځينې ټيمونه د واکسين کولو څخه د ځينو نورو تخنيکي ستونزو له کبله منع شوي دي.
[۸۱] په دغه راپور کې د ذکرشويو ۱۳ خطرناکو ولسواليو له جملې څخه لاندې ولسواليو کې حد اقل په تيرو شپږو مياشتو کې په يوه کمپاين کې تر ۶۰ فيصده ډير ماشومان د پوليو واکسين ندي ترلاسه کړي: شهيدحساس (اروزګان)، ميوند (کندهار)، شاه ولي کوټ (کندهار)، نادعلي (هلمند)، پنجوايي (هلمند)، دهراود (اروزګان)، ترينکوټ (ارزوګان) او سپين بولدک (کندهار)

## تعليم ته لاسرسي

سيمه ايزو خلکو يوناما ته راپور ورکړي چې د دولت ضد عناصر په هغو سيمو کې چې فعاليت کوي په ښوونځيو او د تعلمي نصاب په موضوعاتو باندي موثر کنترول لري. په ځينو سيمو کې داسي موضوعګاني هم رامنځته شوي دي چې د دولت ضد عناصر يا دطالبانو استازي ته وظيفه ورکړل شوي چې د معليمنو کړنو څخه نظارت وکړي او په تعليمي نصاب کې نفوذ ولري. د دولت ضد عناصرو مقاماتو نوي ښوونځي خلاص کړي، ښوونځي يې بند کړي او ښوونځيو ته د نجونو په تللو او لاسرسي يې په متوسطه يا هم ټولو دورو کې بنديز لګولي دي. يوناما همدارنګه د ښوونځيو په وړاندي د حملو څو پيښي ثبت کړي دي.

## په معارف کې مداخلي او په معارف باندي حملي

په جګړه پوري اړوند تاوتريخوالي په مستقيماً توګه معارف اغيزمن کړي دي. د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږومياشتو کې يوناما په تعليمي ځايونو، کارکونکو او ذدکونکو باندي ۳۴ حملي ثبت کړي دي چې په هغه کې په ښونځيو باندي وسلوال بريدونه، د ښوونځيو نيول او سوځولو، د معليمينو او د معارف د کارمندانو هدفي وژني او تحديدول (په ځانګړي ډول د نجونو ښوونځيو) راځي. دغو حملو معارف سخت اغيزمن کړي دي. دغه ۳۴ ثبت شوي پيښي يو اساسي ډيروالي منعکس کوي که چيرته د ۲۰۱۱ کال له ورته مودي سره پرتله شي. د تير کال په ورته موده کې يوناما ۱۰ پيښي ثبت کړي دي.

سربيره په دغو ۳۴ پيښو يوناما ادعاوي ترلاسه کړي دي چې د ښوونځيو مسموم کولو پيښي هم زياتوالي موندلي دي چې يا د څښلو اوبه ککړي شوي او يا هم هوا ته ځيني مواد خوشي شوي دي. روغتيايي مقاماتو سلګونه اغيزمن شوي ذدکونکي او د معارف کارکونکي ترلاسه کړي دي چې د راز راز علايمو څخه يې شکايت کړي دي؛ چې په هغو کې د خوا ګرځيدل او بي هوشي هم راځي. يوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې د مسموم کيدلو ۱۷ ادعاشويو پيښو راپورنه ترلاسه کړي دي (په ځانګړي ډول د نجونو له ښوونځيو څخه).[۸۲] په ټولو څيړل شويو پيښو کې هيڅ داسي اسناد ندي ترلاسه شوي چې د زيان رسولو قصدي عمل په ګوته کړي. د دغو ککړ شويو اوبو زهري معاينات د ايساف ، د روغتيا د نړيوال سازمان او در روغتيا د وزات او نورو روغتيايي کارکونکو لخوا ترسره شوي دي؛ او دا په ډاګه شوي ده چې په اوبو کې کوم زهري مواد ندي پيداشوي.[۸۳] د زهري موادو د نورو اساسي منابعو د عدلي طب معاينات يا منفي وو او يا هم بي نتيجي.

## تأييد شوي بريدونه

يوناما د معارف پر ضد د دولت ضد عناصرو لخوا د يو شمير بريدونو په هکله پلټنه تر سره کړي ده. دغه پلټني داڅرګندوي چې دا عمل په دغه سيمو کې د مخالف لوري د پراخه سياسي موخو سره تړاو لري. د مۍ په اتمه نيټه د ننګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ د وزير کلي کې د دولت ضد عناصرو د انجونو ښوونځي ته اور ورته کړ چې د ښوونځي دوه تعميره او ځيني وسايل يې ويجاړ شو. د راپوروتو له مخي د ا بريد د يو لړ پيښو وروسته هغه وخت رامنځ ته شو چې د دولت ضد عناصرو د شپي چاپيزو عملياتو پر مهال د څو شکمنو وسلوالو د نيونې له امله په دغه سيمه کې ښوونځي د اعتراض په ډول وتړل. په دي پيښه کې د دولت ضد عناصرو د دي ښوونځيو بيا پرانستل ګواښلي و خو کله چې ځايي چارواکو دغه ښوونځي بيا پرانستل نو په ځانګړي توګه په همدغه ښوونځي بريد وشو. د دولت ضد عناصرو په قطعي توګه دغه ښوونځي نه وو تړلي او نه يې راتلونکي بريدونه د د پوهني د نصاب يا دولتي ښوونځيو پر ضد د کمپائن د برخي په ډول پيل کړي.

همدا رنګه د ۲۰۱۲ کال د اپريل راهيسي د غزني ولايت په څو ولسواليو کې د هغه وروسته چې دولت د غزني ولايت په څو ولسواليو کې د بي اسنادو موټر سايکلو په ګرځيدو بنديز ولګاوه نو د دولت ضد عناصرو ښوونځي وتړل. د ښوونځيو د تړلو وروسته د غزني ولايت په اندړو ولسوالي کې د مۍ په ۲۶ نيټه دځايي خلکو او کلي ته د ننوتلي د طالبانو د ډلي تر منځ نښته رامنځ ته شوه. د راپورونو له مخي نښته د ځايي اوسېدونکو او طالبانو د ښوونځيو د تړلو د اعتراض له امله رامنځ ته شوه چې طالبان د ښوونځيو په بيا پرانستلو اړباسي . د دي راپور

[۸۲] د هغو معلوماتو په اساس چې د ماشومانو او وسلوالي جګړي- د هيواد په کچه کاري ډلي لخوا تصديق شوي دي (م آر م سي تې اف).

[۸۳] د عامي روغتيا د يو کارپو سره د يوناما د مرکي په اساس کوم مواد چې د بالقوه زهري منابعو په توګه ترلاسه شوي دي د متاثره شوي ذدکونکو د مريضي علايم نه منعکس کوي. دا کيدايشي ديته اشاره وکړي چې د دغو پيښو څخه موخه د دولت ضد عناصرو له لوري قصدي زيان رسول نه وو. د ۲۰۱۲ کال د مي په اخره کې طالبانو يوه اعلاميه خپره کړه او د ښوونځيو د ادعا شوي مسموم کيدلو پيښو کې يې لاس لرل رد کړل. که څه هم ځيني سيمه ايز خلک او حکومتي مقامات پدي نظر دي چې کيدايشي د دولت ضد عناصر يا د دوي خواخوږي د دي پيښو مسؤل وي خو د عدلي طب معاينات بل شان نتيجه ورکوي. د دغو پيښو د تړاو په خاطر ځيني خلک نيول شوي دي.

د خپریدو پر مهال د ټولنې د سخت غبرګون او د دې ویرې چې طالبان به خپل ملاتړ ټولنه کې له لاسه ورکړي نو ګڼ شمېر ښوونځي بیا پرانستل شول[۸۴].

یوناما د دولت ضد عناصرو د ولکې لاندې سیمو کې د ښوونځیو د تړلو ، د ښوونکو د ویرولو او ګواښلو اوپه ټولنه کې د شب نامود خپرولو ډېر راپورونه ثبت کړي دي. زیات شمېر پېښې په هغو سیمو کې رامنځ ته کیږي کومې چې د دولت ضد عناصرو په ځانګړې توګه د طالبانو په بشپړه یا یې یوه برخه د ولکې لاندې وې چې له مخې یې دا څرګندیږي چې مخالیفین معارف په ټولنه کې د اغیز د زیاتیدو په موخه د یو وسیلې په ډول کاروي . سربیره پر دې ډیرې هغه سیمې چې د دولت ضد عناصرو تر ولکې لاندې دي د نجونو په زده کړه بندیز لګول شوي دي. د کاپیسا ولایت په دوه ولسوالیو کې د نجونو ټول ښوونځي تړل شوي دي که څه هم دغه سیمې هم د دولت په واک کې دي او یو څه برخې یې د دولت ضد عناصرو په ولکه کې دي. دغه بېلګې دا څرګندوي چې دنجونو په زده کړه بندیز او د دې مخنیوې د ټولنې محافظه کاره احساساتو سربیره نور ګڼ شمیر لاملونه هم لرلای شي .

طالبانوپه خپلو عامو اعلامیو کې د معارف څخه ملاتړ تأیید کړی او پر ښوونځیو باندې د بریدونو مسؤلیت یې ندې منلې. د ۲۰۱۲ کال د مارچ په اوومه نیټه طالبانو خپله خپره شوې اعلامیه کې ویلي وو چې د هیواد دننه پوهنې ته وده ورکول ددوې د اساسي موخو څخه ده او دوې زده کړه د راتلونکې نسل لپاره ضرورت ګڼي[۸۵] . د طالبانو عمومي اعلامیې چې د معارف پر ضد بریدونه یې غندلې د یوناما د تحلیل سره سمون خوري چې سیمه ایزې سیاسي اجنداوې او شرایط تل د داسې پېښو او بریدونو تر شا وي. د بېلګې په توګه په ځینې سیمو کې دولت ضد وسلوالود زده کړې د پیل په موخه ښوونځي بیرته پرانیستي دي که څه هم دوی نصاب کنټرول کې راوستلو لپاره لاس وهنه یا هڅې کاندې.

## هدفي وژنې او معارف

یوناما د ۲۰۱۲ کال د لومړیو شپږو میاشتو په موده کې د ښوونکو ، د ښوونځیو د ساتونکو،او پوهنې د اداري نور چارواکو د هدفي وژنو شپږ پیښې ثبت کړي دي چې د تیر ۲۰۱۱ کال د همدې مودې په پرتله زیاتوالي ښیې؛ چې هغه مهال دري ورته پیښې ثبت شوي وی . د ۲۰۱۲کال کې هدفي وژنې په خوست ، پکتیا ، غزنې ، اروزګان ، او لوګر ولایتونو کې رامنځ ته شوي دي. د راپورونو له مخې په دې شپږو پیښو کې د دولت ضد عناصرو موخه دولتي ښوونځیو سره د خلکو د مرستې مخنیوي وو.

## په جګړې کې د ښکیلو خواو له لوري پر ښوونځیوقبضه

د ملګرو ملتونو په مشرۍ په جنګونو کې د ماشومانو په اړه د کاري ګروپ د معلوماتو په اساس د ۲۰۱۲ کال د جنوري راهیسې د ښوونځیو د نیونې لس جلا پیښې تائید کړي دي.د ښوونځیو د نیونې ډیرې داسې پیښې د دولت پلوه ځواکونو له خوا رامنځ ته کیږي خو د دولت ضد عناصر ته منسوب هم ځینې پیښې ثبت شوي دي. ډېر وختونه داسې پیښو کې جګړه مار د لنډ مهال لپاره ښوونځي د عملیاتو د مرکز په ډول استعمالوي. په ځینې وختونو کې ماشومان د جګړه مارو په شتون کې لیک لوست ته ادامه ورکړي ، خو په نورو پیښو کې کله چې ښوونځي قبضه شوي وو بیا ماشومان ښونځي ته نه تلل. د دې په پایله کې کم شمېر ماشومان د دې جوګه وو چې دوام داره زده کړې ته لاس رسي ولري او له امله یې ماشومان په اغیزناک ډول هدف ګرزېدلي وو. د ملګرو ملتونو کاري ګروپ د دې د ملاتړ په موخه د سیمه ییزو چارواکو سره د څو پیښو په هکله کامیابه خبرې تر سره کړې چې له امله یې جګړه مارو نیول شوي ښوونځي پرېښودل. د ښوونځیو دا رنګه استعمال د دې تعمیرونو خونديې حیثیت په نظامي مشروع هدف بدلوي او د ماشومانو د خوندي ساتنې، امنیت او زده کړې ته لاس رسي باندې ناوړه اغیزې لري[۸۶].

---

[۸۴] د بیلګې په توګه اندړ په ولسوالي کې دري ښوونځي ، دري په ده یک ولسوالي، د ګیرو او ګیلان ولسوالیو ټول ښوونځي او د غزنې د مرکز اړوند ښوونځي چې کله تړلي او کله به پرانستي وو د ۲۰۱۲ کال په جون کې بیا پرانستل شو.

[۸۵] د طالبانو د رهبري شورې اعلامیه: " "د معارف وده د افغانستان دننه د اسلامي امارت د عمده اهدافو څخه دې د ۲۰۱۲ کال د مارچ ۷ مه -http://shahamat," english.com/index.php?option=com_content&view=article&id=15606:promotion-of-education-inside-the-country-is-one-of-the-main-objectives-of-the-islamic-emirate&catid=2:comments&Itemid=3

[۸۶] په عمومي ډول نړیوال بشر دوستانه قانون د ملکي او نظامي ځایونو تر منځ توپیراو ملکي اهداف تر برید لاندې راوستلو باندې بندیز په اړه ضرورت په ډاګه کوي. د ښوونځیو د قبضه کولو اړوند په ښکاره ډول څه ندي ویل شوي. سره له دې هم ښوونځي د خوندي

## په معارف کې نفوذ

په افغانستان کې ګڼ شمیر ښوونځي د ځایي امنیتي وضعیت له امله تړلي پاتي شوي دي چې د ښووني سیمه ییزي اداري ځیني تړلنو ته د لاس رسي وړتیا نه درلوده او هم دولت د دي وړتیا نه لري چې ګڼ شمیر ښوونځیو ته تعلیمي مواد په شمول د تدریسي کتابونو او لیک لوست مواد ورسوي . د پوهني د وزارت مطابق د ۲۰۱۲ کال د مئ په میاشت کې د افغانستان [۸۷] په حساسه سیمو کې د ۵۹۰ څخه ډیر ښوونځي دا مهال تړلي دي چې د تیرو دري کلونو[۸۸] راهیسي کموالي ښيي چې د پوهني وزارت په خوله هغه مهال د ۱۲۰۰ څخه ډیر ښوونځي تړلي وو. یوناما دي نتیجي ته رسیدلي چې د موجوده یا دوامدار تړلو شرایط توپیر لري او داسي څه نه بریښي چې د یو ځانګړي ډلي د لوري دي د ښوونځیو د تړلو لپاره یوه تاکلي ستراتیژي وي چې له امله یې زده کړې ته لاس رسي محدود کړي . په هر حال ډیر داسي ښوونځي په هغه سیمو کي شتون لري کوم ځایي چې د دولت ضد عناصر د یوې برخي یا بشپړه ولکه په لاس کي لري.

د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې یوناما د افغانستان د مرکزي سیمي د پوهني د اداري څخه د د ښوونځي د نصاب په اړه د طالبانو لاربنود تر لاسه کړ. دغه لاربنود کم نه کم په یو بل ولایت[۸۹] کې ویشل شوي دي، خو یوناما په دي باور ده چې دا لابنود د ۲۰۱۲[۹۰] کال د اپریل په وروستیو یا د مئ په اول کې د طالبانو له لوري په نورو ولایتونو کې ویشل شوي دي. طالبانو په دي لاربنود کي په ځانګړي ډول د هرسن ډلي لپاره په موجوده نصاب کې د بدلون راوستلو غوښتنه کړي اود ښوونځي د نصاب د کتاب د ځانګړي متن ( په دواړه دري او پښتو ژبو) په اړه یې خپل مفصل تنقید وړاندي کړي. د دوي سپارښتني د بدلون لپاره په شمول د موسیقي مضمون لمنځه وړل ، د دي وضاحت ورکول چې د ښځو زده کړه حتمي[۹۱] نه ده ، د عادي جنګ او جهاد تر منځ توپیر وشي ، د ژوند حق دي د ځان وژني او شهادت تر منځ تفکیک وکړي او دا هم په ګوته شي چې ټول مذاهب یو شان برابر نه دي[۹۲]. دا لاربنود د ۲۰۱۲ کال د جون په میاشت کې د یوناما توجه ته راغلي نو یوناما د دي پخلي نه شي کولاي چې تر کومه بریده دا پلي شوي دي.

سره سمون خوري کوم چې د ښوونځیو د نصاب کره کتل اړین ګڼي چې د دوي هیله او ارمان منعکس کړي . د ۲۰۱۲ د مارچ د په ۷ نیټه طالبانو د پوهني په هکله اعلامیه نشر کړي چې ډانګ پیبلي وایي

> *"....پرته له شکه که نصاب زمونږ اسلامي او ملي هیلي اود ملت اساسي غوښتني له ځان سره راونغاړي نو دغه څه غوارو اوهم دي لپاره زیارباسو. اسلامي امارت د داسي نصاب ملاتړ او تطبیق خپله ملي وجیبه ګڼي."[۹۳]*

په ځیني سیمو کي د دولتي چارواکو او دولت ضد وسلوالو / طالبانو تر منځ د پوهني د تدارکاتو او نظارت په هکله تر یو حده همغږي رامنځته شوي. په ختیځو ولایتونو کي د پوهني ادارو د چارواکو سره د غیر رسمي ناستي پرمهال ښوونکو یوناما ته ویلي دي چې د پوهني په اړه د دولت ضد وسلوالو سره غیر رسمي خبري رواني دي. چارواکو راپور ورکړي چې ډیر وخت دوي په دي مجبوریږي چې د دولت ضد وسلوالو غوښتني ته ځاي ورکړل شي په ځانګړي توګه د مذهبي مسائلو تدریس په اړه چې له امله یې د ښوونځیو تړلو او بریدونو مخنیوي وشي.

---

ملکي ځایونو لاندي راځي اود جګړه مارو ځواکونو لخوا ددي نیول په نظامي هدف باندي بدلوي اود دي پر وړاندي برید ته مشروع بڼه ورکوي. دا بریدونه د توپیرد اوصولو سرغړونه کوي او ملکي ځایونه (کار کونکي او زده کونکي) د خطر سره مخ کوي او په دي ډول د نړیوال بشردوستان قانون لاندي غیر قانوني عمل دي.

[۸۷] د دي څخه ډیر یې په هلمند ، زابل او قندهار ولایت کي شتون لري.

[۸۸] د ۲۰۱۲ کال د مئ په ۱۲ نیټه د پوهني وزارت په ګوته کړه چې د تیرو دري کلونو راهیسي د ۶۵۰ بابه څخه ډیر ښوونځي بیا پرانستل شو.

[۸۹] د ولایت نوم د سرچیني په غوښتنه پټ ساتل شوي دي.

[۹۰] د معارف د ولایتي ریاست لخوا دغه موضوع ندہ تأیید شوي.

[۹۱] نجوني باید په ماشومتوب کي ذده کړه وکړي نه له هغه ورسته.

[۹۲] دغه لیست جامع ندي بلکي تنها د دایرکتیف بیلګي وړاندي کوي.

[۹۳] د طالبانو د رهبري شوراي اعلامیه چې عنوان یې دي (د معارف وده په افغانستان کي د اسلامي امارت له مهمو اهدافو څخه ده)، ۷ مارچ ۲۰۱۲

د راپورد لیکلو ترمهال د دولتي چارواکو لخوا د نصاب په سر د خبرو د انکار په صورت کې د طالبانو لوري د تاوتریخوالي ډک عکس العمل پیښې ندې ثبت شوي . دا څرګنده ده خو بیا هم په ډیرشمیر پیښو کې د معارف چارواکي او ښوونکي دخپل ځان د امنیت او ماشومانو لپاره د طالبانو غوښتنې ویرونکي نه بریښي. ایا طالبان پریکړه وکړي چې سخت تفسیر شوې شرعي قانون تحمیلولو ته دې ادامه ورکړي چې په داسې حال کې د سیمه ییزو ادارو لپاره د ګواښ لاندې د منلو اویا د ښوونځیو د تړلو پرته بله لار نشته. دا جدي ندیښنه ده چې نیغ په نیغه د افغان ماشومانو د زده کړې حق او کفیت اغیزمنوي.

یوناما په دې مهال کې یادابښت کړي چې ښوونځي په زیاتیدونکې ډول د سیاسي اهدافو تر لاسه کولو لپاه د شطرنج د ګوټکو په څیر کارول کیږي. که څه هم په ۲۰۱۲ کې طالبانو ګڼ شمېر اعلامیې خپرې کړې چې په عموم کې د معارف د ملاتړ ښکارندوې کوي خو یوناما د ریښتینې بریدونو په هکله د جغرافیایې بدلون او سیاسې اهدافو کې ښکاره توپیر مشاهده کړي. یوناما د نصاب د بدلون په اړه د طالبانو دلاربښود په هکله اندیښنه لري چې دا په ځانګړې ډول د انجونو زده کړې ته لاس رسې باندې ممکنه اغیز ولري .

## دولت پلوه ځواکونه او د ملکي وګړو ساتنه

*مونږ ولیده چې د شپې نږدې ۱۱ بجې هیلي کوپټرې کلي ته راورسیدي. د کلي ځینې اوسیدونکي بېرون راووتل چې وګوري څه پیښه ده . هیلي کوپټرو دوي وویشتل چې ځینې یې ټپي شول. پاتې خلک په خپلو کورونو کې پاتې شول.د هیلي کوپټرو د کښیناستلو وروسته ملي اردو او نړیوال نظامي ځواکونه راکوز شول او د کورونو پلټل یې پېل کړ. مونږ په یو لوي کلي کې چې ۵۵۰ خلک په کې مېشت دي اوسېږو چېرته چې ټوله شپه دي جریان ادامه درلوده. سبا سهار مهال نږدې ۷:۳۰ بجې وي چې د ګاونډي کلي نه یو څو طالبان راووتل او په عسکرو یې ډزې وکړي او په حیرانه ونکې توګه یې دري یا څلور نفره ټپي کړل. ملي اردو او نړېوالو ځواکونو په طالبانو متقابلې ډزې وکړي چې په دغه لوري د خلکو کورونه هم پراته وو. هم دغه مهال و چې ډېر ملکي خلک مړه او ټپیان شو. عسکرو د جیټ الوتکو مرسته وغوښتله او د طالبانو ځایونه یې بمباري کړل چې دې سره نور ملکي خلک مړه او ټپیان شول.*[۹۴]

د فاریاب ولایت د غورماچ ولسوالي کې د کلي مشر د مئ په څلورمه نېټه د شپې د تلاشۍ عملیات ، زمکنۍ نختې او هوایي برید په اړه څرګندونې ، چې له امله یې شپږ ملکي خلک مړه او پنځه نور ټپیان شوي.

د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ څخه تر جون پورې, یوناما د دولت پلوه ځواکونو د عملیاتو په پایله کې د ۱۶۵ ملکي کسانو مړینه او ۱۳۱ کسانوژوبله ثبت کړي. دا د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په نسبت په ټول ملکي تلفاتو کې ۲۵ سلنه کمښت ښیې چې هغه مهال یوناما د ۲۵۵ ملکي کسانو مړینه او ۱۳۸ کسانو ټپي کېدنه ثبت کړي وه. دا د نړیوالو ځواکونو او ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب ملکي تلفاتو کې د کمښت تسلسل په ګوته کوي چې په جنګي شخړو کې د ملکي وګړو ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۱ کال کلنې راپور ثبت کړي او دا د ۲۰۱۰ کال په نسبت ټیټ والې ښې[۹۵].

په ټولیزه توګه د هوایي بریدونو په پایله کې د ملکي کسانو تلفات د ۲۰۱۱ کال د همدې ورته مودې په پرتله ۲۳ سلنه کمښت په ګوته کوي، چې د هوایي بریدونوله امله ۱۶۷ ملکي تلفات رامنځ ته شوي (۱۲۷ مړه او ۴۹ ټپیان شوي)[۹۶]

یوناما د جنوري د لومړۍ نیټې څخه تر جون ۳۰ مې پورې د دولت پلوه ځواکونو د چاپېزو او نېونې عملیاتو کې د ۲۰ ملکي کسانو مړینه او ۱۲ نورو ژوبلیدل ثبت کړي ، چې د ۲۰۱۱ کال همدې موده کې د ۳۰ مړه او ۱۴ ټپیان شوي وو، چې دا ۲۷ سلنه کمښت ښیې.دا په تېرو دري کلونو کې د داسې عملیاتو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو د کمښت د میلان سره سمون خوري.

د افغان ملي امنیتي ځواکونواوایساف د زیات زورکارولو پیښې د ۲۰۱۲ کال په لومړیوشپږومیاشتوکې په دوامداره ډول کمې راغلې چې په دي مهال کې ۹ مړه او ۱۶ نور ټپیان شوي. دا د زیات ځواک کارولو پیښو کې د ملکي کسانو تلفات د ۲۰۱۱ کال د جنوري څخه تر جون په پرتله ۴۳ سلنه کمښت څرګندوي.

### د آیساف اعلامیې او تاکتیکي لارښود

په ټول افغانستان کې روانو نظامي عملیات په پام کې نېولو سره یوناما د افغان او نړیواله ځواکونو هغه اقدامات د ستایني وړ بولي چې له مخې یې ملکي مرګ ژوبله کې کمې او مخنېوېي رامنځ ته کیږي. د آیساف کوماندان جنرال جون آر الین د ۲۰۱۱ کال په وروستیو کې د ملکي تلفاتو په تړاودوه عمومې تاکتیکي لارښودونه صادر کړي (۲۰۱۱ کال د نومبر ۳۰ مه ) او د شپې پرمهال د عملیاتو تر سره کولو په اړه یې د ۲۰۱۱ کال د دسمبر په لومړۍ نېټه لارښود صادر کړي. یوناما د تاکتیکي لارښودونو د صدور راپدیخوا د دولت پلوه ځواکونو په ټولو

---

[۹۴] د ۲۰۱۲ کال د مئ په ۹مه نیټه د فاریاب په میمنه ښار کې د یوناما سره مرکه

[۹۵] په ۲۰۱۱ کال کې ایساف ته منسوب تلفات د ۲۰۱۰ کال په پرتله ۴ سلنه راټیټ شوي.

[۹۶] که څه هم یوناما د ۲۰۱۱ کال په شپږ میاشتنې راپور کې د هوایي بریدونو په پایله کې ۱۱۹ ملکي تلفات ثبت کړي ( د ۷۹ کسانو مړینه او ۴۰ کسانو ژوبله ) چې د ۲۰۱۱کال د لومړیو شپږ و میاشتو بیا ځل کتل شوي تلفاتو کې د کنړ ولایت دغازي اباد ولسوالي ۲۰۱۱ کال د فبروري د ۱۷ نېټې د هوایي بریدونو پېښه هم شامله ده چې ۴۸ ملکیان په کې وژل شوي او نهه نور یې ټپیان شوي. یوناما په ۲۰۱۱ کال کي په هوایي بریدونو کې د وژل شوو شمېرو کې د غازي اباد هوایي برید کي د تلفاتو په شمېرو کي د جنجالي ارقامو له امله نه و شامل شوي چې دي پر وخت د کره والي مخنېوي وکړ.

تاکتیکونو کې د ملکي مرګ ژوبله کې کمښت مشاهده کړي. په ځانګړي توګه د چاڼیز عملیاتو پر وخت ثابته شوي کوم چې د نظامي ځواکونو مخکښ تاکتیک پاتي شوي خو سره له دي بیا هم د دي په نتیجه کې ملکي مرګ ژوبله کې دوامداره کمښت لیدل شوي.

د ۲۰۱۲ کال فبروري په ۱۰مه ، آیساف د ۳۰۷ معیاري عملیاتي کړنلاري دریمه ګنه اختیار کړه، چې د آیساف د ملکي تلفاتو اداره کولو پروسیجرونه د ملکي تلفاتو پېښوته دځواب ویلو او مخنیوي شته پروسیجرونه نور تقویه کوي. د آیساف قومندان مرستیال د ملکي کسانو تلفاتو د ژغورني او مخنیوي د ډلي مشري په غاړه لري چې د دملکي تلفاتو اړوند د ټولو نورو کاري ډلو کارونه او نوښتونه څاري. د آیساف معیاري عملیاتي کړنلاري د ملکي تلفاتو پېښو د راپور جوړښت په سیمو کې د پرتو واحدونو د سلسله مراتبو قومانده په دي پروسه کې د ښکیلتیا له امله پیاوړي شوي. دغه جوړښت دا ډاډ منوي چې په هره کچه قومندانان تبصري بیا ګوري او د ملکي تلفاتو د مخنیوي په موخه اقدام کوي چې له امله یې د مراتبوسلسله کې د حساب ورکولو ډاډ تر لاسه کېږي.[97]
د آیساف د عملیاتو د باندي په یو پیښه کې، چې د مارچ په ۱۱مه نېټه ، یو امریکایي عسکر د کندهار ولایت، په پنجوایي ولسوالۍ کې د خپل مرکزه ووت چې په ملکي خلکو یې ډزي وکړي، د دري ښځو او نهه ماشومانو په شمول یې ۱۷ ملکیان ووژل. د مارچ په ۲۳ نېټه د متحده ایالاتو یو محمکمي نوموړي د قتل په ۱۷ موارده تورن وپیژنده.

## هوایي بریدونه

*نږدي د سهار ۱:۰۰ بجه وه چې په کلي کې مې د جنګي چورلکو او الوتکو او وریپسي بیا د ډیرو چاودنو شور واورید. د سیمې څخه د چورلکو او الوتکود تللو وروسته د کور د باندي راووتلم ومې لیدل چې د تره زوي کور مې په بشپړ ډول ویجاړ شوي. په چیغو چیغود هغه د کور په لور په منډه ورغلم او د ژوندو په لټه کې شوم. په دویمه کوټه کې مې په ښځتو وینه ولیده چې ځما د تره زوي څلور کلنه لور، زرغونه مې د ډبرو او خښتو ټوټو منځ کې ومونده. هغه مړه وه. د کلي ټول خلک د ژوندي پاتې شوو د مرستي لپاره راغلل. مونږ په دریمې کوټې کې د ډبرواو خښتو ټوټو لاندي دتره زوي نهه کلن زوي ومونده. چاودنې یې سر له تنه جلا کړې وو. ټولو خلکو چیغې او بغارې وهلې . بیا مود هغه ترڅنګ د هغه د مورجسد ومونده چې مخ یې بیخي چختړل شوې و. نور یې ویلې نشم .*[98]

- د جون په ۶مه د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ کې د هوایي برید له امله د ۱۸ وژل شوي ملکي کسانو خپلوان

که څه هم د هوایي عملیاتو په ترڅ کې ملکي تلفات راکم شوي، خو بیا هم د دولت پلوه ځواکونو د نورو تاکتیکونو په پرتله د هوایي بریدونو په پایله کې ډیر شمېر ملکي تلفاتو دوام موندلی. د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې هوایي بریدونو ۸۳ ملکي خلک وژلي او ۴۶ نور یې ټپیان کړي دي ( ۱۲۹ تلفات) ، چې دولت ته د منسوب تلفاتو ۵۰ سلنه جوړوي او د ټول ملکي تلفاتو ۷ سلنه جوړوي. د د هوایي بریدونو په پایله کې د ۱۲۹ تلفاتو څخه ، ۸۱ ښځي او ماشومان وو چې د هوایي بریدونو له امله وژل شوي د ټولو تلفاتو دوه پر دریمه برخه تشکیلوي.

[97]د یوناما او آیسا ف تر منځ د ۲۰۱۲ کال د جون په ۱۵ نېټه د برېښنالیک تبادله
[98]د ۲۰۱۲ کال د جون په ۱۲ نېټه د یوناما سره مرکه




د هوايي عملياتو په پايله کې د ملکي تلفاتو کمښت هغه فکتورونو ته منسوب کيداي شي چې د ملکي تلفاتو د مخنيوي په اړه طرح شوي او پلي شوي، څرنګه چې په خو مهاله کې نړيوال نظامي ځواکونه د بريد لاندې راغلي چې پايله کې د کم شمير نښتو پرمهال دهوايي ځواک مرستې ته اړشوي وو. د ايساف د مياشتني نوي پيښو د راپور په اساس د ۲۰۱۲ کال د جنوري څخه تر مئ مياشتې پوري چې د ۲۰۱۱ کال همدې ورته مودې په پرتله د دښمن لخوا بريدونه ۶ سلنه راکم شوي دي[۹۹]. د ۲۰۰۷-۲۰۱۲ کال د هوايي ګډو ځواکونو دبرخي قومندان د وينا له له مخې ، چې د ۲۰۱۲ د جنوري د لومړي نيټې څخه تر مئ ۳۱ پورې ۱۴۶،۱ وسلې د نږدې مرستي (هوايي) پر مهال فير شوي چې د ۲۰۱۱ کال د همدې ورته مودې په پرتله ۳۷ سلنه کمښت ښيي چې هغه مهال ۸۴۸،۱وسلې فير شوي وې.[۱۰۰]

که څه هم د هوايي بريدونو له امله د ملکي مرګ ژوبله کې کمښت يو ښه پرمختګ دي، خو يوناما يو ځل بيا د هوايي بريدونو په پايله کې په دوامدارډول په غير متناسب ډول د ملکي خلکو په مرګ ژوبله خپله انديښنه څرګندوي. په ځانګړي ډول د هغه ډيرې پيښو په هکله انديښنه ده چې د نيغ په نيغه نظامي لاس ته راړونو په موخه بريد تر سره کيږي. د بيلګې په ډول د۲۰۱۲کال د جون په شپږمه نيټه د لوګر ولايت برکي برک ولسوالی کې د عملياتو په ترڅ کې يو شخصي کور کې طالب قومندانانو غونډه په نښه کړي شوه چې ۱۸ ملکي وګړي ووژل او دوه ښځې ټپياني کړي. په دې بريد کې اوه ښځې او نهه ماشومان ووژل شوو چې د دوي په منځ کې د لس مياشتو يو ماشوم او پنځه پيغلې انجونې شامل وي. دغه عمليات لومړی د ځمکني عملياتو په بڼه پيل او بيا وروسته کله چې د دولت ضد وسلوال د نظامي ځواکونو سره نښته کې ښکيل شو نوله دې وروسته يې د هوايي کمک غوښتنه وکړه. که څه هم د هوايي بريد پر مهال د ځواک د کارولو ګامونه تعقيب کړاي شو، خو ددې اغيزې بايد د مخه سنجول شوي واې. يو تاکتيکي هوايي بريد چې د استوګنځي انګر په نښه کوي نو په تصادفي ډول د ډير ملکي تلفاتو او زيان قوي احتمال وجود لري چې نيغ په نيغه د ټاکلي نظامي لاس ته راوړونو په پرتله به ډير وي.[۱۰۱]

---

[۹۹] د ايساف مياشتني نوي پيښو مالومات د ۲۰۱۲ کال د مئ راهيسي چې په ۲۳ د جون چاپ شوي. http://www.isaf.nato.int/images/media/PDFs/20120623_niu_isaf_monthly_data-release-final.pdf, د ۲۰۱۲ کال د جولايي په دويمه نيټه ورته لاس رسيدلي وو.

[۱۰۰] د امريکا د متحده ايالاتو د ګډو هوايي ځواکونو برخې قومندان او د عملياتو د احصايي ، د ازادئ د پايښت د وسلې د فير کولو احصايه ، د ۲۰۱۲ کال د جون ۷ مه (۱-۰۶-۱۲)

[۱۰۱] خوارلسمه قاعده د بريد پر مهال تناسب او ۱۸ مه قاعده د بريد پر مهال احتياط. د بشردوستانه نړيوال عرفي قانون، جلد ۱: قواعد. جين ـ ماري هين کيرتز اولويز دوزواک- بيک، اي سي ار سي ، کامبرج ،۲۰۰۵.

نورهغه هوايي بريدونه چې په پايله کې ملکي تلفات لري بيلګې يې په لاندې ډول دي.

- د مئ په ۲۶ مه ، آيساف د پکتيا په شاوک ولسوالی کې د دولت ضد عناصرو پر ضد هوايي بريد تر سره کړ. د دې عملياتو په ترڅ کې د يوې کورنۍ د يو سړي ، ميرمن او پنځه ماشومان په ګډون اوه نفره ووژل شوو او دوه نور ماشومان يې ټپيان کړه.
- د مئ په شپږمه ، د بادغيس ولايت په بالا مرغاب ولسوالی کې د آيساف هوايي بريد چې هدف يې دولت ضد وسلوال وو خپل هدف خطا او پر ځايې د کوچيانو کيږدۍ ولګيده . د دې بريد له امله ۹ ملکيان مړه او لس نور يې ټپيان کړه. سيمه يزو چاړواکو ويلي چې هوايي بريد د دې تر مخه د افغان امنيتي ځواکونو سره همغږي شوي نه و.
- د مئ په څلورمه د هلمند ولايت په سنګين ولسولی کې د دولت ضد وسلوالو د دولت پلوه ځواکونو په پوستو د څو پيچلو بريدونو وروسته ، آيساف ځواکونو په جوابي بريد کې مخالف وسلوال د هوايي بريد هدف وګرزول. ځيني مرمۍ په ملکي استوګنځي کې ولګيدې چې د دري ښځو او دوه ماشومانو په ګډون يې شپږ ملکي کسان ووژل.
- د فبروري په ۸ مه نېټه د کاپيسا ولايت په نجراب ولسوالی کې د آيساف هوايي بريد کې اوه ماشومان ( عمرونه يې د ۱۳-۷ پوري وو) او يو بل کس چې کور د باندې ارام کوو ووژل.

آيساف د لوګر ولايت په ۶ مه د هوايي بريد وروسته ګامونه اخستلي چې داسي تدابيرغوره کړي چې د هوايي بريدونو په ترڅ کې د ملکي خلکومکررتلفاتو پيښيدومخنيوي وکړي. آيساف د ملکي استوګنځايونو باندي د هوايي ځواک کارولو لاربنود په شمول د نوي فراګو (جزوي امر) صادرولو تجديد کړي چې دا هوايي بريدونوپه اړه تاکتيکي لاربنود تعديلوي او د ۲۰۱۲ کال دجون په منځ کې رسماً جاري شوي وو. دغه فراګو د ځان ځخه دفاع حق په صورت کې د ملکي خلکو استوګنځايونو باندي هوايي بريدونه محدودوي. آيساف ترټولو وروستني وسيلې په ډول ملکي استوګنځايونو باندي کيداي شي هغه مهال هوايي ځواک وکاروي چې ايساف/افغان امنيتي ځواکونو ژوند په مستقيم ډول د ګواښ لاندې وي.[۱۰۲]

### د تلاشۍ عمليات

*زما د خسرګنې د پښتون کوټ په ولسوالی د واده مراسم وو. د شپې نږدې ۱۰ بجې وي چې دوه هيلي کوپټرو افغان او خارجي سرتيري زموږ کلي ته راورل. دوي نيغ په نيغه د واده مراسمو ته راغلل او زموږ په ميلمنو يې ډزې وکړي. د ډزو په نتيجه کې زما دونيم کلن زوي مړ او ميرمن مي ټپي شوه. هيلي کوپټرو زما ميرمن ميمنې ته د تداوي لپاره انتقال کړه. لومړي يې هغه خپل روغتون ته ويوړه لکن نن سهار يې د ميمنې عمومي روغتون ته راوړه. هغه د کوما حالت کې ده. زه نه پوهيږم چې هغه به ژوندۍ پاتې شي که نه. زه نه پوهيږم نور به څوک وژل شوي وي ځکه چې زه د خپل ميرمن سره راوتلم تر اوسه بيرته نه يم تللې. تر اوسه د دې هم نه يم چې خپل زوي دفن کړم.*[۱۰۳]

-د فارياب ولايت دپښتون کوټ ولسوالی کې د تلاشي پر مهال د زيانمن شويو ميړه/پلار سره مرکه

د ۲۰۱۲کال د جنوري د لومړۍ نيټې څخه تر ۳۰ جون منځ مهال موده کې يوناما د دولت پلوه ځواکونو لخوا د چاڼيزو عملياتو په پايله کې د ۲۰ ملکي کسانو مړينه او ۱۲ نورو ژوبله ثبت کړي ، چې د ۲۰۱۱ کال د همدې ورته مودې په پرتله ۲۷ سلنه کمښت ښيي. دا د ۲۰۰۹،۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ کال راهيسي مخ په ځوړ ثبت شوي پيښنو سره مطابقت لري.

ډيرې چاڼيز عمليات داسي نه بريښي چې ملکي کسانو ته د تلفاتو اړولو لامل شي. د شپې لخواد چاڼيزوعملياتوشمير او د دې څخه راولاړ شوي ملکي تلفاتو په اړه دقيق مالومات لاس ته راوړنه د نظامي

---

[۱۰۲] د ۲۰۱۲کال د جون په ۱۵ مه د يوناما او آيساف تر منځ بريښناليک تبادله شوي. د د ګر جنرال سکي فروتې په حواله په Stars and Stripes 12 June 2012 کې " مونږ په ملکي ميشتو سيمو کې تر هغه هوايي ځواک نه کارو ، خوکله چې جوته شي دا تر ټولو وروستني وسيله او په ريښتيني ډول د خپلو سرتيرو دفاع ده." په دې اړه فراګو صادر شوي چې " هوايي بمبارپه ملکي استوګنځايونو " يي منع کړي.

[۱۰۳] د فارياب په ميمنه ښار کې د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۱۷ مه د يوناما مرکه

محرميت له امله ستونزمن کار دي. [۱۰۴] د شپي مهال چاپيزوعملياتو په هکله چې د افغان او نړيوال ځواکونو لخوا ـ په شمول د ځانګړي ځواکونو 'اونور دولتي ادارو' ـ په ګډه يا په خپلواکه توګه يي ترسره کړي او په پايله کې ملکي تلفات رامنځ ته شي په دي اړه په عام ډول مالومات موجود نه دي. د امکان تر حده يوناما نظامي عمليات له دي امله په فعاله توګه څاري چې ملکي تلفات او ملکي خلکو ته زيان اړول په ګوته کوي. سربيره پر دي يوناما د شپي لخوا د عملياتو په پايله کې د ملکي تلفاتو پيښي تولي ادعا پلټي. ښايي يوناما په عملياتي چاپيريال کې د ستونزو او مالومات ته محدود لاس رسي ته په نظرسره د شپي چاپيزو عملياتو په پايله کې د ملکي تلفاتو شمير په راپور کي کم ښودلاي وي.

- د مئ په ځلورمه ، چي د فارياب ولايت د غورماچ ولسوالی کي يي يو طالب قومندان په نښه کړي و د شپي عملياتوپر مهال يي د دري ماشومانو په شمول يي شپږ ملکي خلک ووژل او د نور دري ماشومانو او يو ښځي په ګډون يي پنځه نفره ټپيان کړل.
- د فبروي په ۱۵مه د کندوز ولايت په خان آباد ولسوالی کي د نړيوال او افغان امنيتي ځواکونو د عملياتو له امله ځلور ملکي کسان ووژل شول.

د اپريل په ۸ مه د شپي لخوا چاپي او خاصو عملياتو په تړاو د آيساف عمومي قومندان جنرال الين ( متحده ايالات) اود افغانستان دفاع وزيرعبدالرحيم وردګ د متحده ايالاتو او افغان دولت په استازيتوب يو تفاهم ليک لاس ليک کړه. د دي تفاهم ليک پر اساس د شپي عمليات بائد افغان عملياتي هم غړي کونکي ډله تايد کړي ، چي د افغانستان د قانون سره سم افغان ځواکونه به يي د متحده ايالاتو د ځواکونو په ملاتړترسره کوي. دي عملياتو کي مطلوب توقيف ، يا د استوګني کورنو او نور شخصي کورنو تلاشي شامل ده. دغه ځايونه به يواځي دافغان ځواکونو لخوا د ضرورت په مهال لټول کيږي خو پرته له هغه چي امريکايي ځواکونو ته اړتيا وي او يا تري غوښتنه وشي.

## د زيات ځواک کارول

د افغان امنيتي ځواکونو او آيساف دزيات ځواک کارولو[۱۰۵]( د ځواکونو د خوندي ساتني پر مهال) له امله د ملکي تلفاتو پيښي په ۲۰۱۲ کال کي دوامداره کمي شوي. د ۲۰۱۲کال په لومړئ شپږو مياشتو کي يوناما په ۱۹ بيلا بيل پيښو کي ۲۵ ملکي تلفات ( نهه مړه او ۱۶ ټپيان) ثبت کړي. د ۲۰۱۱ کال د ورته مودې په پرتله ، چي هغه مهال يوناما د ۳۰ کسانو مړينه او ۱۴ کسانو ټپي کيدنه ثبت کړي وه چي دا د زيات ځواک کارولو پيښو نه راولاړ شوي د ملکي تلفاتو کي ۴۳ سلنه کمښت ښيي. دا يو مهم پرمختګ دي چي د دولت پلوه ځواکونو ژمني ښکارندوي کوي چي په پوستو کي د دوي ځواکونو او کاروانونو ته د ريښتيني ګواښ او ملکي خلکو تر منځ تفکيک وکړي او د بديل په ډول دغير مهلک وسلو کارول دي.

---

[۱۰۴]يوناما دا مالومات په شفاهي اوبريښناليک په وسيله په ۲۰۱۲ کال کې ځو واري وغوښتل خوتر لاسه يې نه کړل.
[۱۰۵] زيات ځواک کارولوپيښو ته " د قوي خوندي ساتنه هم وايي " : هغه مهال چې ملکي خلک نږدي رارسيږي اوي يا د کاروان څخه مخکې کيږي او يا پوستې ته په رارسيدو د نظامي پرسونل اشارو ته پاملرنه ونه کړي.




## افغان ملي امنيتي ځواکونه او د ملکي خلکو ساتنه

*زه په خپل کلي کې وم. طالبانو د غره څخه د ولسوالی په مرکز درانده توپونه راوتوغول. افغان اردو په ځوابي برید کې د طالبانو د ځای په لوري دري هوان مرمی وتوغولی . یوه مرمی د هغه ماشومانو نږدی ولګیده کومو چې غره کې د څارویو لپاره وابنه ټولول. ما د پیښی ځای ته منده کره. دوه ماشومان می ولیدل یو مړاو بل سخت ټپي وو. د دوي جسدونه په بد ډول خراب شوي وو. ټپي ماشوم مي په بوه اوږه او مړ مي په بله غاړه کیښود. د مرستي لپاره مي د کلي خلکو ته غږ کړاو بیا مي ټپي نجلی د ځنګل څخه د باندې سرک ته راوړه. کلیوالو هلته موټر راوستلو او نجلی مو بیا سیمه ایز کلینیک ته یوړه.*[106]

- د ۲۰۱۲ کال د اپریل په ۲۵ نیټه د ځمکني نبنتي د پيښي عيني شاهد، د کنړ ولايت، پيچ دري ولسوالي

يوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړی شپږو مياشتو کې افغان امنيتي ځواکونو ته منسوب ملکي تلفاتو کې ځرګنده کموالي مشاهده کړي. په دي موده کې يوناما ۴۶ ملکي تلفات ثبت کړي ; چې د ۱۲ کسانو مړينه او ۳۴ نورو ژوبله د افغان امنيتي ځواکونو د عملياتو په ترڅ کې را منځ ته شوي. دا د ۲۰۱۱ کال د وروستنيو شپږو مياشتو ( دجولايي- دسامبر) په پرتله اساسي کموالي ښيي چې هغه وخت يوناما ۱۷۴ ملکي تلفات ثبت کړي ، چې له دي څخه ۴۱ مړه او ۱۳۳ نور ټپيان وو. ملکي تلفاتو کې کمښت د دولت پلوه ځواکونو له لوري د ملکي د تلفاتو د مخنيوي په موخه د وړاندي څخه اخستل شوي تدابيردي ، لکه د نښتي د مخه په لوډسپيکر اعلان، او د محدوديتونو مراعت کول کله چې مخالفين په ملکي ميشتو سيموکي ځان پټوي. دغه تدابير د ځمکني نښتو پر مهال افغان امنتي ځواکونه په ريښتيني ډول پلي کړي.

د ملکي تلفاتو د کموالي سره سره د ځمکني نښتو تاکتيک د ملکي تلفاتو په پنځه ثبت شويو پيښو کې ( دري مړه او ۱۶ ټپيان ) مخکښ تاکتيک پاتي شوي چې يوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړنيو شپږو مياشتو کې ثبت کړي دي. د دي وروسته د ځواک خوندي ساتني پر مهال د زياتي قوي کارولو پيښي دي چې څلور يې وژلي او ۱۱ نور يې ټپي کړي دي. دولت پلوه ځواکونه بايد دي ته پاملرنه وکړي چې د دي اغيزي ډير په ځير وګوري او په ځانګړي ډول کله چې په پوستو کې د وژونکي قوه کاروي.

دامهال دواړه د د فاع او کورنيو چارو وزارتونو کې د ملکي تلفاتو د پلټلو ميکانيزم وجود لري. د دفاع وزارت د اوپراسيون رئيس د سيمه يزو قول اردو څخه د ورځنۍ پيښو راپور تر لاسه کوي. د ملکي تلفاتو پيښي د حقوقو رياست ته استول کيږي او هم هغه پريکړه کوي چې کومي پيښي و څيړل شي. د حقوقو رياست د پلټلو وړ پيښي

[106] د ګرځنده تليفون د لياري د عيني شاهد سره د يوناما مرکه ، کنړ ولايت ، پيچ دره ، د اپريل ۲۶ ، ۲۰۱۲

سیمه یزو قول اردو ته استوي چې دغه پېښې نظامي څارنوال څېړي. که ادعاوې ریښتیني ثابت شي نو بیا نظامي څارنوال دوسیې د پریکړې لپاره محکمې ته استوي. د کورنیو چارو وزارت په ملکي تلفاتو کې د ملي پولیسو، سرحدي پولیسو، نظم عامه پولیسو او سیمه یزو پولیسو پر ضد ادعاو لپاره هم دغه ورته پروسیجر کاروي. که څه هم دا میکانزمونه کارېږي،خو د ملکي تلفاتو د کمي او مخنیوي پر ځای د متهم فرد په حساب ورکونه ډېر تمرکز کېږي.

یوناما یو ځل بیا افغان ملي امنیتي ځواکونو ته خپله سپارښتنه باندې تاکید کوي چې د نظارت او حساب ورکونې په موخه دې خپل تشکیل کې دایمي میکانېزمونه رامنځ ته کړي، په ځانګړي توګه په ملي اردو کې، چې دوی د نړیوال نظامي ځواکونو جلا په خپلواک ډول د ډېری نظامي عملیاتو رهبري کوي. یوناما د دې څخه خبره چې د دفاع وزارت څو فوق العاده کمیټې په دې موخه تشکیل کړي په ځانګړې ډول، څو د ملکي تلفاتو غټې پېښې وڅېړي اوهم دوی د فاع وزارت د حقوقو رئیس د ملکي تلفاتواړوند پېښو لپاره خپل ارتباطي غړي ټاکلي دي. په هر حال افغان امنیتي ځواکونو ته د امنیت د لیږد او کنترول په نظر کې نیولو سره چې ټاکل شوي ده په ۲۰۱۴ کې بشپړېږي نو اړینه ده چې د امنیتي چاراوکو یودایمي ځانګړې ټیم جوړ کړي چې د ټول افغان امنیتي اداری پکې استازیتوب ولري.[۱۰۷]

یوناما په دوامدارډول افغان امنیتي ځواکونو ته منسوب ملکي تلفات د دفاع وزارت کې د حقوقو رئیس سره شریک کړي. که څه هم د یوناما له خوا د مالوماتو شریکوالي له امله ابتکار، چلن او د پلټلو د پایلو په درلودلو کې کوم پرمختګ ندي رامنځ ته شوي. د بېلګې په څېر یوناما د لاندې پېښو په اړه افغان ملي اردو لخوا تحقیقاتو په اړه کوم ځواب ندي تر لاسه کړي.[۱۰۸]

.

- د جنوري په اومه ، د خوست ولایت د باک ولسوالی د نار کلي سیمه کې ملي اردو د یو شخصي موټر چلونکي هغه مهال په ډزو ټپي کړ کله چې هغه د ملي اردو پوستې ته په رارسیدو د هغه دریدو اشاري ته موټر ونه درو.
- د جنوري په ۱۴ مه د کنړ ولایت ، بر کنړ د شنګر سیمه کې ملي اردو په ډزو یو ۴۵ کلن ملکي سړي ووژه ، کله چې هغه په غره کې د سوزیدو لرګي ټولول او دغه ځای نه تل د دولت ضد وسلوالو په دولتي ځواکونو بریدونه کول.
- د مارچ په ۹مه د کندهار ولایت د ښار په اتمه ناحیه کې ملي پولیسو یو ملکي موټرسائکل چلونکي په ډزو هغه وخت ووژه، چې د ادعا له مخې د پولیسو د دریدو اشاري ته په پوسته کې ونه درید.
- د جون په ۱۳ مه د فرا ه ولایت په خاک سفید ولسوالی کې د ملي اردو د ځوابي برید په توګه هغه مهال دري ملکي کسان په ډزو مړه او یو یې ټپي کړه چې د ملي اردو په موټربانډې ماین وچاودید.

## د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو په کار اچونه،لیري کونه، خنثي کونه او پر وړاندي یې مبارزه

په ۲۰۱۲ کال کې د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکو توکو کاروني د ځانمرګو او پیچلو بریدونو په ګډون د اکثریت ملکي وګړو مرګ ژوبله رامنځته کړي ده.[۱۰۹] د ۲۰۱۲ کال په لومړیوشپږو میاشتو کې ځاي پر ځاي

[۱۰۷] یوناما په منظمه توګه د دفاع له وزارت سره د دي وزارت د حقوقو د ریاست له لاري په ارتباط کې ده ترڅو د دفاع وزارت د ملکي خلکو د مرګ ژوبلو د پیښو د تحیققاتو لپاره یوه کمیټه رامنځته کړي. که څه هم د دفاع وزارت د ۲۰۱۲ کال د مي په میاشت کې پدې موافقه وکړه چې دغه کار به کوي خو تراوسه پدي اړه کوم عملي اقدم نده ترسره شوي.

[۱۰۸] یوناما د وزارت دفاع د حقوق رئیس سره د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۲۶ او د مئ په ۸مه ناسته چې ملي اردو ته منسوب د اوه پیښنو دوه لستونه یي وسپارل. د جون په ۲۰ یوناما د دي لستونو بیا ځل یاداښت واستولو.

[۱۰۹] پیچلي او ځانمرګي بریدونو کې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي کاربږي. چې پیچلي بریدونه هغه قصدي همغږې بریدونه دي چې په هغه کې ځانمرګي الي (په ځان پوري تړلي چاودیدونکي توکي، په موټر کې ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي)، تر یو نه ډېر بریدګر او له یو نه ډېري الي (په ځان پوري تړلي چاودیدونکي توکي + راکیټونه) شامل وي. د دي لپاره چې یو برید پیچلي و ګڼل شي باید دغه دري عناصر ولري.

شوي چاويدونکي توکي او د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو تاکيتک ۵۳ سلنه ملکي مرګ ژوبله رامنځته کړي ده. د ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکو توکو جوړول نسبتاً ارزانه اسلحه ده؛ نولدي امله وړاندوينه کيږي چې د دولت ضد عناصر به د دي اسلحي جوړوني او کاروني ته ادامه ورکړي او دابه د ملکي خلکو نوره مرګ ژوبله رامنځته کړي.
نړيوال نظامي ځواکونه له ډيري مودي راپديخوا په سيمه کي دا هڅي رهبري کوي تر څو ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي کشف، خنثي او له منځه يوسي. د ملکي خلکو د ساتني لپاره دا خورا مهم کار دي. د انتقال د پروسي په چوکاټ کي ايساف  بايد دا ډاډه کړي چې افغان ملي  نظامي ځواکونه د نړيوالو نظامي ځواکونو له حضور ورسته د دي قابليت لري تر څو ځاي پر ځاي شوي چاويدونکي توکي کشف، خنثي او له منځه يوسي. سربيره پردي، که څه هم ايساف افغان ملي نظامي ځواکونه روزلي مجهز کړي او ملاتړ يې کړي ترڅو د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو په وړاندي د مبارزي قابليت ولري خو په اوس وخت کي افغان ملي نظامي ځواکونه په کافي توګه ندي روزل او مجهز شوي  تر څو د ځاي پر ځاي شوي چاويدونکو توکو ګواښ په موثره او خپلواکه توګه له منځه يوسي. د بيلګي په ډول، که څه هم د افغان ملي نظامي ځواکونو قابليتونه د ځاي پر ځاي شويو چاويدونکو توکو په خونديي له منځه وړلو کي لوړ شوي دي خو د دوي قابليت ترڅو معلومات  او مدارک راغونډ کړي چې د جنايي تحقيقات او د اړيکو ضد عملياتو کي او همدارنګه د هغو کسانو په عدلي تعقيب کي چې ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي جوړوي(د ځاي پر ځاي شويو چاويدونکو توکو کارونه) تري ګټه واخلي کمزوي دي.[110]

د افغان ملي پوځ، افغان ملي پوليسو او د ملي امنيت رياست ترمنځ موثره همکاري ډيره اړينه ده ترڅو دا ډاډه شي چې افغان ملي ځواکونه د دي قابليت لري (۲۰۱۴ کال ورسته کله چې د انتقال پروسه بشپړيږي) چې د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو په وړاند په موثره او کلي توګه عمليات ترسره کړي. د افغانستان د ملي امنيت شوراي[111] د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۴ نيټه د ځاي پر ځاي شويو چاويدونکو توکو په ضد ملي ستراتيژي تصويب کړه. دغه ستراتيژي داړونده  ملي امنيتي ادارو عمليات د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو په وړاندي همغږي کوي. د افغانستان حکومت به  د دي ستراتيژي تطبيق لپاره دوامداره او با ثباته همکاري ته اړتيا ولري. ايساف/ناتو، په ځانګړي توګه د ځينو عرفي اسلحو د کنوانسيون دوهم ضميموي پروتوکول (سي سي ډبليو اي پي ۲ )[112] لاسليک کوونکي هيوادونه  د ځاي پر ځاي شويو چاويدنکو توکو په وړاندي او د دي توکو د خنثي کولو د موثره، مرکزي مديريت لرونکي عملياتو لپاره نوري منابع وقف کړي.[113] د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو پر وړاندي د مبارزي ملي ستراتيژي بريالي تطبيق، د افغان ملي امنيتي ځواکونو او د قانون د حاکميت د ادارو د قابليتونو پرمختګ تر څو هغه اشخاص او ډلي چې ځاي پر ځاي شوي چاويدونکي توکي توليدوي تعقيب، تشخيص او تر عدلي تعقيب لاندي ونيسي د انتقال د پروسي او د ملکيانو د ساتني لپاره حياتي ارزښت لري.

[110] پيښي په ځاي کې کارونه يا استحصال، اي ټي ټي پي۹۰-۳- .۱۵ (اف ام ۱۵،۹۰-۳)، د پوځ تاکتيکونه، مهارتونه او پروسيجرونه، شميره ۹۰,۱۵-۳. مرکز، د پوځ رياست، واشنګټن ډي سي، د جولاي اتمه ۲۰۱۰.
[111] جمهور رئيس کرزي د  ملي امنيت شوراي مشري کوله.
[112] له ۵۰ څخه ۴۱ د ناټو/ ايساف د ترون غړيو هيوادونو د ځينو عرفي اسلحو د کنوانسيون دوهم ضميموي پروتوکول (سي سي ډبليو اي پي ۲ ) تصويب کړي ده. آلبانيا، استراليا، اتريش، بلجيم، بوزنيا او هزارګوينا، بلغاريا، کاناډا، کروتيا، د چک جمهوريت، ډنمارک، ايل سوادور، استونيا، فنلنډ، فرانسه، جورجيا، جرمني، يونان، هنګري، ايسلنډ، ايرلنډ، ايټاليا، اردون، لټويا، ليتونيا، لکسمبرګ، منتګرو، هالنډ، نيوزلنډ، ناروي، پولنډ، پورتګال، جمهوريت کوريا، رومانيا، سلواکيا، سلوانيا، هسپانيا، سويډن، ترکيه، اکرين، انګلستان، ايالات متحده امريکا.
[113] د ناټو/ايساف بسپنه ورکونکي هيوادونه، http://www.isaf.nato.int/troop-numbers-and-contributions/index.php

## افغان سیمه ایز پولیس او د ملکي خلکو ساتنه

### ځغلنده نظر

یوناما د جنوري د میاشتي څخه بیا د جون تر میاشتي پوري د ۵۱ ولسوالیو له حکومتي چارواکو، پولیسو، قومي مشرانو او نورو اړونده کسانو سره سلاه مشوري وکړي تر څو د دوي نظرونه د سیمه اېزو پولیسو د پروګرام د تطبیق په اړه واخلي.[۱۱٤] ډیرو ټولنو او سیمه ایزو دولتي چاوراوکو د سیمه ایزو پولیسو له امله د امنیي لاس ته راوړنو یخلي کړي, او ویلي په هغو سیمو کي چي سیمه اېز پولیس شتون لري امنیتي حالت ښه شوي دي. که څه هم ټولنوپه ډیرو ولسوالیو کي د سیمه یزو پولیسو لاسته راوړنو ته ښه راغلاست وایي , خو یوناما د سیمه ایزو پولیسوبشري حقونو احترام په اړه ګڼ بیلابیل نظرونه ترلاسه کړي .[۱۱۵]
د کنړ، میدان وردګ او کاپیسا ولایتونوسیمه یزچاراواکواوټولنوسیمه یزوپولیس له دي امله ستایلي چي د عمومي لیارو په اوږدو کي تګ راتګ ډاډمن کړي. دوي د سیمه ېزو پولیسو د راتلونکي پروګرام په اړه په ځانګړي ډول د ۲۰۱۴ وروسته يي خپلي اندیښني په ډاګه کړي. د ټولني خلکو په ټینګارسره وړاندیز کړي چي سیمه یز پولیس دي په افغان امنیتي ځواکونو کي راګډ کړاي شي ترڅو امنتي لاسته راوړني تل پاتي ، د قانون واکمني پیاوړي او پراخه نظارت ډاډمن شي.

ډیرو سیمه ایزو اوسیدونکو اندیښنه په ډاګه کړي ده چي د سیمه ایزو پولیسو په ګمارنه او چاڼ کونه کي ستونزي وجود لري؛ د دولت ضد عناصر په سیمه ایزو پولیسو کي نفوذ کوي او د ملي پولیسو له لوري د سیمه ایزو پولیسو د قومندي او کنټرول پروسه ضعیفه ده. همدارنګه د نظارت میکانیزم ضعیف دي او د سیمه ایزو پولیسو د افسرانو د حساب ورکوني پروسه د بشري حقونو د تیرو او اوسنیو تیرویو لپاره ضعیفه ده. د سیمه ایزو پولیسو د تیرو او اوسنیو تیرو په تحقیقاتو او د هغوي په عدلي تعقیب کي ناکامي په ځینو سیمو کي معافیت نور هم ډاډمن کړي دي. د بیلګي په ډول یوناما د کندز، پل خمري، خاص ارزوګان، خیر کوټ او شاه ولي کوټ له ولسوالیو څخه راپورنه تر لاسه کړي دي چي ملي پولیسو د هغو سیمه ایزو پولیسو په عدلي تعقیب او تحقیقاتو کي پاته راغلي دي چي د بشري حقونو څخه یي تیري کړي دي او یاهم جرمي اعمال ترسره کړي دي.

د سیمه ایزي دفاع نور نوښتونه هم د اندیښني وړ دي؛ لکه د اساسي تأسیساتو د ساتني پروګرام (سي آي پي) په شمال او شمال ختیځ کي چي د ۲۰۱۱ کال د ډیسمبر په میاشت کي جمهور ریس کرزي د دغه پروګرام د لغوه کولو امر صادر کړ ولي دغه پروګرام بیا هم دوام ومondل. یوناما یو ځل بیا خپله اندیښنه د سي آي پي د پروګرام په اړه په ډاګه کوي لکه څنګه چي د ۲۰۱۱ کال د ملکي کسانو د ساتني په کلني راپور کي ذکر شوي دي.

په ځینو ولسوالیو کي د ملي پولیسو لخوا د سیمه ایزو پولیسو محدوده قومنده او کنټرول د اندیښني وړ ده. یوناما راپوررونه ترلاسه کړي دي چي د ولایتي مقاماتو (په ځانګړي توګه امنیت ملي او پولیسو) او د سیمه ایزو پولیسو د قومندانانو ترمنځ ضعیفه همغږي او همکاري وجود لري. یوناما همدارنګه راپورنه ترلاسه کړي دي چي د سیمه ایزو پولیسو په ګمارنه او چاڼ کونه کي سیمه ایز قومندانان او زورواکان سره لدي (چي دغه پروګرام کي د امریکا خاص قوتونه قوي شتون لري) نفوذ لري. د مقایسي له مخي ملي پولیس او د ملي امنیت ریاست د سیمه ایزو پولیسو په ګمارنه او چاڼ کونه کي محدود رول لري. یوناما همدارنګه مشاهده کړي دي چي افغان ملي پولیس د سیمه ایزو پولیسو د ماموریت او راپور ورکولو په سلسله مراتبو په اړه پوره معلومات نلري؛ چي دا د سیمه ایزو افغان ملي پولیسو د قومندان د رهبري مهارتونو لړ والي ته اشاره کوي.

یوناما یو ځل بیا خپله اندیښنه د سیمه ایزو پولیسو د معافیت، حساب ورکوني او نظارت په اړه څنګه چي د یوناما د ۲۰۱۱ کال د ملکي خلکو د ساتني په کلني راپور کي رغلي دي په ډاګه کوي.[۱۱٦] د ۲۰۱۲ کال دجنوري او جون د میاشتو ترمنځ یوناما راپورنه ترلاسه کړي دي چي سیمه ایز پولیس نسبتاً خپلواک عمل کوي او په دوي باندي د ادعا شویو تیرو په وړاندي له پوره معافیت څخه برخمن دي.

---

[۱۱٤] په دي کي د نورستان ولایت د برګمټال او کامدیش ولسوالیو د ټولنو مشورې هم شامل دي چې "خپل سري سیمه یزو پولیسو" په اړه وو.
[۱۱۵] د ۲۰۱۲ کال د جون د۲۲ پوري په سراسر افغانستان کې په ۷۰ ولسوالیو کې ۱۵،۰۰۰ سیمه یز پولیس فعالیت کوي. د دي پرګرام له مخي به د ۲۰۱۴ تر پایې پوري ۳۰،۰۰۰ سیمه یز پولیس رامنځ ته شي. [ د آیساف د مرکز او متحده ایالاتو CFSOCC-A DCO سره د۲۰۱۲ کال د جون په ۲۲ او ۱ اګست لومړي ، د یوناما سره ناسته
[۱۱٦] د یوناما د ۲۰۱۱ کال د ملکي خلکو د ساتني کلني راپور؛ ۳۶-۳۵ مخونه، فبروري ۲۰۱۲.

یوناما په ۲۰۱۲ کال کې د کورنیو چارو د وزارت د سیمه ایزو پولیسو د ریاست، افغان ملي پولیسو او ایساف له لوري د سیمه ایزو پولیسو د پروګرام پراخ نظارت لپاره هلي ځلي تأیید وي. په دغو هڅو کې دا شیان شامل ول: د کورنیو چارو د وزارت د سیمه ایزو پولیسو د ریاست له لوري د سیمه ایزو پولیسو سیمو څخه لیدنه، د امنیه د قومندانانو، د ملي او سیمه ایزو پولیسو د ارتباطي کسانو او د سیمه ایزو پولیسو د قومندانانو ترمنځ منظمي لیدني کتني او د سیمه ایزو پولیسو د سیمو او په دغو سیمو کې له عامو خلکو سره منظمي ناستي. سربیره پردي، ایساف هڅي وکړي ترڅو د سیمه ایزو پولیسو د قوي کولو لپاره باثباته میکانیزم رامنځته کړي؛ هغه دا چې افغان خاص قوتونه سیمه ایز پولیس ورزي ـ دغه چاره په ځینو ولسوالیو کې شروع شوي ده. په دغو هڅو کې دا یادونه هم شوي ده چې د کورنیو چارو وزارت د دي وزارت د سیمه ایزو پولیسو د ریاست په چوکاټ کې یو اداره رامنځته کړي ترڅو د سیمه ایزو پولیسو له لوري د بشري حقونو د سختو تیرو پلټنه وکړي. دغه اداره به ظاهراً د یوي داسي مرجع په توګه کار وکړي چې د بشري حقونو څخه د تیرویو کره شوي پیښي عدلي مراجعو ته د عدلي تعقیب لپاره ولیږي. همدارنګه دغه خاصه اداره به د پولیسو د قومندان، جنایي امریت، د ملي امنیت د اداري د استازو او سیمه ایزو شوراګانو له لوري ملاتړ وشي؛ او د دغه اداره به د سیمه ایزو پولیسو سیمو څخه لیدنه کوي ترڅو د سیمه ایزو پولیسو له لوري د تیرویو پیښو پلټنه ترسره کړي.[117] په هرصورت د ۲۰۱۲ کال کې یوناما له سیمه ایزو خلکو څخه په دوامداره توګه راپورونه ترلاسه کړل چې افغان ملي پولیس په ډیرو پیښو کې د سیمه ایزو پولیسو هغه غړي چې له بشري حقونو څخه یې تیري کړي وي نه نیسي او د هغوي تحقیقات نکوي.

یوناما په پرله پسي توګه راپورنه ترلاسه کړي چې د سیمه ایزو پولیسو د ګمارني ا چاڼ کوني طرزالعمل ندي پلي شوي. د بیلګي په ډول د فراه ولایت د خاک سفید له ولسوالۍ څخه قومي مشرانو راپور ورکړي چې د ولسوالی له شوراي سره د ۱۸ سیمه ایزو پولیسو په ګمارنه کې سلاه مشوره نده ترسره شوي. د سیمه ایزو پولیسو د ګمارني او چاڼ کوني د طرزالعمل په تطبیق کې پاته راتلل معافیت ته نوره وده ورکوي؛ او دا د دي لامل کیږي چې ضعیف کاندیدان او د بشري حقونو څخه تیري کونکي و ګمارل شي چې د سیمه ایزو پولیسو او هغو ټولنو کې چې دغه پولیس کار کوي بي باوري رامنځته شي.[118]

غیر مؤثر ګمارنه او چاڼ کونه همدارنګه د ملي پولیسو لخوا د سیمه ایزو پولیسو کنټرول او قومنده کمزوري کوي. همدارنګه ضعیفه چاڼ کونه د دي لامل کیږي چې د دولت ضد عناصر په سیمه ایزو پولیسو کې نفوذ پیدا کړي چې دا پخپله د سیمه ایزو پولیسو او د سیمي د خلکو لپاره جدي امنیتي ستونزي را ولاړوي.[119]

که څه هم سیمه ایز مشران د سیمه ایزو پولیسو د روزني اهمیت باندي پوهیږي، خو دوي یوناما ته ویلي چې د ۲۱ ورځني روزني پروګرام چې اوس یې سیمه ایزو پولیسو ترلاسه کوي کافي ندي. په اوسنیو وختونو کې د بشري حقونو توکي د سیمه ایزو پولیسو د روزني په تعلیمي نصاب کې ځاي شوي دي چې په هغه کې د بشري حقونو لومړني مفاهیم چې د افغانستان په اساسي قانون کې راغلي دي شامل دي. لدي نه موخه داده ترڅو سیمه ایز پولیس وپوهیږي چې څنګه بشري حقونه په عمل کې د دوي د ساتني د وظایفو برخه دي.[120] څنګه چې د سیمه ایزو پولیسو د روزني پروګرام تر ډیره حده د نظامي تاکتیکونو په روزنه باندي متمرکز دي (افغان ملي پولیس محدود برخه لري)؛ دا جوته نده چې په عمل کې ایا د بشري حقونو روزنه به د سیمه ایزو پولیس په کړنو کې تغیر راولي چې دوي څنګه بشري حقونو ته په سیمه کې احترام ولري.[121]

---

[117] د ۲۰۱۲ کال د جنوري د میاشتي په ۱۰ نیټه د یوناما ناسته د کورنیو چارو د وزارت د سیمه ایزو پولیسو د ریاست د ریس جنرال علي شاه احمدزي سره.

[118] د سیمه ایزو پولیسو او ټولنو ترمنځ بي باوري او خفګان کیدایشي د تاوتریخوال لامل شي. د بغلان ولایت په پلخمري ولسوالی کې د تاجک افغان ملي پولیسو او پښتنو سیمه ایزو پولیسو او تاجک او پښتنو قومي مشرانو ترمنځ اوس هم ترینګلتیا شتون لري. دغه ترینګلتیا لدي کبله رامنځته شوه چې امریکایې خاص قوتونو په یو لوریز ډول بي لدي چې ولایتي مقامات او پولس سره مشوره وکړي د ۲۰۱۲ کال په نیمایې کې سیمه ایز پولیس وګمارل.

[119] د دغه راپور د مخالفو وسلوالو ګروپونو او سیمه ایزو پولیسو برخه وګورئ.

[120] د ۲۰۱۲ کال د جون د میاشتي ۲۲ د یوناما ناسته د ایساف به مرکز کې د یو اس آي – سي اف اس او سي سي –آي ډي سي او

[121] د هغه اصل له مخي چې (افغانان باید افغانان وروزي)، په اوس کې افغان خاص قوتونه سیمه ایز پولیس په ۷ سیمو کې روزي. که څخه هم دغه روزنه سیمه ایزو پولیسو قابلیت تقویه کوي خو افغان ملي پولیس په دغو روزونو کې برخه نلري. ایساف یادونه کړې چې په راتلونکي کې پلان دا دي چې افغان ملي پولیسو ته باید د سیمه ایزو پولیسو به تختنکي او اساسي برخو کې پراخ رول ورکړل شي؛ (د ۲۰۱۲ کال د جون د میاشتي ۲۲ د یوناما ناسته د ایساف به مرکز کې د یو اس آي – سي اف اس او سي سي –آي ډي سي او)

## د سیمه ایزو پولیسو له لوري د بشري حقونو څخه تېري؛ او معافیت

یوناما په اوسنیو وختونو کې د افغان ملي پولیسو او قضایي ادارو له لوري د سیمه ایزو پولیسو څخه تحقیقات، د هغوي نیونه او عدلي تعقیب ته ښه راغلاست وایي؛ مګر یوځل بیا خپله اندیښنه د سیمه ایزو پولیسو له لوري په اوس او پخوا کې د بشري حقونو څخه د تیرویو په اړه څرګندوي.[۱۲۲] د ۲۰۱۲ کال په تیرو شپږو میاشتو کې یوناما په شپږو ولایتونو کې د سیمه ایزو پولیسو په وړاندې شکایتونه ثبت کړي دي. راپورنه وایي چې د سیمه ایزو پولیسو افسران په مستقیم ډول د نجونو او ښځو په بد کې ورکولو کې لاس لري، ( د جرمي اعمالو په بدل کې د نجونو او ښځو ورکول) چې دا په واضیح ډول دیته اشاره کوي چې د سختو بشري حقونو څخه د تیرویو او جرمي کړنو په وړاندې سیمه ایزو پولیسو حساب ورکونه شتون نلري. په ۲۰۱۲ کال کې یوناما د سیمه ایزو پولیسو د معافیت پیښې ثبت کړي دي چې لاندې یې یو څو بیلګې وړاندې کیږي:

- د ۲۰۱۲ کال د مې په ۱۷ نیټه د کندز ولایت د کندز په ولسوالۍ کې د سیمه ایزو پولیسو یو قومندان یوه ۱۸ کلنه نجلۍ د خپلو سیمه ایزو پولیسو یو بل غړي ته په بد کې ورکړه؛ او د هغوي ترمنځ یې د زور واده ته زمینه مساعده کړه. دوي ادعا کوله چې د یوه بالقوه شخړې مخه یې د دغو دوو سیمه ایزو پولیسو ترمنځ چې د یوه واده له امله رامنځته شوي وه نیولې ده. د راپورونو له مخې په لومړیو پنځو ورځو کې د دغو دوو مرتکبینو څخه یې یوه له نجلۍ سره زبر زنا کړي وه. افغان ملي پولیسو د سیمه ایزو پولیسو هغه غړي چې نجلۍ یې ترلاسه کړې وه پدې خاطر ونیول چې کیدایشي له نجلۍ سره یې زبر زنا کړې وي؛ او څو روځې ورسته یې د هغه ورور چې د سیمه ایزو پولیسو غړي وو ونیول. د جون د میاشتې په ۲۲ نیټه (له پیښې څخه یوه میاشت ورسته) کله چې په لوړه کچه موضوع راپورته شوه نو افغان ملي پولیسو د سیمه ایزو پولیسو قومندان چې د نجلۍ په بد کې ورکولو کې یې لاس درلود او د سیمه ایزو پولیسو یوبل کس ونیولو. مګر پولیسو تراوسه د سیمه ایزو پولیسو یوبل غړي چې په دغه قضیه کې لاس لري ندي نیولې.

- د ۲۰۱۲ کال د مې د میاشتې په ۱۲ نیټه د پکتیکا ولایت د خیر کوټ په ولسوالۍ کې د سیمه ایزو پولیسو یو قومندان اوځلورو تنو سیمه ایزو پولیسو د ځمکې پرسر په یوه شخړه کې یو کس په ډزو ووژل. دغه موضوع په یوه جرګه کې راپورته شوه چې جرګې تصمیم ونیول چې د سیمه ایزو پولیسو د قومندان ۷ کلنه لور په بد کې د مړه شوي کس کورنۍ ته ورکړي. افغان ملي پولیسو د سیمه ایزو پولیسو له قومندان او دهغه کسان نه ونیول او نه یې هم له هغوي څخه د قتل د جرم یا بد کې د نجلۍ د ورکول په خاطر تحقیقات وکړل.

- د ۲۰۱۲ کال د مارچ د میاشتې په ۵ د ارزوګان ولایت د چورې په ولسوالۍ کې د سیمه ایزو پولسو ګروپونو څو کورنو ته د ننه شول او و یې پلټل او دوه کسه یې ونیول. سیمه ایز پولیس قانوني واک نلري چې د افغان ملي پولیسو غوندې تلاشي ترسره کړي او خلک ونیسي. د راپورنه له مخې د تلاشي په جریان کې سیمه ایزو پولیسو یوه نجلۍ او یو زوړ کس ووژلو. له نیول شویو دوو کسانو څخه یې یو ورسته مړ وموندل شو او بل اوس هم ورک دي. سره لدې چې په دې اړه ډیر شکایتونه وشول، سیمه ایزو خلکو یوناما ته وویل چې افغان ملي پولیسو د سیمه ایزو پولیسو دغه شکمن کسان د ملکیانو د وژولو په خاطر و نه نیول؛ او په دې کې پاته راغلل کې هغه شخص پیدا کړي چې د سیمه ایزو پولیسو لخوا نیول شوي وو.

- د ۲۰۱۲ کال د جنورې په میاشت کې ترسلو ډیرې کورنۍ د اروزګان ولایت د خاص اروزګان له ولسوالۍ څخه د دې ولایت مرکز ترینکوټ او د کندهار ولایت سپین بولدک ولسوالیو ته د سیمه ایزو پولیسو د پرلپسې بشري حقونو څخه د تیریو له کبله بې ځایه شوې. یوناما د سیمه ایزو خلکو او مقاماتو څخه راپورنه ترلاسه کړي دي چې د سیمه ایزو پولیسو یو قومندان او د هغه ګروپ د تیر کال راهیسې ۱۵ ملکیان د خاص اروزګان په ولسوالۍ کې وژلي دي. د افغان ملي پولیسو څارنوال یوناما ته ویلي دي چې هغه په دغه اړه د نهه کسانو د وژلو قضیې مستندې کړې دي.[۱۲۳] که څه هم سیمه ایزو مقاماتو هڅې

---

[۱۲۲] د جون په لسمه او د جولای په دوهمه نیټه د سیمه ایزو پولیسو د ریاست ریس علي شاه احمدزي یوناما ته خبر ورکړ چې د ۲۰۱۱ کال د اګست د میاشتې څخه تر اوسه پورې د سیمه ایزو پولیسو د ۴۲ تنو څخه تحقیقات شوي دي او عدلي ادارو ته معرفي شوي دي.

[۱۲۳] د ۲۰۱۲ کال د مې د میاشتې په ۱۳ نیټه د اروزګان ولایت په مرکز ترینکوټ کې د یوناما مرکه د پولیسو د څارنوال سره.

کړي دي چې د سيمه ايزو پوليسو دغه قومندان ونيسي خو د هغه په نيولو کې پاته راغلي دي. يوناما دغه قضيه د امريکايي خاصو ځواکونو سره مطرح کړي ده اما هغوي يادونه کړي ( چې د سيمه ايزو پوليسو د قومندان په وړاندي قوي اسناد نشته)، او دغه ادعاوي د مليت په اساس راپورته شوي دي. که څه هم د ۲۰۱۲ کال د جنوري په مياشت کې پوليسو د سيمه ايزو پوليسو دغه قومندان ونيول خو ورسته بيرته خوشي شو. د خوشي کيدلو حالت جوت ندي. که څه هم دغه کس د سيمه ايزو پوليسو د قومندان منصب اوس نلري خو پوليس د هغه په بيا نيول کې پاته راغلي دي.

## په سيمه ايزو پوليسو باندي د دولت ضد عناصرو بريدونه

که څه هم يوناما د هغه مهم رول په اړه چې سيمه ايز پوليس يې په ليرو پرتو سيمو کې د دغو سيمو د امنيت په اړه لري پوهيږي اما يوناما د ملکي کسانو د ساتني په اړه په هغو سيمو کې چې سيمه ايز پوليس په زياتيدونکي ډول د دولت ضد عناصرو لخوا په نښه کيږي انديښنه لري.[124] د دولت ضد عناصرو له لوري په سيمه ايزو پوليسو باندي بريدونه چې به هغه کې بې بعيضه تاکتيکونه لکه ځاي پر ځاي شوي چاوديدنکي توکه او ځانمرګي بريدونه د ډيرو ملکي خلکو د مرګ ژوبلي لامل کيږي. يوناما د ۲۰۱۲ کال د جنوري څخه بيا تر جون پوري د ۷۲ ملکي خلکو مرګ ژوبله (۱۴ ملکيان وژل شوي او ۵۸ نور ټپيان شوي) په ټولټال ۲۳ بريدونو کې چې د دولت ضد عناصرو په سيمه ايزو پوليسو بريدونه کړي د ي ثبت کړي. يوناما د ځاي پر ځاي شوي چاويدنکو توکو چې په هغه کې سيمه ايز پوليس په نښه شوي دي ۱۳ پيښي ثبت کړي دي چې ۱۲ ملکيان يې وژلي او ۴۱ نور يې ټپيان کړي دي. د سيمه ايزو پوليسو د پروګرام له شروع څخه (اګست ۲۰۱۰) بيا د ۲۰۱۲ کال تر جون پوري د دولت ضد عناصرو له لوري په ټول افغانستان کې ۲۲۴ سيمه ايز پوليس وژل شوي او ۲۳۴ نور هم ټپيان شوي دي.[125]

## افغان سيمه ايز پوليس او هغه کسان چې ځانونه سيمه ايز پوليس بولي[126]

يوناما په پرلپسي توګه راپورنه ترلاسه کوي چې غير قانوني مسلح ګروپونه خپل ځانونه په سيمه ايزو پوليسو کې حساب کوي او د سيمه ايزو خلکو او د بشري حقونو د ګروپونو لپاره دا نوره هم ستونزمنه کوي چې د قانوي سيمه ايزو پوليسو او دولت پلوه مليشو ترمنځ توپير وکړي.[127] د بيلګي په ډول د تخار ولايت د خواجه غار او درګد په ولسواليو کې دولت پلوه مليشه ګروپونو خپل ځانونه د مارچ ۲۰۱۱ کال راهيسي (له کله چې د سيمه ايزو پوليسو تشکيل منظور شوي دي) سيمه ايز پوليس معرفي کوي. په سيمه ايزو پوليسو کې د دغو ګروپونه رسمي مدغم کيدل د ۲۰۱۲ کال په مارچ کې شروع شوي دي. د ۲۰۱۱ کال د مارچ د مياشتي او ۲۰۱۲ کال د مارچ تر مياشتي پوري دغه ګروپونه نه هم په سيمه ايزو پوليسو کې ګمارل شوي او نه هم امريکايي خاصو ځواکونو له لوري روزل شوي دي او نه هم د کورنيو چارو وزارت له لوري تصديق شوي؛ خو ولايتي مقاماتو هغوي ته سيمه ايز پوليس ويل.

همدارنګه د نورستان ولايت په برګمټال او کامديش ولسواليو کې ولايتي مقاماتو په يو لوريز ډول ۲۵۰ سيمه ايز پوليس په هره ولسوالی کې په دندو ګمارلي بې لدي چې د کورنيو چارو وزارت له لوري تصديق شي او د امريکايي خاصو ځواکونو له لوري روزنه ترلاسه کړي. د ۲۰۱۱ کال د اولي نيمايي څخه دغه کسان په ولسواليو کې فعاليت کوي. د ۲۰۱۰ کال د اګست په مياشت کې يوناما د کندز ولايت د چهار دري په ولسوالی کې يوه بله بيلګه ثبت کړي ده؛ چيرته چې ۳۰۰ سيمه ايز پوليس په يو لوريز ډول د پوليسو د قومندان له لوري په دندو ګمارل شوي دي. ورسته دغه ګروپ د اساسي تأسيساتو د ساتني په پروګرام کې مدغم شول او ورسته اکثريت يې سيمه ايزو پوليسو کې مدغم شول.

---

[124] د دولت ضد عناصرو په پرلپسي ډول د سيمه ايزو پوليسو ګروپونه په نښه کوي ؛ چې دا کيدايشي ديته اشاره کوي چې سيمه ايز پوليس د ياغيانو عمليات په هغو سيمو کې چې دوي عمليات کوي له منځه وړي.

[125] د ۲۰۱۲ کال د جنوري د مياشتي په ۱۰ نيټه د يوناما ناسته د کورنيو چارو د وزارت د سيمه ايزو پوليسو د رياست د ريس جنرال علي شاه احمدزي سره.

[126] دغه اصطلاح د هغه کسانولپاره کاريږي چې ځانونه سيمه ايز پوليس بولي خو په حقيقت کې دغه کسان هغه دولت پلوه مليشه ګروپونو دي چې په يو لوريز ډول يا هم د ولايتي مقاماتو، سيمه ايزو زورواکانو يا امريکايي خاصو قوتونو له لوري د کورنيو چارو د وزارت له اجازي پرته (لکه څنګه چې د کورنيو چارو د وزارت د سيمه ايزو پوليسو د ګمارني په طرزالعمل کې ويل شوي) د سيمه ايزو پوليسو لپاره ګمارل شوي دي.

[127] پوليس محلي په دري او سيمه ايز پوليس په پښتو کې يوناما ته د مرکو په اساس ويل شوي دي. د سيمه ايزو پوليسو له نامه څخه بده ګټه اخسته د ۲۰۱۱ کال د ملکي خلکو د ساتني په راپور کې ذکر شوي دي.

## هغه نور اقدمات چې د سیمه ایزو پولیسو د کړنو د بڼه والي لپاره ترسره شوي دي

یوناما په ۲۰۱۲ کال کې مشاهده کړي چې موثره هڅي د افغانستان د حکومت او ایساف له لوري ترسره شوي دي چې د بشري حقونو د تیرویو، قومندي او کنټرول موضوعګانو باندي بحث وشي. یوناما راپورنه ترلاسه کړي دي چې د افغان ملي پولیسو له لوري د سیمه ایزو پولیسو قومنده او کنټرول ښه شوي دي. د بیلګي په ډول د بغلان ولایت د پلخمري په ولسوالی کې او د هرات ولایت په شینډن ولسوالی کې د سیمه ایزو پولیسو د تیریو کم راپورنه د تیر په مقایسه ترلاسه شوي دي.

د ۲۰۱۲ کال د مارچ په میاشت کې امریکایي خاصو ځواکونو د وردکو په ولایت کې د ۷۷۰ سیمه ایزو پولیسو څخه ۲۵۸ خلع سلاح کړي دي. د بشري حقونو څخه تیري او ناوړو کړنو ادعاوي د دي لامل شوي دي چې دغه کسان خلع سلاح شي. همدارنګه دغه خلع سلاح شوي سیمه ایز پولیس پخوا د عامه محافظت د پولیسو برخه ول (د سیمه ایز امن پروګرام چې د سیمه ایزو پولیسو څخه مخته یې وجود دردلود) او د ټولنو څخه یې استازولي نکوله چېرته چې دوي دنده ترسره کوله چې د کورنیو چارو د وزارت د سیمه ایزو پولیسو د طرزالعمل خلاف دي. ځیني خلع سلاح شوي کسان بیرته په افغان ملي پولیسو او ملي اردو کې مدغم شول او نورو بیرته له سیمه ایزو پولیسو سره دنده شروع کړه.

## په زیانمنونکو کسانو د وسلوالي جګړي اغېزي

په افغانستان کې وسلوالي جګړې ښځي او ماشومان په دوامداره توګه اغیزمن کړي دي. یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړۍ نیمایي کې ټولټال د ۹۲۵ ښځو او ماشومانو وژنه او ټپي کیدنه ثبت کړې ده، چې د ټولي ملکي مرګ ژوبلي ۳۰ سلنه تشکیلوي. په دغو مرګ ژوبلو کې ۵۷۸ د ماشومانو مرګ ژوبله (۲۳۱ ماشومان وژل شوي او ۳۴۷ نور ټپیان شوي دي) او ۳۴۷ د ښځو مرګ ژوبله (۱۱۸ ښځي وژل شوي او ۲۲۹ نوري ټپياني شوي دي) ده چي کال کي د ملکي مرګ ژوبلي ۳۰ سلنه تشکیلوي.[128]

ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي د ځمکنیو عملیاتو تر څنګ په جګړه کې د ښځو او ماشومانو د مرګ ژوبلي لومړنی سبب بلل شوی ده. د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکو توکو له کبله ۵۸ ښځو او ۱۴۴ ماشومانو ته مرګ ژوبله اوښتي ده چي د ښځو او ماشومانو د ټولټال مرګ ژوبلي ۲۲ سلنه تشکیلوي. د ځمکنیو عملیاتو په نتیجه کې ۱۵۰ ښځي او ۱۶۶ ماشومان وژل شوي دي چي د ښځو او ماشومانو د ټولټال مرګ ژوبلي ۳۴ سلنه تشکیلوي.

د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له ۱۲۹ ملکي تلفاتو چي د هوايي بریدونو په نتیجه کې رامنځته شوي دي ۸۱ يې ښځي او ماشومان وو چي تقریباً د هوايي بریدونو په پایله کې د ملکي مرګ ژوبلي دوه په دریمه تشکیلوي؛[129] او د ښځو او ماشومانو د ټولټال مرګ ژوبلي لس سلنه تشکیلوي.

### د جګړې له کبله د ملکيانو بې ځايه کيدنه

په ۲۰۱۲ کال کې ملکیان په دوامداره توګه د جګړې له کبله بې ځايه شوي دي. د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنري په ۲۰۱۲ کال کې د جګړې له کبله ټولټال د ۱۱۴۹۰۰ کسانو بې ځایه کیدل په افغانستان کې ثبت کړي دي چي د دي له جملي نه ۱۷۰۷۹ کسان په ۲۰۱۲ کال کې بې ځايه شوي دي. د تېر کال د همدي مودي په نسبت په ۲۰۱۲ کال کې د جګړې له کبله د بې ځایه شویو کسانو شمېر ۱۴ سلنه زیات شوي دي. په دغه موده کې د ډېرو داخلي بي ځايه شويو کسانو راپور په ترتیب سره له سهیلي، لویدیځو او ختیځو سیمو څخه ورکړل شوی ده. د سهیلي سیمو څخه ډېر زیات داخلي کسان بې ځايه شوي دي چي شمېر يې ۸۴۴۱ تنو ته رسیږي. لویدیځ دوهم ځایه دي چي د نا امني، ګواښونو، ځورونو (د غیري قانوني مالیاتو اخستل) او جبر له کبله پکښي ۴۰۶۲ کسان بې ځايه شوي دي.[130]

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنري تحلیل دا په ډاګه کوي چي اکثره داخلي کسان د جګړې او امنيتي حالت د خرابوالي له کبله بې ځايه شوي دي. جګړه، د پولي هغې غاړي راکيټي بریدونه، نظامي عملیات او په څرخایونو باندي نانډرۍ هغه عام لاملونه دي چي په ۲۰۱۲ کال کې د خلکو د بي ځايه کيدو سبب شوي دي. سربېره پردي یوناما د ارزګان ولایت د خاص ارزګان په ولسوالی کې د بشري حقونو څخه داسي تيري ثبت کړي دي چي د خلکو د بې ځايه کيدو لامل شوي دي. د بشري حقونو دغه تيري د سیمه ایز و (محلي) پولیسو له لوري ترسره شوي دي.

### په جګړه پوري اړونده نوري پيښني

د پولي هغې غاړي پاکستان څخه توغندیز بریدونه

یوناما د ۲۰۱۱ کال په څير د پولي هغې غاړي پاکستان څخه د توغندیزو بریدونو راپورنه ترلاسه کړي دي چي د افغانستان په لویدیځ کي د کنړ د ولایت په سرحدي سیمو لګېدلي دي. یوناما د ۲۰۱۲ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د پولي هغې غاړي توغندیزو بریدونو په پایله کې د۱۶ افغان ملکیانو مرګ ژوبله (یو ملکي وژل شوی او ۱۵ نور ټپیان شوي دي) ثبت کړي ده.

---

[128] د ۲۰۱۱ کال د جولاې او ډیسمبر په منځ کې یوناما د ښځو او ماشومانو ۱۱۳۹ مرګ ژوبله ثبت کړي چې د ټولي ملکي مرګ ژوبلي ۲۹ سلنه تشکیلوي. ټولټال ملکي مرګ ژوبله ۳۹۲۰ تنه وه.

[129] د ۲۰۱۲ کال د له جنوري څخه بیا د جون تر میاشتي پوري د نړیوالو ځواکونو هوايي بریدونو په پایله کې ۳۰ ښځو (۱۶ وژل شوي او ۱۴ ټپیان دي) او ۶۴ ماشومانو (۳۹ وژل شوي او ۲۵ نور ټپیان دي) مرګ ژوبله رامنځته شوي ده.

[130] د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنري، سیمه ایز بي ځایه شوې کسان، د ۲۰۱۲ کال د مي میاشت ارقام.

د مي په میاشت کې یوناما لس پیښې ثبت کړي دي؛ چې په جون کې ۲۵ پیښو ته یې زیاتوالي موندلی دی. له ۳۵ څخه لس پیښو کې ملکي مرګ ژوبله رامنځته شوې ده. د جون په میاشت کې د دغو بریدونو په پایله کې تر پنځوسو ډیرې کورنۍ له کونړ ولایت څخه او په کونړ ولایت کې بې ځایه شویدي. له بلې خوا د دغو بریدونو په وړاندې مظاهره کې دري ښوونځي تړل شوي دي.

# لومړۍ ضمیمه

## د طالبانو د ۲۰۱۲ کال د فبروري د پنځمي نیټي له اعلامي څخه د ملکي کسانو د ساتني پیښني او د دغو پیښو مقایسه د یوناما د ډاټابیس او ارقامو سره

| | د طالبانو د اعلامي پیښني | د یوناما موندني |
|---|---|---|
| ۱ | د فبروري په شلمه نیټه خبر خپور شو چې په هغه کې د کنړ والي (فضل الله واحدي) څخه نقل قول شوي وو چې د غازي اباد په ادره ګل، سوکۍ او ایګل سیموکې د امریکایي قواو د بمبارویو په نتیجه کې د شلو ښځو او ۲۹ ماشومانو په ګډون ۶۴ ملکیان ووژل شول. | د ۶۴ ادعا شوي ملکي مرګ ژوبل په مقایسه د یوناما تحقیقاتو په ډاګه کړه چې په دغه پیښه کې ۴۸ تنه وژل شوي او نهه تنه نور زخمیان شوي دي. |
| ۲ | د مارچ په لومړي نیټه د کنړ ولایت د مانو ګي ولسوالۍ د ننګلم تنګي په سیمه کې د رسنیو د خبرونه په اساس د امریکایانو په هوایي بریدونو کې نهه ماشومان ووژل شول. | د یوناما تحقیقاتو په ډاګه کړه چې نهه ماشومان وژل شوي او یو بل ټپي شوي دي. |
| ۳ | د مارچ په اتمه نیټه یو راپور خپور شو چې په هغه کې ویل شوي وو چې د مارچ په اوله اونۍ کې د هلمند ولایت په سینګین ولسوالۍ کې د یرغلګرو قواو لخوا ۵۸ تنه ملکیانو شهیدان شول. | یوناما تأیید کړه چې ۷ کسه وژل شوي او ۵ نور زخمیان شوي؛ |
| ۴ | د مارچ په ۱۹ نیټه د کنړ ولایت د شیګل په ولسوالۍ کې د لو حسین په سیمه کې د لاهوري په کلي کې امریکایي قواو د ښځو او ماشومانو په شمول لس تنه شهیدان کړل او پنځه نور یې ټپیان کړل. | د یوناما تحقیقاتو وښوده چې یو ملکي کس وژل شوي او د دي مسؤلیت د دولت ضد وسلوالو په غاړه اچول شوي. |
| ۵ | د اپریل د میاشتي په ۱۲ نیټه د بادغیس ولایت، دغورماچ په ولسوالۍ کې د تاز ناوه په سیمه کې ۱۳ بي ګناه وطنوال ووژل شول او څو نور ټپیان شول کله چې امریکایي قواو په څو کورونو باندي چاپې واچولي. | د یوناما تحقیقات و ښوده چې افغان ملي امنیتي ځواکونه او نړیوالو ځواکونو د عملیاتو په نتیجه کې د اپریل د میاشتي په ۱۲ نیټه د دوو ښځو او دوو ماشومانو په ګډون ۱۴ تنه ووژل شول. |
| ۶ | همدارنګه د اپریل د ماشتي په ۱۲ نیټه د میدان وردکو په ولایت، د سید اباد په ولسوالۍ کې د ګلاب خیل او تنګي دره په کلیو کې امریکایي قواو په عمومي سړک باندي ۱۲ ملکیان مړه او ټپیان کړل. | د یوناما تحقیقاتو د یو ملکي کس مرګ ژوبله تأیید کړه. |
| ۷ | د اپریل د میاشتي په ۱۳ او ۱۴ نیټه په افغانستان کې د قران شریف د سوځولو په خاطر چې د متعصب او وحشي کشیش (تیري جون) لخوا په فلوریډا که ترسره شو مظاهري وشوي چې د لاس پوسي ملي اردو لخوا په ډزو کې د کندهار په ولایت او ولسوالیو کې ۱۶ تنه ملکیان ووژل شول او په سلګونو نور ټپیان شول. | دغه پیښه د ملکي کسانو د ساتني پیښه نده(د وسلوالي جګړي برخه نده)؛ مګر د قانو د حاکمیت پیښه ده چې په هغه کې ملکي پولیس عمومي نارامیو ته ځواب ویلي دي: د یوناما تحقیقاتو څرګنده کړه چې په دغه پیښه او همدارنګه په نورو سیمو کې مظاره چیان وژل شوي. |
| ۸ | د اپریل په شلمه نیټه د کنړ ولایت د دانګام ولسوالۍ د سي باندي په سیمه کې یرغلګرو ځواکونو هوایي برید ترسره کړ چې په نتیجه کې یې نهه ملکیان ( ۲ ښځې، ۲ ماشومان) شهیدان شول. | یوناما د دغي پیښي څیړنه ترسره کړه چې په هغه کې د د یو ماشوم او دوو ښځو وژل تأیید شول. |
| ۹ | د اپریل په ۲۱ نیټه د کشک کوهنه ولسوالۍ د زمان کاریز په سیمه کې (هرات) امریکایي قواو اته بي ګناه ملکیان شهیدان کړل. | یوناما تأیید کړه چې د دغي پیښي په نتیجه کې دوه کسه ووژل شول او شپږ نور ټپیان شول. |
| ۱۰ | د جون په دوهمه نیټه د بادغیس ولایت د سیګ اتیشه ولسوالۍ د عمرزو په کلي کې یرغلګرو یو قومي مشر ووژل او دوه تنه نور یې له ځان سره بوتلل. | د دغې پیښي کوم ریکارډ نشته: په ډاټابیس کې نور راپورنه شته چې د ځاي پر ځاي شویو چاویدونکو توکو په چاودنه کې ملکیان وژل شوي دي. |
| ۱۱ | د بادغیس ولایت د مقر ولسوالۍ د دربوم د سیمي یو مخور قومي مشر حاجي سخي داد ونیول شو او یول بل مذهبي مشر سید حاجي ګل جان اغا چې په زرهاو مقتدیان یې درلودل له حجري څخه ویستل شو او د مي د میاشتي په ۶ نیټه شهید کړل شو.\| | یوناما د دغې پیښي تحقیقات ترسره کړل او کوم ملکي کس مرګ ژوبله یې پیدا نکړه. |
| ۱۲ | د مي د میاشتي په ۱۸ نیټه یرغلګرو ځواکونو د اهن دره په سیمه کې پنځه تنه ملکیان د ښځو په شمول شهیدان کړل.له پیښي ورسته ډیره غټه مظاهر تنظیم شوه چې د توقیفیانو د راخلاصولو غوښتنه یې کوله خو پولیسو د دیموکراسي تر سیوري لاندي په مظاهره چیانو بي هدفه ډزي وکړي ۱۳۱ ملکیان شهیدان او زخمیان شوي. | یونام په دغه پیښه کې د دوو ملکي کسانو مرګ ژوبله ثبت کړي؛ یو ماشوم او یوه ښځه وژل شوي( دوه نور کسان هم وژل شوي خو ملکیان نه ول). |
| ۱۳ | لومړنۍ راپورونه وایي چې د مي په ۲۵ نیټه یرغلګرو ځواکونو په هوایي بمبارۍ کې ۳۰ ملکیان شهیدان شول ورسته له هغه چې د نورستان ولایت د دواب ولسوالۍ د مجاهدینو له لوري ونیول شوه. دا ویل کیده چې په سلګونو مرګ ژوبله پیښه شوي وه څنګه چې په یوه جرګه کې د نورستان ولایت استازي وویل چې: په دغو هوایي بریدونو کې دري سوه ملکي کسان وژل شوي او ټپیان شوي دي. | یوناما له دغې پیښي ښه خبر لري او تحقیقات یې ترسره کړل اما د ملکي کسانو مرګه ژوله نورستان ته د محدود لاس رسي په خاطر تأیید نشوه. یوناما ارزونه داده چې په هوایي بریدونو او ځمکنیو شخړن کې ملکي مر<br>ژوبله رامنځته شوي ده. د ملکیانو احتمالي مرګ ژوبله ثبت شوي ده. |
| ۱۴ | د کنړ ولایت د وټه پور ولسوالیی ته څیرمه د امریکایي قواو او مجاهدینو ترمځ له څلورو وروځو جګړو ورسته د جون له ۲۸ بیا تر ۳۰ نیټي پوري کله چې یرغلګر له سمي څخه تلل درنې بمباري ترسره شوي چې په هغو کې یو څو مجاهدین او ۲۳ ملکي کسان شیهدان شول او څو نور ملکیان ټپیان شول. | دغه پیښه د یوناما لخوا ثبت شوي ده ــ یو ملکي کس وژ ل شوي او دري نور ټپیان شوي دي. |
| ۱۵ | د رسنیو د راپورونو له مخې چې له عامو خلکو څخه یې نقل قول کړي دي د هلمند ولایت د نوزاد په ولسوالۍ کې لږ تر لږه ۲۶ ملکیان ووژل شول کله چې یرغلګرو ځواکونو د استوګني سیمو باندي د مي په ۲۲ بمباري وکړه. دغه پیښه د یرغلګرو لخو تأیید شوه چې ادعایي وکړه چې شپږ مخالفین (مجاهدین) ووژل شول خو دغه ادعا د سیمي د اوسیدونکو لخوا رد شوه. په دغه ورځ ۱۴ نور ملکیان هم د یرغلګرو لخوا شیهدان شول چې د کابل د اداري مشر لخوا یې هم منظره خپره شوه؛ دغه پیښه د کابل د اداري لخوا هم راپورته شوه. | یوناما یوه پیښه تأیید کړه چې د مي د ماشتي په ۲۸ نیټه رامنځته شوي وه او دا جوته شوه چې دا همدغه پیښه ده: د ۲۰۱۱ کال د مي د میاشتي په ۲۸ نیټه د هلمند ولایت د نهرسراج ولسوالۍ د نورزي په کلي کې لږ تر لږه ۴ ماشومان ټپیان شول او یوه بله ښځه ووژل شوه کله چې د دوي د استوګني ځاي باندي هوایي برید ترسره شو. |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۶ | د جولاي په ۶ نیټه د خوست ولایت د مندوزو ولسوالی په سمجي په سیمه کې یرغلګرو ځواکونو یو کور باندي بمباري وکړه چې په پایله کې یې ۱۳ ملکیان شهیدان شول. د دي ولسوالی د پولسو قومندان دغه پېښه تأیید کړه او ویې ویل چې د غلطو معلوماتو په خاطره په یو کور بمباري شوي چې په نتیجه کې یې د یوي کورنی څخه ۸ ماشومان، دوي ښځي او دري سړي شهیدان شوي دي. | یوناما ۱۱ کسانو وژل تأیید کړل. |
| ۱۷ | د مي د میاشي په ۱۲ نیټه د لوګر ولایت د ازري ولسوالی د تنګي دري په سیمه کې ۱۶ ملکیان چې اکثره یې ماشومان ول شهیدان شول. د ولسوالی ویاند دین محمد درویش او د شوراي غړي ډاکتر عبدالولي وکیل تأیید کړه چې ملکیان وژل شوي دي. | کوم معلومات د دغي پیښي په اړوند ندي ترلاسه شوي او نه هم چا د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي شکایت کړي دي. |
| ۱۸ | د جولاي د میاشتي په ۲۳ نیټه د میدان وردکو ولایت د سید اباد ولسوالی د شینز دره په سیمه کې کله چې یو ماین د یرغلګرو ځواکونو یو زرږي موټر ولوځول نو یرغلګرو په ملکیانو ډزي وکړي او ډاکتره عاقله حکمت د هغي ځوي او د خسر ګني د کورنی څخه یو تن یې شهیدان کړل او د کورنی دوه نور کسان ټپیان شول. | یوناما د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي دوي پیښه تأیید کړي په دغه وخت کې رامنځته شوي؛ دا معلومه نده چې کومه یې د طالبانو په اعلامیه کې د پیښي سره ورته والي لري. |
| ۱۹ | د اګست د میاشتي په څلورمه نیټه د پکتیا ولایت د احمد خیلو او ځاځي اریوب ولسوالیو خلکو مظاهري وکړي ورسته له هغه چې یرغلګرو ځواکونو په یوه راکیټي برید کې ۱۳ ملکیان شهیدان او ټپیان کړل. | یوناما همداشان پیښه په ډاټابیس کې لري مګر په هغه کې یو ملکي وژل شوي او دري نور ټپیان دي. |
| ۲۰ | د رسنیو لخو د اګست د میاشتي په اتمه نیټه راپور خپور شو چې وایي د یوي کورنی نهه تنه شهیدان شول کله چې یوه ورځ مخته یرغلګرو ځواکونو د دوي کور بمباري کړ؛ هلمند ولایت د نادعلي ولسوالی د سیمه ایزو خلکو څخه نقل قول شوي دي. د نادعلي ولسوالی څخه حبیب الله سلیماني له اذادي راډیو سره په یوه مرکه کې دغه پیښه تأیید کړه. | یوناما دغه پیښه تأیید کړه چې په هغه کې ۸ ملکیان ووژل شول نه ۹ ملکیان څنګه چې طالبانو یې یادونه کړي |
| ۲۱ | همدارنګه په یوه بله ورته پیښه کې د هلمند ولایت د سنګین د ولسوالی د ساروان او پوپلزو په سیمو کې خارجي قواو ۴ سړي او یوه ښځه شیهدان کړل | کوم معلومات د دغي پیښي په اړوند ندي ترلاسه شوي او نه هم چا د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي شکایت کړي دي |
| ۲۲ | د سپټمبر د میاشتي په دریمه نیټه د جلال اباد ښار د انګور باغ په سیمه کې یرغلګرو ځواکونو د پخوانیو مجاهدینو د یو قومندان حاجي صابر لالا په کور چاپه وچوله چې په نتجه کې یې هغه او دوه نور کسان شهیدان کړل. | کوم معلومات د دغي پیښي په اړوند ندي ترلاسه شوي او نه هم چا د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي شکایت کړي دي |
| ۲۳ | د سپټمبر د میاشتي په ۴ نیټه د هلمند ولایت، زمینداورو د ولسوالی د آذان ناوه په سیمه کې یرغلګرو له خوا بمباري ترسره شوه چې په نتجه کې یې دري ملکیان شهیدان شول. | کوم معلومات د دغي پیښي په اړوند ندي ترلاسه شوي او نه هم چا د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي شکایت کړي دي |
| ۲۴ | د سپټمبر د میاشتي په اتمه نیټه د کنړ ولایت د سرکانو ولسوالی د کنجکل په کلي کې بمباري ترسره شوه مخته تردي چې د ښمن ځواکونه کلي ته د ننه شي؛ په دغه پیښه کې ۱۲ ملکیان شهیدان شول او ۸ نور ونیول شول. | یوناما د دغي پیښي ریکارډ نلري مګر کیدایشي چې له یوي بلي پیښي سره چې په همدغه نیټه په یوه بله ولسوالی کې له تأیید شویو ملکي مرګ ژوبله سره رامنځته شوي ده ګډه شوي وي. |
| ۲۵ | د کنړ او نورستان ولایت د قومي مشرانو د خبر په اساس د سپټمبر د میاشي له ۲۰-۱۹ نیټي پوري د وانت ویګل ولسوالی (نورستان) کې لس ملکیانو د ښځو او ماشومان او یو قومي مشر حاجي جمعه ګل په ګډوون ووژل شول کله چې یرغلګرو ځواکونو عملیات ترسره کړل. | یوناما تأیید کړه چې د دولت پلوه ځواکونو په سیمه کې عملیات ترسره کړي چې په نتجه کې یې ۱۷ ملکیان چې په هغو کې ۷ ماشومان او څلور ښځي شاملي دي وژل شوي او د دروي ماشومانو او یوي ښځي په ګډون څلور کسان ټپیان شوي دي. |
| ۲۶ | د سپټمبر د میاشتي په ۲۸ نیټه سپین غر ولسوالی (نورستان) کې د شپي مهال چاپه کې چې د بهرنیو ځواکونو له لوري ترسره شوه لس ملکیان د مومند دره په سیمه کې شهیدان شول او شپږ نور هم ونیول شول او بوتلل شول. | یوناما د دغي پیښي تحقیقات ترسره کړل او دي نتیجي ته ورسیده چې یو ملکي کس ټپي شوي او لس جنګیالي وژل شوي دي. پیښه د اچین په ولسوالی کې رامنځته شوي ده. |
| ۲۷ | د سپټمبر د میاشتي په ۲۹ نیټه د ګیرشک ولسوالی د حیدراباد په سیمه کې (هلمند) بي دفاع هیوادوال شهیدان شول او یو پلار له خپلو څلور ځامنو سره ونیول شول. | کوم معلومات د دغي پیښي په اړوند ندي ترلاسه شوي او نه هم چا د ملکي کسانو د مرګ ژوبلي شکایت کړي دي |
| ۲۸ | د اکتوبر د میاشتي په ۱۶ نیټه د بهرنیو ځواکونو د میدان وردک ولایت د چک ولسوالی د مامدو او ګردان مسجد په سیمو کې چاپي واچولي چې په نتیجه کې یې استاد (معلم نور اغا) او د هغه دوي خوندي شیهدان شول او دوه نور ملکیان ونیول شول. | یوناما تأیید کړه چې دري کسه ټپیان شوي (۲ ښځي او یو ماشوم). |
| ۲۹ | د اکتوبر په ۲۲ نیټه په رسنیو کې یو راپور نشر شو چې وایي: دیارلس ملکیان ټپیان شول کله چې یرغلګرو ځواکونو د کنړ ولایت د غازي اباد په ولسوالی کې هوایي بریدونه ترسره کړل. د کنړ ولایت والي فضل الله واحدي همدارنګه دغه پیښه تأیید کړه او وویل چې ۷ تنه ملکیان چې په هغه کې ښځي، ماشومان او سړي شامل دي د بهرنیو ځواکونو په بمباري کې ټپیان شوي دي. | یوناما تأیید کړه چې ۱۴ تنه ملکیان چې په هغه کې ۷ نارینه ماشومان، دوه انجوني (ماشومان) او دري ښځي په پیښه کې ټپیان شوي دي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۳۰<br>الف<br><br>۳۰<br>ب | د ډیسمبر په میاشت کې یو تحقیقاتي ټیم د کابل د اداري لخوا کاپیسا، کندهار او<br>پکتیا ولایتونو ته ولیږل شو چې د ملکي مرګ ژوبلي د پیښو څیړنه ترسره کړي.<br>دغه ټیم چې د محمد طاهر صافي لخوا یې مشري کیدله خپل تحقیقات بشپړ کړل<br>او د ډیسمبر په ۲۴ نیټه یې رسینو ته د خپلو تحقیقاتو پایلې څرګندي کړي: د<br>کندهار، کاپیسا او پکتیا په ولایتونو کې ټول تلفات د ملکي خلکو وو؛ چې د<br>بهرنیو ځواکونو دبمباریو له کبله رامنځته شوي وو. د هغه د راپور په اساس ۷<br>ملکیان شهیدان او دوه نور هم ټپیان شوي کله چې د کندهار ولایت د ژیړي په<br>ولسوالۍ کې د نا ټو ځواکونو هوايي بریدونه ترسره کړل؛ همدارنګه دوه نور<br>ملکیان د دې ولایت د میوند په ولسوالۍ کې شهیدان شول. د کاپیسا ولایت د<br>تګاب ولسوالۍ د بهادر خیلو په کلي کې ۷ ملکیاو شهیدان شوي او دوه نور هم<br>ټپیان شوي دي. | یوناما دواړه پیښي تأیید کړي.<br><br><u>۳۰ الف، ژیړي ولسوالۍ کندهار</u><br><br>د نومبر د میاشتي په ۲۲ نیټه لړ. ترلړه ۷ ماشومان ووژل شول او یو<br>بل ملکي ټپي شو کله چې ایساف ځواکونو د کندهار ولایت، ژیړي<br>ولسوالۍ د سیاچو په منطقه کې په ملکي کورونو هوايي برید ترسره<br>کړ.<br><br><u>۳۰ ب، تګاب ولسوالۍ کاپیسا</u><br><br>د ۲۰۱۱کال د اکتوبر په اوله نیټه د اتو بجو په شاوخوا کې د کاپیسا<br>ولایت، د تګاب ولسوالۍ د جکیلان په کلي کې یوه وړه چاودنه وشوه<br>چې ۷ تنه یې زخمیان کړل. |